# په لاره ځم

# تو له زنگېږم

(د امریکا یونلیک)



Ketabton.com

سیده حسینه گل

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په لاره ځم
# تو له ځنګېږم

**(د امریکا یونلیک)**

**سیده حسینه ګل**

۱۳۹۴ ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# كتاب پېژندنه:

د كتاب نوم: په لاره ځم ټوله ځنګېږم

ليكواله: سيده حسينه ګل

خپرندی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنګي څانګه

ويبپاڼه: www.melitahrik.com

كمپوزګر: سليم ناښاد

ډيزاينګر: ضياء ساپی

پښتی ډيزاين: فياض حميد

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوكه

چاپكال: ۱۳۹۴ ل كال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۳۲)

يادونه: د چاپ حقوق له ملي تحريک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسوليت ليکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترون

د هلمند په نوم چې په دې ټول تګ کې زما ملګرى و او بيا يې د ابدي سفر په لور خپل تګ پيل کړو.

د خپل ځواني مرګ ورور اعجاز علي شاه شهيد په نوم چې د خپلې کورنۍ د قافلې نه د پنځويشتو کالو په عمر کې بېل شو او ټول يې ويرژن پرېښودل ــــ!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

خپله دا وړه غونډې هڅه په ډېره مینه او احترام هاغه پښتنو لیکونکیو ته ډالۍ کوم چې پښتو ژبې او ادب ته یې په زړه پورې یونلیکونه ورکړي دي او د پښتو ددې مد کمی یې برابر ساتلی دی.

میا اکبر شاه ته ډالۍ چې د ازا د ی تلاش یې پښتو ژبې او ادب ته پیرزو کړو.

محترم طاهر اپریدي چې په دې لاره کې یې ډېر ګټور قدمونه اخستي دي-

خدای بخښلی افضل شوق چې دا کار یې په نظر کې ساتلی وه.

په تېره تېره سیده قانته بېګم چې "زما سفر" ته یې کتابي بڼه ورکړې ده.

دغه رنګ د بره وطن درانه لیکونکي پوهان استاد اسمعیل یون او استاد لال پاچا ازمون ټولو یونلیکونکیو ته چې زما د فکر او قلم واګې یې په دې لړ کې ټینګې ساتلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترځ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څو خبرې

## د خصوصي مننې سره

د ډېر اوږد او زړه چاودي انتظار نه پس "په لاره ځم ټوله ځنګېږم" ـــ ستاسو مخې ته دی ـــ په دې هيله چې ستاسو مينه ماته کړي... د تګ ليك يا يونليك د روايتي رنګ او چوکاټ نه لرې بهر دی خو کوشش مې دا وه چې د خپل ژوند د دې حقيقي او لوی سفر ټولې خاطرې تاسو سره په يو ځانګړي رنګ او خوند کې شريکې کړم. په دې کې به څومره کاميابه شوې يم؟ دا خو به تاسو وايئ ـــ خو زه يوځل بيا د هاغه ټولو مئينو مينه والو مشرانو کشرانو، استادانو ډېره مننه کوم چې پرله پسې يې د دې يونليك د چاپولو مينه او خوښي څرګنده کړې ده. د ګران عبدالوحيد ګران او ساحل يوسفزي مينه که ونه ستايم زياتی به وي چې په دې مسوده

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې خپل نظر اچولی دی او د چاپ سند یې راکړی دی. د لوی پوهاند استاد فیض الوهاب فیض هم مننه چې بیا بیا یې د دې کتاب د خپرېدو عمل ته ی زه هڅه ولې یم.

د ملګري عبدالروف عارف او ګران لطیف شاه شاهد هم د زړه نه مننه کوم چې هر کتاب ته مې سترګې په لار وي. د ټولو لوستونکیو هم مننه.. خو د ګران فیاض حمید او ضیاء الرحمن ضیاء هم مننه چې د کمپوزنګ په مد کې یې خپله خواري په مینه وکړه او د سر ځنې د پاره د سلیم ناشاد هم مننه چې د دې کتاب ایډیټنګ یې وکړو. ځار شم له ټولو.

په درنښت

سیده حسینه ګل

مردان، مقبوضه پښتونخوا

۱۹م اکتوبر ۲۰۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـا طبعيـت نـن نسـبتاً ډېـر خـراب وو، د پـلار کـره يـوه ورځ مخکې راغلې وم، د ژوند د تېرو وختونو د ياد تـازه کـونې پـه غـرض مې ډېره اچولې وه، خپـل دواړه ورېرونـه، اعجـاز ثـاني او ارمـان علي شاه راسره خواکې ناست وو، درې کلن ارمـان جـان خـو داسـې خـوږې خوږې خبرې کولې چې په اورېدو مې داسې ګڼله لکه چې خپـل تېـر وخت مې يوه خوږه سندره راخستې وي...

تاته به زه ډېر ممونه راوړم...

د (ډېـر) کليمـې سـره بـه د هغـه غټـې غټـې سـترګې لـږې نـورې خلاصې شوې، مابه بې اختياره خپلې سينې ته راجوخت کړ.

دې دوران کې زمـا پـه ټېليفـون يـو زنـګ راغـی،زمـا د هېلـو سـره بلخوا يو نارينـه پـه اردو ژبـه راسـره لـومړی خپـل پېژنـدګلو وکـړه، زه اظفر اقبال د امريکې د سفارت اسلام اباد نه خبرې کوم...

زما حېرانتيا لږه ډېره شـوه چـې داسـې حـالاتو کـې لـه داسـې ځايـه زما سـره د چـا څـه کـار پېښـېداي شـي؟ خـو ډېـر زر راتـه هغـه وويـل؛ زمـوږ سـفارت پـه امريکـا کـې ديـوې ادارې لخـوا د يـو کتـاب د مـخ کتنې دستوره کوي چې پکې ستاسـو نظمونـه هـم چـاپ دي! او ماتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه کتاب خیال راغی چې څو ورځې د مخه ماته د ډاك په واسطه ترلاسه شوي وه، دغه کتاب چې د ماډرن پوېټري اف پاکستان ... ترسرلیك لاندې هم دغه رنګه یوې ادارې خپور کړی دی، دپاکستان د ټولو ژبو د نوموړو شاعرانو ذکر او انګرېزي ژباړې پکې موجودې دي.

زما ذکر هم پکې زما د ځینو نظمونو سره راغلی دی، اوس اظفر اقبال زما د (هو) او (نه) په تمه وو...

هغه بیا بیا په دغه پروګرام کې زما د ګډون دیقیني کولو او یا زما د انکار فېصلې ته اتال وو، زه د هغه پدې دومره تلوار لږه فکر واغستم ځکه چې دا وخت زه د کورنه بهر وم، او د دې لپاره د کور د ټولو غړو سره صلاح مشوره کول وو.

اظفر اقبال ته مې دومره وویل:

تاسو ته به ماښام زنګ درکړم! هغه اوکې وویل-

او فون یې قطع کړ، زه د لږه وخت د پاره کټ کې کېناستم او فکر مې په یو داسې صورتحال کې ګیر شو چې زما د ژوند، او نسل د بقا سوال یې مخې ته وو، (هو) بالکل!!

ددې خوشحالۍ زېری ماته یو څو ورځې وړاندې ډاکټرې راکړی وو، مبارك! شه د ځان ډېر خیال ساته ته مور جوړېدونکې یې !

او د کله نه چې دا خوشحالي زما په ژوند کې راګډه شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د وخت نه مخکې ما خپل ځان د (مور) په رنګ کې دخپل بچي د پاره ډېرې مينې سره ليدو، مابه خپل ورکوټی وراره هم په دغه جذبه خپلې سينې ته رانزدې کړو... د هغه په معصومه ځېره کې به راته د خپل راتلونکي ماشوم کړه وړه ښکارېده، ګوره! ته خو بلکل لکه د هغه يې، غونډ مونډ تك سپين، ګوره! ورانې به بېخي نه کوې، ښه... ګنې بيا به دې ووهم... او ځان به خو هډو سخا کوې نه...! هن! واخله دا ټول ممونه ستا دي...

اف ژاړه مه! زما په زړه څه چل کېږي ...

يو خوا که د دې ټليفون سره زما د امريکې د ليدو ارمان هم زما په زړه کې را ولاړ شوي وو نو بلخوا د دې دومره اوږد سفر سره تړلی زما د راروان ماشوم د ژوند او سلامتيا لپاره ډېرې خطرې هم مخې ته وې، زه د څو شپېو لپاره په يوه عجيبه کشمکش کې وم، خو زما دې خبرې ته د سره پام نه وو چې د هغه کس نه مې دا معلومات کړي وي چې پروګرام کله دي؟ لږ وروستو مې خپل کور وداني وارث خان ناياب ته په فون ټول حال ورکړو...

هغه هم زما نه ړومبی دا پوښتنه دا وکړه چې پروګرام کله دي؟ ماورته په ډېره سادګۍ اوويل چې داخو مې خيال نه وو، ناياب راته اووې فون ورته وکړه چې پته ولګي بيا به سوچ کوو، هسې هم نن سبا کې ستا صحت د دې خبرې اجازه نه درکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نایاب خبره په خپل ځای صحي وه، د پلار کره خو مې ټولوته ووئیل، ورندار مې چې زما د یك یو نیازبین ورور کور ودانې ده، او په خپله هم ډېره مینه ناکه جینۍ ده، سم دستي یې د حېرانتیا سره په پوزه ګوته کېښوده، ویې هني ګل!! ته چې ناجوړه یې---

دهغې دا خیال وو، لکه چې سبا جهاز ته خېژم، ماورته په برق برق وخندل...

نا کله به وي؟

خو کله به وي؟

دا ماته هم نه وه معلومه ماسخوتن مې په هاغه شمېره فون وکړ، اظفراقبال راسره په ډېر احترام خبرې شروع کړې... ورمبی تپوس مې د پروګرام د نېټې وکړو، هغه چې کومه نېټه راوښودله نو هغې خو زه نوره هم په فکر کې ډوبه کړم، پروګرام د راروان کال ۲۰۱۱ د اپرېل میاشت کې ټاکل شوي وو او دا د راروان کال ستمبر ورځې شپې وې...

ما زر زر د لاسو د ګوتو په بندونو د خپلې بیمارۍ د نېټې د ورځو شپو حساب وکړ، هو! اپرېل خو به زما د بیمارۍ اتمه میاشت وي او پښتني مشرانې دا خبره کوي چې د داسې ښځې لپاره دا میاشت ډېره د خطرې وي، ولې چې که په دې میاشت کې د ماشوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېدایش وشي نو د وخت نه وړاندې وي، او ماشوم ژوندي نه پاتې کېږي.

دغه وخت مې د داسې مشرانو د خولې یوه یوه خبره رامخې ته کړه، بیا مې زر خپل لاس په خپله خېټه کېښود، د خېټې په اندروني دنیا کې یو نوي ماشوم د خپل وجود د رغونې د عمل سره مخ وه، خو ماته به یې شېبه په شېبه هم د څه علاماتو په شکل کې د خپل وجود احساس راکولو چې په مابه سر وګرځېده، سترګې به راباندې تورې شوې او فشار به مې وغورځېدو، خو دې علاماتو سره چې د ژوند د کومې خوشحالۍ تصور تړلی وه، زه په هغه تصورډېره په طاقت کې وم، ماچې د خپل فن او هنر کوم تخلیقات دا دومره کلونه کړي وو نن که امریکې ته چا بللم نو په دغه تخلیقاتو زما دننه یو سوال راپورته شو ته خو د پخوا نه د تخلیق د عمله تېرېګې، شېبه په شېبه خو زما ښځینه فطرت دغه راپورته شوي سوال ته خپله یو ځواب شو، زه ښځه یم، د ټولونه بهترین تخلیق زما لپاره زما بچي دي... او زما دننه دغه عمل روان وو، دهغه تخلیق لپاره به لا زه د خپل وجود د ډېرو تکلیفونو نه تېرېدم هاغه پړاو ته لا ډېر وخت وو، خو نه ــ زه خو د دې عمل د شروع کېدو سره یوه مور جوړه شوې یم....

زما بچي زما په غېږ کې وو.ماته یې مسکې مسکې کتل دا د چا بچي دي؟ ډېر واوه بچي دي، ډېر وران بچی دی... نه ...نه ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوکو دی ـ د خپل بچي د زړا په اواز به زما غږ او احساس د زمزمې رنګ واخیستو، الله هو! پیشو راغله د بانډو!! او بیا به زما بچي په مزه مزه په دې زمزمه خپلې سترګې پټې کړې...

ماته لا ډېر وخت وو، خو د دې وخت د یوې یوې تېرېدونکې لمحې وخت په سر ما د خپل هنر او د خپل فن هر تخلیق هم د زړه نه کولو، اوس زما دنیا بدله وه، زما د کور دنیا بدله وه، زما ناسته ولاړه تله راتله ډېر د احتیاط وو، د خوابښې مور دا غږ به هر وخت په ما پسې لکه د څاروونکې اورېدي شو.

پام کوه!! چې دروند کار ونکړې، او زما مئین د ژوند ملګری خو به په ولاړه زما نه څارېدو، تاته د خوراك ډېر ضرورت دي، هغه به زما د ارام او خوراك اوس ډېر خیال ساتلو ـ اوس په دې هرڅه کې زما د امریکې د تګ سودا هم د ټولو مله وه، په داسې حال کې به څه لاړه شي خور!! دابه زما د کشرې خور د خپګان نه ډکه یوه خبره وه چې په داسې حال کې زما روغه څټه او زما د بچي ژوند او سلامتیا ورته ډېره اړینه وه، زما د هستۍ شته کېده یې لوي ارمان وو، خو د امریکې تله یې زما لپاره یو اعزاز ګڼلو، په کور کې یو بحث پیل شو، وخت هم روان وو، خو د دې هر څه باوجود زما مشر لېور دا صلاح راکړه چې فلحال ته د تګ لپاره (هو) وکړه حالاتو ته به ګورو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډاکټرې سره به مشوره کوو که چېرې ډاکټرې تاته د سفر اجازت درکوو نو الله به یاد کړو، ته په ذهني توګه ځان تیار کړه او په خپل پروګرام د دغه کس نه ځان ښه پوره پوي کړه، چې تاته به هلته څه کول وي؟ څو ورځې به هلته ایسارېږې؟ دې دوران کې به اظفر اقبال زما سره په فون اړیکه خامخا ساتله او چې کله مې ورته د تګ لپاره (هو) وکړل نو بیا یې زما برېښنالیك(ایمېل) هم زمانه واخیسته، او هغه یې هغې ادارې ته ورکړ، چې دا پروګرام یې جوړ کړې وو.

د امریکې د اسیا ټولنې له خوا هرکال داسې دستورې تر سره کېږي چې د نړۍ د ټولو هېوادونو نه پکې هغه خلك غوښتل کېږي داسې خلك چې د فن اوهنر سره وي، د دغه کسانو لپاره هلته کولتوري پروګرامونه جوړېږي، اوس به په دوېمه او درېمه ورځ د دغه ادارې لخوا ماته یو نه یو برېښنالیك خامخا راتله، ماسره کور کې د انټرنېټ اسانتیا نه وه، خو زما دغه رابطه به د نایاب په ایمېل دهغه په دفتر کې کېده او چې غرمه به د دفتر نه کور ته راغی نو سمدستي به یې د نېټ نه اغستی د ایمېل نقل ماته حواله کړ.

مابه په تلوار تلوار ولوسته، دې ادارې داخل د پاکستان نه دوه ښځینه شاعرانې منتخب کړې وې چې تعلق یې د بېلابېلو ژبو او سیمو سره وو، زمانه علاوه د پاکستان د اردو ژبې لویه لیکواله

(c) ketabton.com: The Digital Library



فهمیده ریاض هم دغه پروګرام ته غوښتلي کېده، زماد پاره خو د ویاړ خبره داهم وه چې د سندهـ سیمې د ډېرې پیاوړې شاعرې سره سم زما نوم هم انتخاب شوي وو.

هغوي د هر څه نه لومړي خپل پروګرام موږ ته واضحه کړ، چې پدې ټګ راټګ کې کومې کومې اسانتیاوې شته موږ یې ترې خبر کړو، ټګ راټګ، خوراك څښاك، استوګنه دا هرڅه د هغوي په غاړه وو خو د نغدو په صورت کې یې مېلمنو ته کومه اعزازیه نه ورکوله دا ټولې خبرې یې په ابتدا کې په موږ ښکاره کړې د امریکا د نوم سره که یو خوا د یو لوي سامراج تصور تړلي دي، په خصوصي توګه د مسلمانانو ورسره یوه ناخوښي هم جوړه ده، خو بلخوا د پښتنو لپاره دا قوم نور هم لاډېر د ناخوښۍ نوم دي ځکه چې د افغانستان نه د خپلو ګټو په اخیستو کې یې دهشتګردۍ یوه نعره په ټوله نړۍ کې وهلې ده.

او یو داسې جنګ یې په پښتنو ورتپلي دي چې د پښتنو ورسره هېڅ تعلق نشته او نن چې په دنیا کې څومره زیاته وینه د پښتون بهېږي دومره لاد بل چا نه بهېږي، خو خبره بیا هم هاغه چې خبره د ډالر ده، هم د دغه ډالر سر خوړلي له لاسه هر قام امریکې ته سلامي دي.

اوبیا د امریکې لیدل، امریکې ته ټګ خو د هر چا ارمان وي، ماته خو خداې په وړیا یوه داسې موقع راکړې وه، نو زما فکر هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس د امریکې د ښارونو د هسکو هسکو عمارتونو په څوکو ښخ وو، تصور به مې لکه د مارغه د امریکې د اسمان او فضاګانو سېلونه کول خو چې خپلې ناروغۍ ته به مې پام شو نو د امریکې تګ به راته یو خوب ښکاره شو، خدایه! چې پدې کې به ستا څه راز وي؟ یو خوا د امریکې نه بلنه راتلل او بلخوا زما ناروغي شروع کېدل...

خو! د امریکې ویزه هم پر پاسپورټ لګېدل څه ټوکه نه وه.

کېدای شي ویزه درنکړي! دابه مې د بلې خور یوه داسې د حالاتو تجزیه وه چې په میډیا او روانو حالاتو یې یو نظر لرلو، داخو ده...

دهغې د دې اند ښېښنې سره به ما اتفاق وکړ، مابه هم چې د دنیا په کچ په روانو حالاتو نظر واچولو په خپله سیمه به مې د ترهګرۍ لګېدلي اور ته وکتل نو د امریکې تګ به مې د لېوني خوب ګاڼه.

د چا نه چې به مې اورېدل نو د امریکې د ویزې نه به مایوسه شوي وو، پداسې حالاتو کې به زما په پاسپورټ د امریکې ویزه څه ولګي؟ دا یو داسې سوال ووچې د حالاتو د کومې نه راپېدا شوي و، د دې بحث او تبصرو سره وخت تېرېده، خو ورسره ورسره هاغه خوشحالۍ ته هم د ټولو سترګې وې چې زموږ د کور د چُپتیا سینه به په خپل غږ، خپلې ژړا، خپلې خندا او خپلو معصومو اداګانو څیرې کړي، زه په کور کې د ټولوکارونو نه فارغه کړې شوې وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د ارام او خوراك به ډېر زيات خيال ساتلي شو، په هر چا د لسو مياشتو دا سفر لكه د كلونو تېرېده، هره مياشت د ډاكټرې معاينه كول خو په ما لازمه ګرځولې شوې وه، او دا ځكه چې دا واده نه پس يو ځل مخكې هم زموږ يو ماشوم د ډاكټرې د بې غورۍ له سببه ضايع شوي وو، د هغې نه پس هم په هاغه مرحلوكې ډاكټرې په ډېر احتياط ماته دا خبره كړې وه، چې ستا د بل ماشوم د پېداكېدو امكانات پنځوس فيصده ختم دي، كېداي شي ماشوم وشي كېداي شي ونشي!

د ډاكټرې په دې اند ېښنه د كور په ټولو وړو لويو لكه چې د مايوسۍ نه د ټوپك ډز شوى وي خو ما بيا هم په ډېر صبر او استقامت د ډاكټرې دا خبره واورېده پدې كې لوي لاس زما د ژوند د ملګري وو. چې د حوصلې او استقامت يو غر دي، په ډېره مينه او محبت يې زما ذرې ذرې وجود پدې دعوه راغونډ كړ چې ماته ته پكار يې بچي نه او دا دعوه يې په حقيقت كې ثابته هم كړه په هر قدم يې ماته دومره مينه او اعتماد راكړو چې ماته په خپل ژوند كې د اولاد د محرومۍ احساس هډو شوي نه وو، دابه يې هم ويل چې ته يوه عامه ښځه نه يې! قدرت به ستا نه كوم بل كار اخلي، بس خپل مقصد په نظر كې ساته او مابه په ظاهره د هغه ټولې خبرې په زړه پټې خو كړې خو خپل خالي وجود او تشې غېږې به وزورولم، نو كال پس زما د اولاد اثار پيدا كېدل څه وو چې په كور كې بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختره اختر شو خلکو د وړاندې نه د راروان ماشوم د بختوروالي وړاندوينې کولې، خو د ويرې وجه وه که بل څه خو ماته د خپل بچي په هکله ډېرې اندېښنې وې، کله کله چې به مې سږُغُز په درد شو نو زما وار به خطا شو، چې لږه به سمه شوم د الله شکر به مې ادا کړ، پداسې حال کې د امريکې د تګ نوې مشغولاتر ډېره حده زما فکر د خپل ځانه لږ لرې وساته.

اوس به مې د خيال د بلې نه د امريکې د ښارونو نيويارك او هوسټن نظارې کولې او د خپل تخيل په زور چې څومره خايست ما تصور کولې شو مابه دغه دواړه ښارونه په هغه معيار ښکلي ليدل، ځان به راته د دې نوې دنيا د کوه قاف په سر را الوتي بې وزرو هاغه ښاپېرۍ ښکارېده چې زموږ د ماشوموالي د دور د معصومو او پاکو جذبو يو ښکلي جهان به يې پخپل ځان کې نغښتي و، خو په اصل کې دا د يويشتمې پېړۍ د دوېمې لسيزې دور وو، د جنګونو د اورونو دور، د بمونو او ميزايلو دور، د پښتنو د وينو د توېيدلو دور او د بادار د مقصدونو د ترلاسه کولو دور..

اظفراقبال به کله کله په ټيليفون ضروري پوښتنې کولې، ډېر معلومات به يې ماته هم راکول، هغه په اسلام اباد کې د امريکې په سفارت کې د عامه اړيکو په څانګه کې کار کوي، خو د دې رابلونکو سره يې رابطه هم په غاړه وه، هغه راته وويل چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



باقاعده کاغذي کاروايي او سفري دستاويزاتو د شروع کونې کار به تاته د یو فارم د درلېږلو په صورت کې پيل شي.

هغه به په ډېر غور لولې او د قناعت وړ ځوابونه به يې وليکئ!، خو دې سره سره که ستا پاسپورټ جوړ نه وي ته خپل پاسپورټ جوړ کړه!

زما پاسپورټ خپل معياد باېللي وو، ځکه نو د هغې د نوې کولو مرحله هم دومره زړه چاودونکې وه څومره چې د نوي پاسپورټ د جوړېدو وي، زما مخې ته يوه بله مسله هم پرته وه، د پاسپورټ نه مخکې ماته خپل شناختي کارډ بدلول وو، دواده کړې ښځې د حيثيت سره دغه بدلون لازمي و، خو د هغې نه هم مخکې يوه بله مهمه مرحله وه هغه د کمپيوټرايزډ نکاح ليك جوړول وو، د هغې لپاره هاغه ټول اړين کارونه تر سره کېدل پکار و، زما او د وارث خان ناياب نکاح بيا تازه کړي شوه، اوس دغه نکاح ليك د يونين کونسل نه د څه ضروري کارونو نه وروسته کمپيوټر ته حواله شو، او درې ورځې وروسته دغه نکاح ليك تيار شو اوس د پېژندپاڼې(شناختي کارډ) د بدلولو لپاره د شناختي کارډ دفتر ته تګ و، دا د جنورۍ مياشت وه، سحر په ډېر يخ کې وختي وختي چې زه خپل لېورزي عدنان ايوب په خپل موټرسايکل د دفتر پر لور بوتلم، نو هوا لکه چې دواوري پشان يخه وه، موږ د ارجنټ شناختي کارډ د وصولۍ لپاره لازمي پېسې جمع کړې او د شناختي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارډ د دفتري عملې د نورو راغلو کسانو په نسبت زموږ ښه هر کلي وکړ، یوه ښکلې د پردې خونه کې یې په سهولت کینولم، لږه شېبه وروسته یوې خایسته پېغلې چې نقاب یې لګولي وو، زمانه، زما زوړ شناختې کارډ بېرته واخیسته، ما داسې وګڼله لکه چې د ژوند ډېرې زړې حوالې، زړې خپلوئ د نوو حوالو او نوو خپلوو رنګ اخلي، د نوي شناختي کارډ لپاره یې د نایاب شناختي کارډ هم له نظره تېر کړ، دهغه یو نقل یې هم د نورو کاغذونو سره جمع کړ او داسې په نیمه ګېنټه کې یې زموږ ټول کار او کاغذیي کارونه ډېره په منظمه طریقه سرته ورسېده.

د وصولۍ تاریخ او ټوکن یې راکړ ، د نوې پېژندپاڼه(شناخت کارډ) د وصولۍ لپاره اته ورځې نېټه موږ ته ښودلې وه، او ټیك په اتمه ورځ نایاب په هاغه ټوکن زما نوي شناخت کارډ، کوم چې دهغه نوم او درشتې د نوي حېثیت او حوالې سره جوړ شوي وو، د ځان سره راوړو، اوس راروان پړاو د پاسپورټ جوړول وو، دغه رنګ د ارجنټ پاسپورټ لپاره هم خپل نزدې د پاسپورټ دفتر ته ورغلو، د ټولو ضروري کارونو نه وروسته یې هم که موږ ته یې نېټه یوه راکړې وه خو پاسپورټ یې په بله راکړ، اوس د ایشیا سوسایټۍ ټولوغړو خپلې اړیکې زموږ سره نورې ټینګې کړې، هره ورځ به یې برېښنالیك کوه، او بیا یوه ورځ راته دهغوي په لورې هاغه پوښتنلیك فورمه ترلاسه شوه، په هغې کې د رسمي او غیر رسمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنې درج وې، چې مابه وخت په وخت په اظفراقبال نه پکې مشوره اخسته.

که چېرې د پروګرام نه وروسته ته ایساریده غواړې؟ په فارم کې دې پوښتنې زما د فکر مطابق ماته یوه موقع په لاس راکولې شوه چې هلته د پاتې کېدو په صورت کې زما د ماشوم پېدایښت ممکن کېدې شو. ما د نایاب سره په دې اړه خبره وکړه، که داسې وکړم څنګه به وي؟ هغه زما په خبره لږ فکر ښکاره کړو.

ریښتیا هم چې هغه هم د خپل بچي ښه مستقبل په دې کې لیده چې د هغه ماشوم دې هلته پېداشي، داسې به نوي ماشوم د امریکې استوګن شي، خو زما د یوازیتوب احساس او بیا پدې مرحله کې د انسان د مرګ او ژوند ترلې ټولې ویرې او اندېښنې د هغه د سترګو پر وړاندې وې...

ټیك ده ښه به وه خو که زه درسره وي!!، دا د هغه یوه داسې خبره وه چې زمونږ د ژوند د مجبورو او بې وسیو احساس ترې کېدو اوس خو چې چاته پته لګېده چې د امریکې تګ او د ماشوم د راتګ وخت لګ بګ دي نو دا مشوره به یې خامخا راکوله چې پردې او دومره لرې هېواد کې د یوې یوازې ښځې پداسې حال کې پاتې کېدل او اوسېدل هم اسانه خبره نه وه، کله کله به د ډېرو خلکو پدې یوه خبره چې خلك د دې لپاره په لکونو روپۍ لګوي او تاته دا موقع وړیا په ګوتو درغلې ده... سوچ به واخیستم د خپل بچي د روښانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سباوون لپاره به مې د خلکو د خبرو سبره اتفاق راپېدا شو، پخپل اعتماد او فکر به مې ډېر سوچونه وکړل ډېر کارونه به راته اسان اوښکارېدل خو ډېر به ګران وو، که زه مړه شوم نو بیا...؟

د دې سوچ په راتلو به مې په خپله لمن کې راجمع کړې د خوشالو ټولې ملغلرې له لاسه ورکړې، د فکر او سوچ پیوند کړي زنځیر به بیا وران شو.

یو ځل خو مې پټه شان دا خبره د خپلې ورندارې سره هم کړې وه، هغې زما د ماشوم لپاره داسې جامې او شیان برابر کړل چې د هاغه ځای د موسم مطابق وو، دا ټولې خبرې په خپل ځای لویه مرحله خو لا د دې سفر په سرپرته وه (د امریکې د ویزې ترلاسه کول).

پدې لړکې به مارټین رېکر چې دا پروګرام یې جوړ کړي وه، اکثر به یې ویل چې موږ ته د وېزې په ترلاسه کولو کې څه ستونزې مخې ته دي، خو کوشش کوو چې دا مسلې اخوا شي، د مارټین پداسې اندېښنو به کله کله زما ټولې تمې بې دمه شوې، اوس خو دې سفر سره زما یو داسې غوښتنه او خوشالي تړلې وه چې زما د پاتې ژوند او کورنۍ لپاره د ډېرې اسودګۍ باعث ګرځېده، ما د خپل ځان ډېر خیال ساته.

او بیا هاغه ورځ هم راغله چې زما ډاکټرې په التراساونډ ماته په نارینه اولاد زېري راکړ، زه په دې خبره د ډاکټرې د سترګو په ځلا او د شونډو په نرۍ موسکا زر د تختې نه را ولاړه شوم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه! زما د خولې نه د (ښه) لفظ ډاکټره په حېرانتيا کې واچوله ته خو اول خوشحاله شوې خو بيا دې د څېرې تاثرات بېخي بدل شول، ولې؟

د ډاکټرې نظر د ژوند او د ډېرو انساني څېرو د تغير او تبديلۍ نه وتلي و، زه دهغې په دې مشکل سوال ډېره په ګرانه کې شوم، هسې بس!...

ما زر وخندل، اصل کې زموږ په کور کې زما د مشر لېور ټول زامن دي نو د دغه ټولو هلکانو د اغوښتنه وه چې زموږ د کاکا دې (لور) وشي، ډاکټرې په برق برق وخندل، هاغه ټولو هلکانو ته ووايه چې که ستاسو خواهش جينۍ ده نو ماته ضرورت د هلك دي!. ډاکټرې په دې پسته خبره زه ډېره په مزه د تختې نه راښکته کړم، پښتنه ټولنه او د دې اکثر وګړي د نارينه اولاد ډېره غوښتنه لري خو په وړمبي ځل دې ډاکټرې د يوې داسې کورنۍ کېفيت ليدو چې د نورور پښتنو نه يې سوچ جلا وو.

په ورو ورو زه هم په خپل احساس پوهېدم زما دننه هم د خپل نارينه بچي مينه په غورځنګ شوې وه، د کور ټول لوي واړه اوس د ورکوټي (ککي) په تمه وو...

او کله چې مې ماسخوتن د وارث نه تپوس وکړ، ته خوشحاله يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې نه... خو لومړي ستا روغ صحت وروسته هلك، جلي!!.

هغه یو ځل بیا زما د ژوند او خپل بې شانه محبت لپاره په ډېر استقامت زما د سوال ځواب راکړ، نوم به یې څه وي؟

مایو ځل بیا هغه وچېړلو، هلمند ختهك او ماپه زوره زوره وخندل په ټول کور کې یو نوي بحث د نوي خوشحالۍ سره روان و، خو د امریکې تګ پکې یوه داسې موضوع ګرځېدلې وه چې هرسحر به د نغري په غاړه د لویو ورو دا یوه خبره وه، خو وارث خان به د دې بحث نه ځان د خپلې فطري حیاء له سوبه په ډډه ساته، د هغه خبرې د هغه ټولې کیسې به زما د امریکې د سفر سره د تړلو اندېښنو وې، د هغه خیال دا و چې په دې تګ به زما په اعتماد کې اضافه اوشي زما د لیك او تخلیق سلسله به نوې لارې اوپېژني، د دې سفر لپاره هغه زما د تیارۍ ټوله ستړیا په خپل سر اخیستې وه، زما د سفر لپاره ضروري سامان، جامې جوړې، بېګ او داسې نور... د ضرورت شیان یې راته په ډېره مینه راوړل.

دې سره سره زما د صحت او ارام خو په ټول کور کې ټولو خیال ساتلو. د وخت د تېرېدو سره سره ماته د خپل وجود دروندوالي او وزن د زیاتي احساس کېده او دې نوي اغستونکي وزن به په ما ډېره ستړیا راوسته، د خپلې یوې ملګرې نګار روف ذکر به خامخا کوم چې یو کال د مخه یې په امریکې دغه رنګ یوه دوره کړې وه، د هغې نه چې به مې د دې اوږد سفر پرله پسې د الوتکې په چوکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ابغې نبغې ناستې ذکر واورېده نو د اوس نه به مې په ملا نري نري درد راغی، بیا به مې سوچ وکړ چې دا د دې سفر نفسیاتي اثرات دي چې په ما یې د وړاندې نه تاثیر کړی دی.

او دا ځکه چې زه د بیمارۍ په حالت کې وم، ګڼې نو امریکې ته خو خلك ځي راځې دغه سفر کوي په دې کشمکش کې د امریکې د تګ زما ټولې تیارۍ روانې وې په دې دوران کې یوه ورځ د ډیوه راډیو امریکه نه ناهید سحر چې یوه ښه د پښتو ژبې شاعره هم ده د هایکو په صنف کې یې نوې نوې تجربې کړې دي او د تېر څه وخت نه دې لوی نړۍ والې نشریاتي ادارې سره کار کوي، فون یې وکړ د رسمي دعا سلام نه وروسته زما د هیلې سره سم یې زه نن خپل یو پروګرام لپاره پابنده کولم، دغسې ادارې اکثر ادیبانو، شاعرانو ته د وړاندې نه فون وکړي چې نن شپه به د دې پروګرام لپاره ستا موجودیت لاژمي وي، شاعران ادیبان چې زیات تر پداسې خپرونو کې برخه اخستو ته چمتو ناست وي خو ډېر پکې لکه زما د بل د مخ نه نشي تېرېدي، او د دې پابندۍ لپاره به ورته ښه وکړي.

بیا خدای دې مل شه که کور کې دې حالات هر څنګه وي!، موبایل به ورته ښه چارج کړې، وخت ته به ګورې او زنګ ته به دې غوږ وي! دا یوازې د دې لپاره چې ستا اواز د دنیا ګوټ ګوټ کې واورېدل شي، زه دا نه وایم چې پدې وسیله شاعر ادیب خپل د امن پیغام هم دنیا ته رسولي شي که نه شي. بلکه د شاعر ادیب بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېره مسلې هم دي چې د وطن د ادارو سره سره پرې دغه رنګ عالمي ادارو ته هم نظر او خبرتیا پکار ده، نو خبره مو د ناهید سحر او د ډیوه راډیو کوله، د هغې نه مې هسې د امریکې د سفر لپاره د جهاز د ناستې ولاړې او د نورو سفري ستونزو تپوس وکړ، نو زر یې راته یې وویل: خېر شه راځې څه؟

ما ورته وویل (هو) که نصیب شوي وي، خو ... یوه خبره بله هم ده! زه ورته په خندا شوم، هغه زما د خندا او د پاتې خبرې په معنا د ټکه پوه شوه، نوره خو ښه یې که نه؟ هغې لکه چې زما د خولې نه خبره واخیسته او ما بیا په ټول صورتحال پوه کړه!

جینۍ !! ائرلاین والا خو داسې ښځې ته ټکټ نه ورکوي ـــ! او نه ورته په الوتکه کې د تلو اجازت ـــ! دا دهغې داسې قوي خبره وه چې دهغې د ډېر وخت د تګ راتګ د تجربې نه وتلي وه، ماورته په مات زړه وویل، ښه!.

او بیا چې د ناهید سحر د دې خبرې ذکر به مې د چا سره کولو د هغو به زما سره همدردي راپیدا شوه، مړې خور! ستا راتګ ایله په داسې وخت کې راجوړ شوـ! زما کشرې خور سیما چې زما تګ یې ډېر د کامیابۍ ګڼلو، زما  د ادب او جدوجهد لپاره زما نه به زیاته پدې صورتحال هغه خپه وه، د کاغذونو تله راتله دواړه غاړې ته په دوام کې وو، اوس زه د ایشیا سوسایټي(ټولنه) په کار او زیار پوره خبر وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا ټولنه د دنیا په ژبوثقافتونو کار کوي، هر کال داسې کتابې، فرهنګي او کولتوري مېلې جوړوي چې د دنیا د ټولو ژبو او کولتورونو استازي ورته راغواړي او د هغوي په کار او زیار دنیا خبر وي، ستاینه او ډاډګیرنه یې کوي دا ځل یې د خپلو هم دغو روایاتو په سمون یوه لویه کتابي مېله په دوو لویو ښارونو نیویارك او وهوستېین کې راجوړه کړې وه، او د پاکستان نه یې دوه شاعرانې یې دې مېلې ته رابللي وې، نن چې ماته د مارټېین کوم برېښنالیك ترلاسه شوي وو، نو په هغې کې یې زما نه زما د پاسپورټ د لومړیو پاڼو نقل، زما دوه تصویرونه او ورسره یې زما د ژوند او ادبي سفر یوه لنډه شان پېژندګلو غوښتلې وه، دغه مطلوبه ټول څیزونه زر تیارول وو، زما مشر لېورزي عمران ایوب په ډېره خوارۍ او صفایۍ زما تصویرونه تیار کړل او بیا یې مارټېین ته ایمېل هم کړل، بله ورځ د دې ادارې لخوا مې د رېچل کوپر ایمېل ترلاسه کړ، چې هاغه عکسونه یې د پروګرام لپاره په چاپېدونکي تشهیري کتابګوټي ولګول د ماشوم لپاره د امریکې د قومیت د حصول په لړ کې ماته مې د ملګرو او خواخوږو مشورې جاري وې، زما هم زړه غوښتل چې زما بچي دې د یو امن ناکه وطن غړي شي، خپل ژوند دې هلته وکړي، خپلې سترګې دې هلته وغړوي، د هغه په ژوند کې دې هغه ستونزې نه وي، د کومو سره چې موږ مخ یو خو بیا به مې د خپل ژوند، خپل مرام او د خپلې خاورې سره د بې کچه مینې یو لاژواله تصور مخې ته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماچې ټول عمر د دې خاورې سندرې ویلې دي، د دې وطن د بې وزله ولس غم مې ژړلی دی، د دې وطن د سحر او ماښام نه مې یو الهام اغستي، د دې وطن په وجود د بلو لمبو مې ماتم کړی دی زه خپل بچی ته څنګه د یو پردي وطن پردۍ خاورې شناخت او پېژندګلو ورکړم.

نه! نه...! زه د خپل بچي نه دا پېژندګلو نشم تروړلي، دې احساس زما د سترګو کور نمجن کړ، او دغه وخت زما دننه د مور د جوړېدو روان عمل د یو ترپ سره ماته د خپل ژوند او بېدارۍ احساس راکړ، زما بچي لکه چې زما پدې احساس د ژوند د لومړۍ ساه د اغیستو جوګه شوي وو، ماته یو عجیبه احساس وشو د یوې شیبې لپاره مې خپلې سترګې پټې کړې...

زما بچي زما په غېږ کې وو، په خپلو وړو وړو سترګو یې مسکي مسکي زما څېرې ته کتل، د هغه په مخ د امېدونو یو خور وور جهان ماته ښکارېده، هغه چې به خپلې نرمې پستې چاچۍ را اوچتې کړې نو لکه چې زه به یې د عرش منارو ته وخېژولم ـ خدایه!! د ده دا غونډې غونډې سترګې خو د ژوند د یوې نوې رڼا نمونې دي او بیا د هغه معصومې مسکا لکه چې ماته زما په کړې فیصلې شاباسي راکوه، نه...نه! زه د خپل وطن نه چېرته هم نه ځم، اوس هغه هم یوه فیصله کړې وه، مورې!! ما پردي وطن ته مه پرېګده...! زما نه زما د خپل وطن وجود مه بېلوه! هغه ماته زارۍ کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زویه! دلته چې ستا لپاره امن نشته نو... ما د خپل وطن یو عکس د هغه مخې ته کړو- وي به موري! زه به د خپل وطن لپاره د امن زېري شم... ماته وګوره! زه راغلم، اوس به دلته امن وي! د هغه په څېره کې د یوه لوي عزم او پخې ارادې رڼا ماته له ورایه ښکارېده او داسې به ولې نه وه چې د هغه وجود د هاغه وینې نه خپل وجود موندلو کومې چې د خپلې خاورې سره د ایمان تر حده مینه کوله.

پدې نوي نااشنا حرکت ماته زما د ښځینه وجود د ډېرې نیمګړتیاوې خپل تکمیل ته رسېدونکي ښکارېدې، د کور په لویو ورو لکه چې بیا اختر شوي وي، او بیا دغه حرکت زما د امریکې د تګ ټول حرکتونه په دوام کې کړل. زه نن پېښور ته تلم د امریکې د ویزې لپاره مقرره (فیس) پیسې مې جمع کولې دوه ورځې مخکې چې رچېل کوپرکوم ایمېل رالېګلي وو، نو په هغې کې یې دا خبره لیکلې وه چې که تاته څه اقتصادي ستونزه مخکې ته وې، نو دا پېسې به تاته اوس در ولېږو، خو که ته پیسې لرې نو جمع یې کړه! بیا به یې وروسته د نور حساب کتاب سره تاته اداکړو، په کور کې شل لاتجې مسلې مور ته راپه غاړه وې، د ټولونه زیات لګښت خو زما په بیمارۍ روان وو، ځکه مې درته ولیکل چې زه کوم معاش یا بله د امدن وسیله نه لرم، ښه به داوي چې دا پیسې هم تاسو راولېږۍ، کور یې ودان بله ورځ یې په یو بل برېښنالیك کې زمانه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيسو د رالېږلو اسانه لار (ذريعه) اوپوښتنه چې پيسې پرې لاسي را رسي، ماورته د (وېسټرن يونين) دلار ټول ضروري لوازمات ولېږل او بيا په يو ساعت کې پيسې زموږ ګوتو ته راغلې وې . اظفراقبال پېښور کې مونږ د سپيډيکس کوريير مرکز په ګوته کړو چې دلته به ته د ويزې فيس جمع کوي- ۱۴۰ امريکايي ډالره - ياده دې وي چې دغه اداره د امريکې د ويزې په هکله خلکو ته لاره ګودره هم برابروي، دلته به ما څلورعکسونه هم ورل، په مردان کې مو د يو ښه فوټوګرافر نه چې د امريکې د ويزې او برتانيې د ويزې لپاره دهاغه د تصويرونو د اوښکلو دعوه يې کوله خو چې څنګه مو عکسونه ولېږل نو واپس د رچېل کوپر برېښناليك راغلو چې په ډېره شايسته انداز کې يې د نورو عکسونه غوښتنه کړې وه، ولې چې دغه عکسونه دهاغه معيار نه وو د کوم چې دکاندار دعوه کړې وه خو داځل هغوي د عکس اغيستونکي لپاره څه ليکلې لارښوونې هم رالېږلې وې او ورسره ماته د ا لارښوونې هم شوې وې چې ته زر سپېډيکس کورير ته ورشه دلته د ويزې فيس او څلور تصويرونه د خپل پاسپورټ او د کنفرمېشن لېټر (منښتپاڼه) جمع کړه کنفرمېشن هم يو څو ورځې مخکې رارسېدلې وو خو ماسره د عکسونو فکر وو، چې د مردان انځور اخيستونکي هم مونږ هسې په کړاو کې واچولو د پېښور فوټوګرافر هم رد کېداي شي دا چرته يو بل چکر نه شي دې دوران کې مې د خپل خپګان ذکر د اظفراقبال سره وکړ هغه زما ټول خپګان زما نه لرې کړ . سپيډيکس

(c) ketabton.com: The Digital Library



والا به تاته د تصویرونو انتظام وکړي ـ خبره نوره هم اسانه شوه نن زه او نایاب دواړه د دې مقصد لپاره پېښور ته تلوونکي وو، د کاغذونو ټول فایل مې سره د پروګرام د بلنلیك برابر کړ، خو د سپیډ یکس کورېر هېڅ درك راته نه و معلوم.

د خپل یو ملګري جوهر شاه نه مې د دې ځای د درك پوښتنه وکړه، هغه راته ددې ځای ښه قوي درك راکړ او داسې یې د څه کړاو دغه ځای ته په ډېره اسانۍ ورسېد ، دغه دفتر پېښور صدر کې د پي آیي اي په عمارت کې دي خو په ګېټ یې یوه لویه امنیتي پوسته وه چې د بدني تالاشۍ او د بېګونو کاغذونو د کتو له امله تېر شو نو پدغه ساده غوندې دفتر کې یو ځوان موږ په ډېر عزت کېنولو، ټول کاغذونه یې د نظره تېرکړل. د ویزې د فیس پیسې مې ورته مخکې کېښودې د هغې رسید یې راکړ په پاسپورټ کې یو د سپین کاغذ چټ ولګولو او د عکسونو غوښتنه یې وکړه، ټوله خبره مې ورته وکړه هغه په ډېره اخلاق سره وویل: خېر به شي دلته د دې عمارت مخې ته په مخامخ کوڅه کې یو فوټوګرافر دي هلته ورشۍ! او لږ ساعت کې مو دغه مطلوبه ځای د یو کس نه په پوښتنه راپېداکړه، دلته یو د کچه عمر غنم رنګه هلك چې په هندکۍ ژبه غږېده خو زما سره یې په هندکو کې نیمه نیمه پښتو هم ویله، تصویرونه یې راته وویستل خو د خپل وطن به کومه کومه ستونزه ژاړو، برق لاړه، نو موږ ته یې د عکسونو د راکولو نېټه هم لږه اوږده

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکړه زما خو پدې خبره په زړه تیاره راغله، نایاب البته ډېر په استقامت هغه کس ته وویل چې پیسې به ډېرې درکړو، جنرېټر وچلوه چې زموږ کار اسان شي.

دا د فرورۍ ورځې وې خو موسم نن لږ ګرم وو، یا خو موږ په منډه وو نو هوا راته توده لګېده، هلك ښښنه وغوښته زه نوکر یم؛ د دکان مالك نشته چې، پوښتنه ترې وکړم، زموږ ناسته دلته بې ګټې وه، موږ یو ځل بیا هغه ځای ته لاړو او هغوي مو په ټول جریان پوه کړل، برېښنا(بجلي) هلته هم نه وه،اوس به مو یا دا وخت دلته په انتظار تېروه، تاسو بیا ورشئ او فوټو ګرافر پوه کړئ! هغه به تصویرونه موږ ته راورسوي، داخبره موږ ته اسانه ښکارېده، هر څو که دومره د بیرته تګ سترړیا پکې وه، خو همداسې مو وکړه، نن ماته ګرځېدل ډېر ګران شوي وو، بلخوا چې د کار د نه کېدو یا د نیمګړي پاتې کېدو په وجه چې به کوم بوج زما په مغزو راتله، هغې به زه د تګ نه پاتې کولم، پښې به مې لکه د شلو په شان ارجل برجل کېدې، یو قدم تګ راته په غره ختل ښکارېده، دغسې ټول وخت به یوې بې دمه او سترړیا رانه خپل لاسونه کلك چاپېره کړل، نایاب چې زما دې حالت ته کتل نو په صدر کې یې د تازه مېوو یو دکان ته بوتلم چې د ښځینه وو لپاره پکې د ناستې ځانګړي ځایونه دي. دلته ماکتل چې یو شمېر ځوانان زلمي، ښځې او ماشومان څه خو د خپلو کورنو سره راتلل او ځنې پکې ځانته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو، د یخ شربت خوږ احساس مې په وجود کې دم راوسته، اوس مې داسې محسوسوله چې د خپل ژوند د راروانو دوارو مرحلو نه په خیر او کامیابۍ سره د تېرېدو جوګه یم! د ښځې لپاره د اولاد د زېږون شېبه که د تکلیف او کړاو درانه لري خو الله پاك په خپلو قدرتونو دغه شېبې اسانوي.

او د یو نوي انساني وجود او روح راویستل د ادم (ع) او هوا د راتګ سلسله په دوام کې ساتي، د نړۍ په مخ ډېر روحونه راغلل، ډېر مخونه پناه شول، خو د کاېنات حسن دغه روحونو، دغه انساني څېرو او کردارونو ښکلې کړې دي د یو نوي روح نوي وجود جواز زه هم جوړېدونکي وم، دا احساس زما د هستۍ لپاره د بقا وو، دغه حواله زما د ژوندي پاتې کېدو وه او زه مور جوړېدونکې وم ـ هو زه مور جوړېدونکې وم ـ

دا خو یو داسې احساس وو چې زما د ژوند ډېر زخمونه یې ټکورول، لکه د تودې پهې په دې زخمونو پرېوتو او د راحت او سکون یو خوب، یوې جذبې د اوس نه راته لکه د مور الله هو ویل، ما د یوې شېبې لپاره هاغه شېبه تر سترګو کړه، چې د دردونو په یوه لویه روانه ورا (جنج) کې یو غونډ مونډ، پوست مالوچ ګوډاګي، زما غېږ ته راغی...

داچې ولې ولې چاچۍ (وړې وړې چاچۍ)، دا چې واوه بچې دي! دا چېرته وو؟ ته ... چرته وې؟ او دغه شېبه کلکه ما خپله سینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې نيولې وه، زما ماشوم سترګې غړولې ما ورسره په وره خوله د هغه په انداز خبرې کولې، کله به مې يې يو لاس را اوچت کړ، او پنجه به مې ښکل کړه، کله بل لاس په پنجو کې، کله به موسکي شو، کله به يې شونډې بوسې بوسې کړې، کله به يې مخ ترش کړو، کله به يې سترګې وغړولې او کله به يې سترګې پټې کړې، زما دننه د مور احساس به په هغه لکه د شبنم پونه پونه کېد، دهغه د خبرې ګل به لکه زما د لاسونو په ډنډر ښکته پورته کېده! د ناياب، هلمند او زما وارث زما په لاس زما په غېږه کې د مينې او محبت يو سمندر کې د خپلو جذبو دننه داسې په غورځنګ شو چې هرې چپې يې زه د خپل ژوند د راتلونکي په سفر کې تر لرې لرې يوړم، ناست خلك د دکان نه پاڅېدل روانېدل خو زه د خپل خيال د مارغه په وزر اوس د يو بل سفر لپاره د خپل وجود د سفر لپاره په الوت شوې وم، زما فکر د نيويارك ښارپه دنګو ماڼو زړه راښکونکو ښکلا ګانو داسې په ولکه کې اغستي ووچې د ناياب دې غږ د حقيقت دنيا ته راوستم، پاڅه چې ځو...

هن! ما زر خپلو بڼو ته ځمب ورکړ، لکه چې دې خيالاتو په ريښتيا زما سترګې د څه وخت لپاره درنې کړې وې، ما د بورقې پلو په مخ برابر کړ، لاسي بېګ مې راواخيسته او دواړه د دکان نه راووتو، ماسپښين کور ته راورسېدو، اوس درې ورځو لپاره هاغه ورځ ته انتظار وو چې موږ به بيا ورتلو، او بيا په دريمه ورځ زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یواځې د دې مقصد لپاره پېښور ته روانه شوم، نن د دې ځای عمله لا په ځای نه وه، د لږ وخت انتظار نه وروسته هاغه ځوان بیا زما مخې ته پخپل ځای ناست وو، زه یې وپېژندم خو ما بیا هم خپله رسمي پېژندګلو ضروري وګڼله، دهغه د لومړۍ ورځې راکړي رسید مې ورته په مېز مخې ته کېښود، دغه کس اول په کمپیوټر څه اوکتل بیا یې راته خپل پاسپورټ د دې وینا سره راکړو چې په پنځلسم مارچ به سحر اوه بجې تاسو اسلام اباد ته ځئ! د امرکې سفارت ته. زه پدې خبره ډېره خوشحاله شوم، ماویل چې د سفر د ا ټولې مرحلې څومره ژر سرته رسي لاښه ده، د مغزو نه مې بوج اخوا کېږي.

دغه کس راته دا مشوره هم راکړه چې خپل ټول کتابونه، اېوارډونه، سندونه او نور داسې شیان چې ستا کېس پرې قوي کېږي د ځان سره واخله، د پاسپورټ د پاسه یې راته په سپین چټ دغه ټاکلې نېټه او وخت لیکلي وو، ما داسې وګڼل چې دا سفر اوس ډېر اسانه شوي دي، خو سحر اوه بجې د مردان نه ، امریکې سفارت اسلام اباد ته رسېدل زموږ لپاره ناشونې وه.صلاح مو دا وکړه چې یا خو به یوه ورځ د مخه ځو او یابه د شپې سفر کوو، اخر مو فیصله دا وکړه چې یوه ورځ مخکې به ځو، او شپه به پېنډۍ یا اسلام اباد کې کوو، زموږ یو ملګري د دې لپاره موږ ته د راتلو بلنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکړه، دغه ملګري سره د خپلې کورنۍ د غړو اوسېدو، نایاب زما ټول کتابونه، اېوارډونه، سندونه او نور ټول تعریفي اسناد او دستاوېزات په بېګ کښې ډېر ترتیب کېښودل.

د ستاویزات خو یې ټول په یو جلا فایل کې خوندي کړل، دې سره سره مو هاغه کتاب ماډرن پوېټري اف پاکستان چې د کوم پربنسټ چې زه امریکا ته غوښتل شوې وم هم کېښود، په سفارت کې پکاربدل، د پروګرام لپاره ټول ایمپلونه چې د پروګرام پکې وو هغه مو هم د نورو کاغذونوسره کېښودل او داسې د کورنه د ډېرو دعاګانو د پلو لاندې په څوارلسم مارچ مازیګر موږ د کوره روان شوو او ماښام ناوخته اسلام اباد ته ورسېدو، دلته حاجي صیب د خپل ذاتي ګاډي سره زموږ په انتظار ولاړ وو، زموږ یې ډېر تود هرکلي وکړ او په خپل ګاډي کې یې کورته ورسولو، د حاجي صېب کور د اسلام اباد په اطراف کې نسبتاً په یو د کمې ودانۍ په علاقه کې وو چې ډېر د ارام او سکون ځای وو، هېڅ شور او غالمغال نه وو.

مېرمن یې ډېره مینه ناکه پښتنه او مونځ ګزاره ښځه وه، هغې هم په ډېره مینه زموږ هرکلي وکړ، په خپل کور کې سره د ستر پردې یوه ځانله د ارام ډکه کوټه یې موږ ته پاکه تیاره ساتلې وه، د حاجي صیب مېرمن د چاي، شربت او ډوډۍ نه وروسته ماسره ډېره ناسته وه، د هغې تجربه کار او ځیرك نظر زما د حالت پوره پوره اندازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولګوله، ته خو لکه چې ناروغه یې؟ هغې د یوې نرمې پستې موسکا سره زما د وجود جاج واخیسته، هو... بس! ماهم وخندل په ځمکه په پسته توشکه ناستې زما د وجود نه ټوله ستوماني لرې کړه، خپلې دواړه پښې مې ښې په ارام وغزولې، ملا مې په تکیه برابره کړه، چې پدې کې زما د ملګري نګار رووف زنګ راغی، خور ته چرته یې؟ انټرویو ته تللې یې؟! هغې رانه سمدستي پوښتنه وکړه، زما د خپلو سکه خوېندو پشان دې هم زما د ناروغۍ په هکله زما ډېر تشویش لرلو او خور راغلي یو سبا سحر وختي به ورځو دعا کوه! په لنډو لنډو مې ورسره څو خبرې وکړې، بیا بیا به یې راته د ځان د خیال ساتنې پخلی کولو مابه ورته وخندل چې فکر مه کوه! خیر به شي، اوس د حاجي صیب واړه بچي کله کله په لوبو منډو کې د کوټې د نیم کښنو وره نه به ماته واضحه ښکارېدل، ماته دا وخت داسې محسوسېده لکه چې د دې ماشومانو ترڅنګ زماهلمند هم واړه واړه پلونه اخلي، کله کله په ځمکه راپرېوزي، پوزه یې په پړمخ پرېوتو وینې شوې وي، زما زړه ناقلاره شو، وئې خورې شوی، خېر دی، ګوره مېږی دې مړ کړو، عاجز کور ته روان وو کور ته یې اوړه وړل تا ترې ټول توې کړل، بس ژاړه مه ښه الاهو- ما داسې وګڼل لکه چې په ژړا ژړا مې خپل هلمند د ځمکې نه راوچت کړو په اوږه مې واچولو- د ماشومانو شور، خنداګانو او ژړاګانو تر ډېره وخته زه په داسې کیفیت کې وساتلم دا وخت زه په کوټه کې یوازې ناسته وم، نایاب د حاجي صېب سره مېلمستون (بېټهک) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناست وه او د حاجي صيب مېرمنې د سبا سحر د پاره خپل پاتي نيمګړي کارونه سر ته رسول د مردان نه تر اسلام اباد سفر زه ډېره ستومانه کړې وم، سترګې به مې مرغۍ مرغۍ شوې کله کله به خوب په ناسته جوته راکړه ما سره د نایاب فکر وه زه هیڅ نه پوهېدم چې د ملاستې به څنګه پروګرام وـ خو زر د حاجي صيب مېرمنې زما دا پرېشاني زما نه لرې کړه دا کوټه ستاسې دواړو د ملاستې هم ده، هغې د شنو چایو او وچې مېوې پتنوس زما مخې په دسترخوان کېښودل ـ ته به څومره ستړې يې، چايۍ وڅښه چې دمه شې او بيا راسره خپله هم کېناسته او د کوټې نه بهر د ماشومانو د شور غوغا نه راتله، ټول مې اوده کړل سحروختي بيا سکولونو ته ځي، هغې په روڼ تندي ماته د بمار د بادامو چکۍ مخې ته کېښودې ـ دا به څومره ستړې وي، په کور کې ددومره وړو لويو خدمت کول په يوازې ځان ډېره ګرانه وي، ما داسوچ کولو چې د کوټې دروازه چا په مزه مزه وټکوله زما ښه کلك يقين وو چې دابه حاجي صيب او نایاب وي، راځئ! او د دې سره لومړي حاجي صيب او بيا نایاب کوټې ته راننوتل، خو حاجي صيب په دروازه کې په ولاړه ولاړه مانه يې پوښتنه وکړه، خور! څه مسله خو به نه وي؟ ماورته وويل، نه حاجي صيب! داسې ګڼم لکه چې خپل کور کې يم، کور دې ودان، حاجي صيب د تلو اجازت واخيسته، په دې وېنا چې اوس تاسو ارام وکړئ سبا سحر وختي به زه راپاڅېدلی يم چې په وخت لاړ شوـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نایاب ترډېره وخته ماته بیا بیا دا خبره کوله چې هلته به تانه ډېرې پوښتنې کېږي ته ورته ځان تیار او ذهن بیدار ساته.

مابه ورتـه وویـل سمه ده سړیه! اوبـه شـي اوس لږ ارام پکـار دی ـ زما په داسې بېزارۍ به نایاب کله کله لکه د ماشومانومرور غونـدې شو- یره هني ! یاده دې وي چې ماته په دواړو کورونـو کـې (پلارګنـۍ او سخرګنۍ) لوی واړه هني یا هني ګل وایي ـ ما خو بس د ډېرې ستومانۍ نـه هغـه خوري بسـترې تـه خـوار خـوار کتـل، کـومې چـې لحظه په لحظه ماته دا اشاره کوله چې هرڅه پرېږده کېږي بـه خـو تـه راځه ځکه چې نوره ناسته ماته بیخي ګرانه شوې وه او بـس ځـان مـې پـه هغـه بسـتره وروغورزولـو، مـخ مـې دېوال تـه واړولـو، د پسـتې تولیۍ احساس سمدستي دمه کړم، سترګې مې سمدستي پټې کـړې او نایاب ته مې د کوټې د بـاتۍ د ګـل کولـو ووې ـ هغـه هـم زمـا سره ډېر بې ارامه وو خو د هغه تسلي به چا کړې وې ـ زما ټـپ کـړی فایـل یې بیا راواغستو او د یو یو کاغذ یې پکښې بیا جـاج واغسـتو، مـا به په نیمه رڼا او نیمه تیاره کوټه کې د کاغذونو د پاڼو پـه اړولـو ورو غوندې مـخ راواړولـو، بـس دی اوس اوده شـه ـ خـو د هغـه پـه سـترګو کـې خـوب چرتـه وو ډېـره لحظـه زه هـم د هغـه د ویښـې پرېشـانۍ پرېشـانه وسـاتلم خـو اخـر خـوب یـوړم ـاو بیـا چـې د سـحر د اذان پـه بختوره نعره الله اکبر مې سترګې پرانستې نو لـږ خـوب راتـه ډېـر ارام راکړی و، زه پـه یـو نـوي طاقـت اوچتـه راپاڅېـدم، نایـاب داوخـت پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تشناب کې وه، او چې څنګه رابهر شو نو ماته داسې ښکاره شوه لکه چې ټوله شپه یې په ویښه خوړلې وي، زه مونځ کوم ته هم ځان تیار کړه، دغه وخت هم د هغه تادي د کتو وه ـ تانه خو مدام ګاډی روان وي، ما یوځل بیا په خندا کې په هغه یو ټك وکړو ـ خو د کوټې نه بهر د کور چپتیا مونږ ته دا ښکاره کوله چې د کور نور وګړي په خوارږه خوب اوده وو، یو د چا د غاړې د تازه کونې غږ مې څو شېبې د مخه اورېدلی وو چې په کور کښې د یو کس نیم د ویښې احساس یې راکړو ـ ماهم مانځه ته ځان تیار کړی وو او چې د مونځ سلام مې وګرځولو نو نایاب د تګ د پاره ټوله تیاري سرته رسولې وه ـ ما د ګړۍ مخ ته بیا بیا کتل اوس مونږ ته وتل پکار دي د نایاب سترګې خو مسلسل د ګړۍ په ستنو ښخې وې ـ خو دا وخت به ګاډي چرته وي؟ ماته په بنده کوټه کې د بهر د دنیا د تیاره رڼا هیڅ اندازه نه کېده ـ داسې ښکارېده لکه چې بهر به لاتوره شپه وي ـ زما خیال دی چې حاجي صېب د پرون راسې مونږ سره ډېر په عذاب شوی دی ـ مونږ ته خپله تګ پکار دی ـ د نایاب د دې خبرې سره ما هم اتفاق وکړو ـ مونږ د کوټې نه ورو شان راووتو ـ د دروازې داسې خلاص پرېښودل مې هم نه غوښتل هسې نه دغه وخت د بهر نه څوك کور ته ننوځي، څوك ترې غلا ونه کړي خو کور کې په چا غږ کول هم د هغوي د تکلیف نه خالي نه وو ـ د خپلې دې ویرې ذکر چې مې نایاب ته وکړو، هغه وویل فکر مه کوه، د مونځ اودس خلك دي اوس به راپاڅېدلې وي ـ د سرك په غاړه یوه ټېکسي لکه چې زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تمه ولاړه وه، ټیکسي کې کېناستو. نایاب ورته ځای په ګوته کړو او بیا لږوخت پس ټېکسي ولا مونږ هغه ځای کې د سرك غاړې ته ښکته کړو چرته چې په لږه فاصلهد سفارت خانو هغه اجتماعي مرکز یا اډه وه چې د ډېرو هېوادونو سفارت خانو ته دغه خلك په مقرره ګاډو کې رسولی شي ـ دلته حفاظتي انتظامات دومره سخت وو چې د تکلیف او سټړیا یو ځانله داستان دی ـ لحظه په لحظه د تپوس پوښتنو او تالاشۍ ورکولو نه پس هغه ځای ته مونږ دواړه شریك ورسولی شو د وم ځای نهچې به یواځې زهد ګاډي په ذریعه مخکې ورلی شوم ـ دا د ناستې یو ډېر ښایسته لوی ځای وه چې پکې دوکانونه، هوټلونه، نېټ کېفۍ او داسې نور کاروباري ځایونه وو چې د راتلونکیو خلکو د ضرورت او اسانتیا خیال یې ساتلی وه ـ دلته به نایاب زما نه یوازې پاتې کېدو او په ژوند کې په لوړمبي ځل دا احساس وشو چې د ژوند د ملګري نه یوازې چرته تلل یا دهغه نه یوازې پاتې کېدل په ژوند څومره د تکلیف خبره وي!. خو د دې ازمېښت نه به مونږ څه ورځې پس خامخا تېرېدو خو د نن جدایي خو د یو څو ساعتو وه په دې خیال مې ځان پورې وخندل او ډېر په چابکو قدمونو مې ځان هاغه کاونټر ته وررسولو چې د ګاډي دپاره کرایه پنځه سوه کالداري پکې جمع کولې شوې ـ

دلته د دې پېسو ماته د ټګ د راتګ غبرګ ټېکس راکړلی شو او ماته یې د وړاندې ټګ د پاره یو ورکوټي بُوتهـ ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورننوتو اشاره وکړه ـ دلته يوې ښايسته پېغلې تلاشي اخسته ـ د کاغذونو د يوې يوې پاڼې پلټنه يې کوله دغه کتابونه کاغذونه هرڅه د کېمرې د سترګې نه تېرېدل ـ اوس به زه د يوې لويې پړدې د شا نه د ګاډو لوی ټرمينل ته ورتلم او د دې ځای خلکو ګڼه ګوڼه د مېلې په شان زړه راښکونکو منظرونو به اوس د ناياب څېره زما د سترګو نه پنا کوله ما يو وار بيا په ورستو وکتل، ناياب د هرڅه نه بې نيازه ولاړ وه د هاغه منظرونو نه کوم چې د هغه مخې ته لکه د فلم د سکرين چلېدل خو دهغه په مخ د ژوند د هيلو يوه ډېره ښايسته رڼا وه چې د خپلو سپينو برېښېدونکو شغلو په ژبه يې ماته خدای په اماني کوله، د هغه لاس هم پدې اشاره راولاړ شو زه د هغه په مينه او خپل اعتماد ډېره تکړه وم، خو بيا مې هم څه فکرونه او انديښنې خامخا لرلې، دغه انديښنو به زما د تاترې په شان د لوی اعتماد مخې ته هم کله کله خپل سرونه راوچت کړل هسې نه وېزه ـ ـ ـ او د دې ويرې سره به مې خپلې ټولې ستړياګانې او منډې ترړې رامخې ته شوې، د ناياب يوه يوه ستړيا به مې هم مخې ته ودرېدله ـ په دې ټولو سوچونو وسوسو او خوشحالو کې د هاغه لويې ګاډي مخې ته اوس د مسافرو په قطار کې ولاړه وم کوم چې د تګ د پاره چمتو ولاړ وو ـ اوس يوه شېبه پس زه هم په يوه ښايسته ارامه چوکۍ ښه په سُر کې ناسته وم، لکه چې د امريکه د سفر د پاره مې د الوتکې په پوړۍ پښه ايښودې وي ـ چې لږه ساه صورت شوم نو په ګاډي کې د ناستو ولاړو د مسافرو څېرو ته مې پام شو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره څېره د اميد او نااميدۍ ګډوډ تاثرات د ورايه ښکارېدل، زه هم د هغوي په منځ کې ناسته وم، زما هم ټول امېدونه د دې سفر په اړه د خپل راتلونکي بچي د روڼ سبا سره تړلي وو، د هغه راتلل هم را نږدې وو په چوکۍ ناستې نه پس مې خپل سر وروغوندې شاته ولګوله د ارام او استراحت احساس د دې ګاډي په تنګ کې لکه د ځانګو خوند راکولو، دغه استراحت يو ځل بيا په ما غلبه وکړه زه يې په خيال خيال کې ډېره لرې يوړم زما د بچي څېره يو ځل بيا د خيال په شيشه راوځلېده زما د ژوند د رڼا ګانو د مشال مخ، زه خو دا ټوله سخته ستا د ژوند د ښه کونې لپاره په ځان تېروم، که چېرې د دې سفر نه ستا د ژوند څه ښه لاره راووځي، ستا مستقبل ښه شي، د اځل ما د خپل بچي سره داسې خبرې کولې لکه چې هغه يو لوي زلمي وي.

د مور او پلار د ژوند يوه يوه سخته يې د خپل وجود او ژوند سره ډېره د نږدې نه په خپلو سترګو ليدلې وي، لکه چې هغه په دې پوهېده، خپل دواړه لاسونه به يې زما د غاړې نه لکه د هار چاپېره کړه، په کټ کټ به يې وخندل، زما په سترګو کې به اوښکې راغلې د خپل وطن په وجود د لمبو او وينو تصور به رامخې ته شو. درز شي ---ډز شي --- او بيا خبر راشي د وطن خاوره بيا په وينه خړوب شوې وي د وطن بچي په وينو کې پراته وي، چاپېره د خلکو چغې نعرې وي، ژړاګانې وي ويرونه وي خلك په خپلو مئينو پسې ګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغوي لټون کوي، میاندې خپل مخونه ټکوي زما بچي سحر د کوره وتي دي مزدورۍ پسې تللي دي، بې اسرې پاتې نوې ناویانې په لاسونو د واده نکریزو ته ګوري او د غم سلګۍ وهي پټې اوښکې تویوي، لکه چې په دې لاسونو یې د خپل جانان تیکه تیکه وجود په وینو سُور راټول کړی وي ـ د اسمان رنګ د بارودو په لوګو تور تښتېدلی وي لکه چې اوس درنګ ساعت له یو بل ځای د سرو وینو باران راروان دی ـ اف!! یو ځل بیا د سرو وینو سېلاب راتلونکی دی په دې وینې وینې تصور زما مرۍ کلکه ونښته خله مې بیخي ونښته ځان سره د راختستي د صفا اوبو د بوتل نه مې یو غټ غړپ وکړو خو زما اعصاب دې تصور ډېر لړزولي وو خو دلته هم کله کله به زما په راټوله غېږه کې لکه چې څه ورو غوندې وخوسکېدل زما لاس پهورو شان زما د غېږې نه زما خېټې ته وروغوزېدو او بیا به لکه یوه وړه منګُل زما په لاسو ولګېده ـ ماته داسې ښکارېده لکه دواړه منګلۍ زما اوښکې اوچوي ـ ده بیا اړخ بدل کړو دغه وخت د ژوند او مینې یو احساس زما اعصاب بیا قوي کړل، ما یو ځل بیا د خپل فکر د بدلولو په نیت د خپلو کاغذونو جایزه اخسته ـ خپل ټول کتابونه مې وړاندې پراته وو، دې تخلیقاتو ماته یو لوی نوم او ستر مقام راکړی وه ـ زه ډېره مطمئنه شوم د اطمینان یوه اوږده ساه مې راښکله ـ داسې ښکارېده لکه چې زما بچې د خوب نه خوره وره ستوماني ویستې وي ـ د کړکۍ نه مې د اسلام اباد د شینکي تماشه کوله، د سپرلي موسم د خپلو ټولو رنګونو او خوشبویانو سره د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمې په وجود خور لیدي شو، او بیا د ګاډي ډرایور به لکه د کلینډر اواز کولو، ایران ایمبسي، په لوي ګاډي کې د ډرایور غږ په ګاډي کې د لوډسپیکر په مرسته تر هر چا ډېر ښه رسېده، د ګاډي نه یو کس د دې سفارت مخې ته ښکته شو، دغه رنګ د کوېټ او د چین د سفارت خانو وړاندې هم څه کسان ښکته شول او بیا چې په لاره هرڅومره امبېسیانې راتلې نو د ګاډي نه به ورته د ډرایور په غږ ځوك نه ځوك ښکته شو۔ اوس د ګاډي نیمې سورلۍ په لاره لاره کوزې شوې وې او پاتې نیم کسان ټول د امریکا سفارت ته روان وو، او اخر هاغه اواز هم راغی چې ګاډی پرې پوخ ودرېدو۔ امریکن ابمبسي! ... د دې غږ سره ټول ناست کسان په یو وخت د خپلو چوکیو نه پاځېدل، زما مخې ته ډېر خلك ولاړ وو ځکه خو زه په خپل نشت ناسته وم او د کړکۍ نه مې د امریکې د ابمبېسۍ نه د ګېرچاپېره علاقې جاج اخستو۔ یو دوه امریکنیان د ورزش د پاره په منډه وو چپه چپتیا وه د مرغو او نورو مارغانو ښایسته ښایسته غږونو په دې چپتیا کې سندرې زمزمه کولې ـ زړه مې د هیبت نه هم درزېدو۔ د امید او مایوسۍ په یو عجیبه غوندې حالت کې وم ـ افسوس مې کولو چې درېغه نایاب سره مې په موبایل خبرې کولې شوې خو موبایل خو یې رانه ډېر مخکې جمع کړی وه، دګاډي نه ښکته شوي ټول کسان د دې سفارت د ودانۍ مخې ته د ونو لاندې په چوکیو کېناستل، دلته د مخکې نه هم ګڼ خلك ناست وو، ما خپل پاسپورټ د فایل نه راوښکه ورسره مې څو نور کاغذونه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیار په لاس کې ونیول، ټولو خلکو هم دغسې کړي وو، لږه شېبه وروسته یو امنیتي افسر ټول په قطارونو کې ودرول، زه هم د یوې خایسته نوې واده کړې پېغلې سره په قطار کې ولاړه وم.

وار په وار د ټولو کاغذونو کتنه کېدله، او یو یو کس به په قطار کې وړاندې کېده، موږ اوس ددې پړاو نه د سړک بلې غاړې ته د هاغه دروازې مخې ته یو ځل بیا په قطار کې ولاړ وو، اوس د دې ځای د عملي په لارښوونه ټول کسان منظم د استقبالیې مرکز ته ورتلل وو چرته چې د زنانود تلاشي لپاره بیا یوه ښایسته پېغله ناسته وه، هغې د ټولو زنانو بدني تلاشي هم کوله او د هغوی کاغذونه یې هم ډېر په سمي او غور کتل دې سره سره د ښځو په لاسي بېګونو یې هم نظر ساتلو د ډېرو زنانو د بېګونو نه یې د سینګار شیان او نور شیان، د دوایانو پلتې، نوك تراشې وغېره د ځان سره جمع کول، او د دې هر څه به یې رسید ورکوه، ما په دې غرض خپل بېګ د وړاندې نه جایزه کړ، خو داسې څه پکې نه وو پراته، پدې دوران کې مې فهمیده ریاض صاحبه په نظر راغله، د هغې هم په ما سترګې لګېدلې وې، زه ورته زر نژدې شوم، په مینه یې ترغاړې باسلم، په دواړه مخه یې ښکل کړم، د هغې ټول کارونه سرته رسېدلې وه، ځکه نو هغه د مخکې تګ مرحلې ته تیاره وه ما کتل چې فهمیده ریاض ته دې پېغلې د ځینو هدایاتو سره یو چټ ورکړو چې د زیړ رنګ په قطار کې به مخکې ځي ـ زما تلوسه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



زياتي وه د جينۍ سره د مختلفو رنګونو چترونه پراته وو چاته به يې يو رنګ چتر ورکولو او چاته بل رنګ ـ د لږ انتظار نه پس اماته يې هم د زيړ رنګ چيتر راکړ، زه هم د دې رنګ په قطار کې په ورو ورو روانه شوم، د هر رنګ د قطار لپاره به د بېلو بېلو رنګونو پړې تړلي شوې وو، دا ټول رنګينه قطارونه نزدې هاغه بوتهـ ته رسېدلي وو، چېرته چې به د پاسپورټ او د نورور کاغذونو لومړنۍ کتنه کېده، ماته په دې قطار کې په روانه داسې ښکارېده لکه چې خپل ماشومتوب راباندې غږ کړی وي، زه خپلې ماضي ته ورسېدم، چې ډېره وړه وم، د خپلو همځولو سره به مې لوبې کولې، کله کله به مو دغه رنګ د دوو غزېدلي پړونه رېل ګاډي جوړ کړ، پدې قطار کې به په وړو وړو پلونو د همځولو نه زه مخکې روانه وم او يابه د نيا د کور په دروازه کې يو د ېوال سره د پروت لويې د نښتر په تير به په قطار ناست وو، دا به مو رېل ګاډي وه.

موږه لا نه يو خبر؟!

د وړوکوالي عمر

ښه مې ياد دي، نه هېرېږي

د نيا د کور په دوراه کې به مو لوبې کوې

هلته يو لويې د نښتر تير به د ېوال ته پروت وو

موږ به پرې ناست وو تابه ووې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا به رېل ګاډي وي!
راځه!
ته ماسره زما ډبه کې جوخته کېنه
موږه به دواړه لکه یو ځای کراچۍ ته ورځو
هلته به سیل د سمندر کوو، لامبو به وهو،
مابه د خپلې لوپټګۍ نه بورقه جوړه کړله
تانه په وروسته غونډه مونډه شانې کېناستمه
ګاډي به ورو ورو په مزه مزه تامخکې بوتلو
مابه د مخ نه پلو اخوا کړو د سیل د پاره
تابه په قهر راته وکتل چې مخ دې پټ کړه
بهر د ګاډي، نه ولاړ خلك دې مخ ته ګوري
ځومره موده اوشوه چې اوس هم لاپه لاره کې یو
د کراچۍ د سمندر سېل مولا کړي نه دي
خو... وخت مو ګاډي کې په خپله خوښه خدای زده،
چرته... کوم یو ځای ته بوځي
موږه لاته یو خبر!!
(حسینه ګل)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته هم د دې رنګینه پټۍ نما پړو په راښکلې کرښو کې په قطار روان وو، دغه بوټهـ د یوې خیمې شکل لرلو، دننه پکې دفتري سازو سامان، کرسۍ، مېز، کمپیوټر په نظر راتلل، د کاغذونو درانه درانه فایلونه پکې لیدي شول، یو خایسته ځوان پکې ناست وو، سلام یې وکړو او د پاسپورټ غوښتنه یې وکړه پاسپورټ یې دننه او بهر سرسري وکته بیا یې په پاسپورټ د لګیدلي تصویر سره زما د مخ موازنه وکړه، دې دوران کې هغه یو کاغذ راوغستو او په کاغذ یې نظر واچولو یو ځل یې بیا کاغذ د سر نه ترپایه وکتو بښنه غواړم! ستاسو نوم خو په دې فهرست کې نشته! هغه په اردو ژبه بښنه وغوښته.

ماورته زر په پاسپورټ باندې لګېدلي سپین چیټ په ګوته کړو چې د راتګ په کومه نېټه یې راغوښتنې وم او نن دغه نېټه وه، هغه وویل سمه ده خو! ماسره په فهرست کې ستاسو نوم نشته زما د پښو نه لکه چې ساه اووته لینګي مې په رېږد پدو شول ته بهر کېنه لږ ساعت پس بیا معلومات وکړه کېدي شي دې دوران کې بل فهرست موږ ته راغلي وي ـ زه خو ټول طاقت جوابې کړې ومه نوره یو قدم مخکې نه شوم تلي، خو کول خو دغسې وو، خفه ذهیره واپس د هاغه ځای نه بیا په هاغه کرښه کې را روانه شوم، واپس د ونو په سیورې په یوه چوکۍ کېناستم د ځان سره پدې نوي راپېښ صورتحال مې سوچونه کول دې دوران کې مې نظر په یو دنګ لوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سُورسپین زلمي پرېوته، چې په څېره یې د خپګان او مایوسۍ ګردونه الوتل د پرېشانۍ نه تري ناسته نه کېده په ولاړه ولاړه په سوچونو کې ډوب وه او هم د غه وخت د هغه نظر پر ما پرېوته لکه زما په مخ لیکلي مضمون یې ټول په ټوله لوستلي وي.

زر را وړاندې شو زما مخې ته ودرېده...

وبښۍ ...! تاسو؟ هغه په انګرېزۍ او اردو کې زمانه څه تپوسونه کول خو که هغه د اردو د وینا په انداز او لهجه زه د ټکه پوي شوم چې هغه پښتون دي! او وروره! زما نوم په لسټ کې نشته او زما په دومره ویلو هغه زر لاس تندي ته راواچولو اوس هغه په پښتو غږېدو زما هم دا مسله ده، هغه هم ډېر مایوسه وه، خو اوس زموږ د دواړو مایوسي اخوا شوې وه، هاغه احساس زموږ نه لرې شوې وو چې ګڼې د ټولو کار وشو یو زه پاتې شوم، کېداي شي داسې نور خلك هم وو په هرحال هغه دا زیاته کړه چې زه یو ورکشاپ ته روان یم! اخر د پښتنو سره داسې ولې کوي؟ د هغه دننه لساني نفرت او کرکه رالړزېدلي وه، وروره خېر به شي تسلي مې ورکړه او بیا د یو بل نه خبر نه شو ډېره لحظه پس بیا وراغلم خو صورتحال هم هاغسې وه .
اوس زما دلته نوره ناسته هسې عبث وه خو د سوچونو پنجورو مېږو مې لکه د شوبلکې په مغزو پنجې ښخولې کېدي شي دې تګ کې زموږ خېرنه وي په دې خبره مې ځان ډاډمن کړ او بېرته تګ لپاره یو تیار ګاډي ته په ډېر استقامت راوختم، چې ګاډي په حرکت شو نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مایوه نظر د ناستو ولاړو خلکو په څېرو واچوه، ډېرې څېرې ډاډمنې وې خو ډېر مخونه لکه زما د مایوسۍ کردونو خړ کړي وې، ماسره په یوې چوکۍ ناستې د پوخ عمر ښځې خپلې ملګرې نه پوښتنه کوله ، واېټ چیټ ملې؟ هغې بلې ورته په ډېرغرور ځواب ورکړ، هان! ماته د حاجي صېب خبره رایاده شوه چې د وېزې د ورکړې په صورت کې امېدوار ته په دغه ورځ سپین چیټ ورکولې شي.

پدې خبره ما د دغه ښځې مخ ته بیا بیا کتل، ځومره خوشحاله ده، ډېره ډاډمنه وه، دې کې ګاډي خپل ټرمینل ته بېرته ورسېده، زه چې په درنو درنو پښو هاغه لوي د مسافرو ځای ته راننوتلم نو نایاب مې په انتظار ولاړ وو، څومره به خفه شي! ماسره د ځانه سېوا د هغه غم وو، ډېر راسره کړېدلي وو، زما په مخ لیکلي شوي مضمون هغه د لرې نه ولوستلو، ولې خیر خودي! زما د لاسونه یې بېګ او ټول کاغذونه واخستل په ارام په یوه څوکۍ کېنولم، ټول صورتحال مې ورته په مزه مزه مخې ته کړ، هغه وویل موږ ته زر د دې ځایه تلل پکار دي چې خپل سېل فونونه ترلاسه کړو او د اظفر اقبال سره اړیکه وکړو، خپل سېل فونونه مو ترلاسه کړل او د اظفر اقبال سره مو رابطه وکړه، هغه مې د ټول صورتحال نه خبرکړ، هغه هم لږ خپه شو خو راته یې وویل چې تاسو بېرته مه ځئ! زه معلومات کوم لږ ساعت وروسته د اظفر اقبال زنګ راغی هغه وویل لږه غلطي د پېښور سپیډ یکس کوریر والو نه شوې ده تاسو یې خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې نه يي! موږ ورته نېټه اولسم مارچ ياده کړې وه، د اظفراقبال په دې خبره موږ دواړه خپل سرونه ونيول دلته زموږ ايسارتيا عبث وه، د سوچ کولو لپاره دواړه يوې خواته کېناستو خو د بېمارۍ په دې حالت کې نن بېرته مردان ته تګ او بله ورځ بيا راتګ زما لپاره ډېره ګرانه خبره وه، فېصله مو د بېرته تګ وکړه حاجي صېب ډېر وس وکړ چې موږ د هغه کره پاتې شو خو د هغه نه مو پدې وعده رخصت واخسته چې سبا به هم داسې کوو خو نن کورته تله پکار دي .تر مردانه د نوي ناڅاپي راپېښ صورتحال سره تله داسې وو چې په ټول سفر کې مو خپل سرونه نيولي وو، د دې صورتحال نه چې به مې خپل سوچونه او فکرونه و تمبول نو يوې بلې پرېشانۍ په مخه کړم، د مور مې مشره خور چې زما ورسره ډېره مينه وه، ډېره ناروغه وه د ورور او خوېندو نه به مې هره ورځ په ټيلفون د هغې د حالت پوښتنه کوله دا څو ورځې مې د هغې پوښتنه هم نه وه کړې، چې څنګه به وي؟ په دې خو پوې وم چې هغه د يو څو ورځو مېلمنه ده، خوراك او خبرې يې پرې ايښې وې، خو د ساه ګانو حساب الله پاك ته معلوم وي، بس هغې هم خپلې ساه ګانې پوره کولې د ترور بي بي د مينې او محبت ټول خواږه مې راياد شول، سترګې مې نمجنې شوې، زما او د ناياب ترمينځ تر ډېر وخت د چوپتيا پرده خوره وه ته مايوسه کېږه مه! الله به خير کړي، د ډېرې ژورې خاموشۍ پرده اخر ناياب څيرې کړه، نه تروربي بي مې يادېږي، ما خپلې اوښکې په کاغذي رومال وچې کړې، د کور ټول غړي زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې بې ځایه تګ او کړاو ډېر خپه شول، اوس اظفراقبال ماسره یو ځل بیا د خپلې اړیکې سلسله جوړه کړه، ماسره داغم وو چې د پاسپورټ د پاسه په لګېدلي سپین چټ خو نېټه یوه ده او ځو چې په بله نو موږ سره تصدیقي پرچه نه وي.

اظفراقبال وویل هېڅ خبره نه ده، زه به د شوې غلطۍ له سوبه نوې نېټه تاته په یو برېښنالیك کې درولېږم، دغه برېښنالیك د ځان سره راوړې! سبا له د تګ لپاره مو بیا لاره ونیوه.

د حاجي صېب کورنۍ هم زموږ په کړاو خفه وه، د مېرمن خو یې زما د بېمارۍ له وجې ماسره ډېره همدردي وه، شپه مو بیا په نوو نوو اندېښنو کې تېره کړه، نن سهار په توره خړه د حاجي صېب خوریي موږ د حاجي صیب په موټر کې روان کړي وو، د اسلام اباد هوا او موسم د سهار نه تودوخه لرله خو بیا هم د اسلام اباد په وجود خور د شینکي لباس انساني نظر او زړه ته د ژوند یو نوي حرارت ښنلو، لږه شېبه وروسته موږ د ګاډي نه په هاغه ځای راښکته شو، اوس به بیا د هاغه پړاوونو نه تېرېدل وي؟ د اظفراقبال زنګ راغی زمونږ د راتګ نه یې ځان خبرولو. دا ځل د هغه په اواز او د خبرو په انداز کې زمونږ د پاره نوی امېد وه ځکه خو ډېر ژوندی ژوندی غږېده، انشاالله ! الله خیر کړې ګا!

د هر مسلمان په دې کلمه ایمان او باور وي مرحله یوه یوه سرته رسېده، نایاب یو ځل بیا زما نه په هاغه ځای ولاړ پاتې شو، دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساس زه بیا هم د پخوا په شان ناقراره کړم، ته څه! الله دې مل شه! هغه زه په دعا د راتلونکي پل سراط نه تېرولم، هاغه پرده بیا راټولېدله، زه یې د ګاډي ټرمینل ته بلې غاړې ته کولم، هاغه ګاډی که نه وه نو د هغې پشان بل لوي ګاډی ولاړ وو. په ورستو چوکو کې په یوه چوکۍ کېناستم، خپلې بې واره ساګانې مې په ځای کړې، هسې نه نن بیا...! یوې اندېښنې بیا په ما چونګارې ولګولې، دې دوران کې ګاډی بیا د امریکې د سفارت مخې ته ولاړ وو، ما بیا لیدل چې څو امریکایانو په لنډو وړو جانګو کې د بربنډو بربنډو پښو سره په منډه وو، دغه وخت د دوي د نراوښځې توپیر ما نشو کولای، ماته داسې ښکارېده لکه چې دې منډه وهونکو خپل ځانونه د دې وطن د اولس وینو څښلو ته چمتو کولو او د خپل ولس د پاره یې د نورې ترقۍ منډه وهله، ماته هم خپل ځان د یوې نوې منډې لپاره توله کول وو، ما پاس اسمان ته وکتل دا ځای او د دې ماحول یوه ژوره چوپتیا لري، انسان دا خیال کوي چې دلته مارغان څنګه الوځي؟ دې خلکو خو د خپلې سلامتیا لپاره ډېرې وسیلې په کار راوستې دي، دلته خو چې مرغۍ په هوا کې وزرې خورې کړي نو د لګېدلو کېمرو سترګې هم څارنه کوي ما خپل ټول ضروري کاغذونه د سفارت لوې دروازې ته د ننه وړلو لپاره لومړي مرحلې ته تیار په لاس کې نیولي وو، د اظفراقبال هغه نوي ایمېل هم چې د شوې غلطۍ عُذر پکې ښکاره شوی وه، او د نن د راتګ لپاره پکې زما د راتللو سمې برابر کړي شوي وو، دا برېښنالیك په ټولو مرحلو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې پکار راغلي وو، هاغه پېغله په خپله کرسۍ ناسته وه، هر ورځ د هغې د نظره دومره ډېرې څېرې تيرېږي چې يوه به څه ياده ساتي؟ خو زما ټول حالت داسې د ګډوډي وو چې هغې د ټکه وپېژندم او بيا مې په لنډو کې هغه د ټول صورتحال نه خبره کړه په ډېر غور يې زما کاغذونه کتل، د بدن تالاشي مې يې واخسته زېر چيټ يې د زوړ بيان سره راکړ. د دې رنګ په قطار کې په ورځې، ما په رپېدونکو ګوتو کې د اچيټ داسې ټينګ نيولي وو، لکه چې دا چټ د ويزې يقيني کولو لپاره د يو لوي زيارت تعويز وي، خو زه نن په ګړندي قدمونو په هاغه کرښه کې روانه وم، په يو څو قدمه فاصله کې هاغه بُوتهـ ته بيا مخې ته په اعتماد ولاړه وم، هاغه زلمي زما کاغذونه بيا وکتل خپل لېسټ يې راواخيسته دا ځل دا زلمي ماته عجيبه غوندې مسکی شو ده هم زه د نوم نه وپېژندم زما مخ او په پاسپورټ لرېدلي تصوير ته يې په غور کتل، جاييۍ...! او د ازادۍ د دې زېري سره يې زما ټول کاغذونه ماته بېرته راکړل، زما په بدن کې لړ دم راغی، زه سمدستي د هاغه ځای نه راووتم ماته هېڅ پته نه وه چې وړاندې تله به چرته وي؟ د نورې لارښوونې لپاره مې د ولاړ يو د امنيتي ساتونکي نه پوښتنه وکړه، هغه راته د لاس په اشاره نزدې يو څو قدمه په فاصله پورې دروازه په ګوته کړه، دريغه نا ياب مې د دې نوي تګ نه خبرولي شو!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې پورې ور په شا دنيا د بهر د دنيا ننداره به د کېمرې په سترګه کوله، يو دم په ګېټ ولاړ يو ځوان دروازه خلاصه کړه هغه هم سرسري غوندې زما کاغذونه وکتل او ماته يې دننه تلو اشاره وکړه، اوس زما باور نور قوي شوي وو، زما اعتماد لکه د غره کلک شوي وو، د ټولو مايوسيو او انديښنونه مې دم ختلي وو زه په يو نوي اعتماد روانه وم خو لږ وړاندې يو غږ زه په ځای ودرولم! ته دلته کېنه! او ما چې د اردو په دې کلمه مخ راواړولو نو يوې نرۍ نروچکې، تورې سکنې پېغلې ماته په يوه کرسۍ د ناستې اشاره وکړه.

دغه پېغلې زما ټول کاغذونه لټ په لټ کړل دلته زما د زړه دننه يوې نا قرارۍ بيا سر اوچت کړ، هغې دا ځل په کمپيوټر کې زما نوم لټوو، د ډېر وخت نه وروسته هغې خپل سر وروغوندې په انکار کې و خوزولو، ښښنه غواړم! او دې ټکي لکه چې د ګولۍ ګوزار پر ما وکړ، زما ټوله حوصله بيا تلا ترغه شوه، هغې پېغلې او هاغه د ګېټ سنتري زمانه پوښتنې کولې څه رسمي او ځنې غېر رسمي ماته داسې ښکارېده لکه چې د ويزې د اخيستو لپاره د انټرويو هاغه پړاو هم دلته په سر راغلي ده خو ژر د يوې بلې څوکۍ نه راولاړ شوي کس چې د هغې پېغلې ورسره پدې اړه خبرې جاري وې يوځو قدمه زما خواله راو ګرځېد، دا تور سکڼ هلك چې تورې چشمې يې لګولې وې زما وړاندې ولاړ وو، دلته ته څوك پېژني ماورته ژر د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اظفراقبال نامه واخسته، د ده د پوښتنې اندازه ماته د پاکستان د پولیس ښکاره شو، هغه د کمپیوټر په فهرست کې زما نوم په نښه کړي وو، اوس هغه ماته د مخکې تلو لار راکړه، یاالله!...

نور څومره تګ؟ زه چې امریکې ته ځم زما حال به څه وي؟ خو زما غوږ ته یو نري غږ راغلو چې لاړه خو شې کنه امریکې ته تګ څه ټوکه نه ده.هن! زه په روانه روانه کې ژر په ځای اودرېدم یو خوا بلخوا مې کتل، دا شاید زما وهم وواو پل مې بیا بدل کړو، دا یو عام دفتري عمارت وو چې ځای په ځای پکې د دفتر عمله په کار کې بوخته ښکارېده ماسره د ګېټ هاغه سنتري لکه د سیوري روان وو، دلته چې پېچ درپېچ ګوټ پېرونو او دفتري لړۍ نه واوړېدم نو مخکې مې یو لوي پراخه او شانداره لاونج ولیدو چې پکې لکه د هوایي ډګر د لاونج ځای پر ځای د مسافرو د ناستې لپاره چوکۍ اېښودې شوې وې، صفا ستهرا ماحول، ښایسته دوکانونه او په دکانونو کې ډول ډول خوراك څښاك څیزونو د مړو خېټو اشتها هم سېواکوله ماخو لاڅه خوړلي هم نه وو، د تېرې فکري او بدني ستومانۍ او خپګان د لاسه مې لوږه ببخي مړه شوې وه، هېڅ مې نه وو خوړلي دلته دې وړو وړو هوټلونو او کېفو ته په کتو مې لوږه محسوس کړه، بیا چې مې ځانله د دې ځای د نرخونو هسې یوه بېکاره غوندې اندازه ولګوله نو د خپلې مور د خولې یوه ښایسته خبره رایاده شوه که ګوشت ګران دي نو صبر انسان دي او ژرمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل پام په بله کړ، خو دې سره د نایاب یوه خبره هم رایاده شوه د خپل ژوند او وجود حقیقت مې مخې ته شو، په هاغه حرکت چې زما بچي یو ځل بیا خپل اړخ بدل کړ، د یوې ډډې نه بلې ته واوړېدو او داسې چې د لاس د وړې پنجې او نرو نروچکو ګوتو خوځول مې هم محسوس کړو لکه چې زما دې کېفیت هغه هم ناارامه کړې وي.

زما سترګیا اولوړې هغه هم وارخطا کړي وو، د خوراک تاته زیات ضرورت دي، دا خبره نایاب ماته بیا بیا کوله او اوس زما بچي هم ماته دغه ویل ځکه چې زما خوراک خو په اصل کې د هغه هم ضرورت وو او حقیقت هم دا دي چې پداسې حالت کې ښځې ته د زیات خوراک اړتیا وي، خو زه لږه د ځانه بې غوره شوې وم، پدې احساساتو کې راګېره وم، ځانته مې یوه چوکۍ پیدا کړه او په کراره پرې کېناستم، دلته یو غټ ټي وي سکرین لګېدلي وو، چې شېبه په شېبه پکې قدرتي منظرې بدلېدې، دغه ټول منظرونه دومره زړه راښکوونکي وو چې زه یې ډېر وخت په خپله ولقه کې وساتلم.

شنه شنه غرونه، چمنونه، ګلونه، ابشارونه، سیندونه؛ ما ځان د یوې نا اشنا دنیا په جنت کې حسابولو، زه په دې غرونو لکه د هوسۍ ګرځېدم خپل بچي به مې کله په تخرګ کې نیولي و، کله به مې د ګوتې نیولي وو، زما بچي هم دا دنیا ډېره خوښوله ماته به یې په خپلو ځلېدونکو مسکو سترګو کتل په څېره یې ډېره بختوره مسکا خوره وه، مورې چرته راغلي یو؟ هغه به په وړه خوله زما نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لویه پوښتنه وکړه، دا زما اوستا دنیا ده، دلته ما ته د وخت د حالاتو نه راپټ کړي یې! داوګوره!

پاس اسمان ته به مو وکتل، دا اسمان څومره ښایسته دي...

دلته ستا د پاره هېڅ خطره نشته، ما د خپل بچي تسلي کوله او هاغه مور مې دلاسه کوله چې د حالاتو خونړو پنجو یې د خپلو بچو د مستقبل مخونه نوکارې کړي دي او بیا د لاوډسپیکر غږ زما پام ځان له راوګرځولو- یو یو نوم اخستی شو او ټولو ناستو کسانو د خپلو نامو د اورېدو انتظار کولو، زما وار او نوبت به خدای خبر چې کله راځي؟ یو ځل مې بیا توجه په هغه لوی سکرین ښخه شوه، زما پښې بادو نیولې وې ډېرې پړسېدلې وې، د دې خاطره زه د خپل ځایه راپاڅېدم او په ورو ورو مې څو قدمونه واخستل ـ دلته مې د ګېټ سنتري بیا ولیده چې د یوې نرۍ مسکا سره یې ماته کتل او بیا رانژدې شو، زما د زړه درزا بیا سېوا شوه لږ ساعت کې به تاسو وغواړي! او د هغه په دې خبره زما فکر سم شو، دا څنګه کېدي شي؟ د دومره ډېرو خلکو نه مخکې زما غوښتل؟ خو بیا راته زر د رچېل کوپر یوه لیکلې خبره رایاده شوه تاته به په سفارت کې ځانګړې اسانتیاوې وي، نو اوس زه په دې پوی شوم چې د دې پروګرام په جوړښت کې د امریکې د سفارت مرسته شامله ده، زړه مې پدې خبره ډېر ډاډه شو او بیا ټیك لس بجې زما خواته هم هاغه سنتري راغی ما د هغه خبرې ته په سوالي نظر وکتل! تاسو راځئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د هغه پدې وینا سمدستي راولاړه شوم، زه په ده پسې ورو ورو روانه وم، ده زه یوې کوټې ته بوتلم ، هلته په ډیوټۍ ولاړ یو غنم رنګي ځوان چې رسمي کارکوونکي وو، ماته هرکلي وکړ.

زما کاغذونه یې وکتل او مخامخ په یوه بله کوټه کې یې راته د ناستې وویل، دلته هم انتظار، هر ځای کې یو انتظار به زما انتظار کوه، دا یوه ساده غوندې عامه د ناستې کوټه وه، کوم دفتري کار په کې نه کېده، لږ ساعت پس یوه نقاب پوښه زنانه هم راننوته د ناستې نه وروسته یې زما نه په اردو کې پوښتنه وکړه، ته د کوم ځای نه راغلې یې؟ هغه د لهجې نه سوچه پښتنه ښکارېده لکه چې په داسې ځای کې یې پر ما د دې ژبې د ویونکي ګمان راغلي وو، په پښتو مې ځواب ورکړ. زه د مردان نه راغلې یم.

هغه ډېره خوشحاله شوه چې یوه پښتنه یې ولیده، هغه د هنګو نه راغلې وه یوولس کاله وړاندې یې یوه لور واده کړې وه چې دواده نه یو میاشت وروسته د خپل ژوند د ملګري سره د امریکې په لور تلې وه او په دې دومره ډېر وخت کې یې یو ځل وطن ته راپېښه کړې وه، هغې خپل مور بلله او نن یې دا مورهم د خپلې لور د لیدو په ارمان د دې ازمېښت نه تېرېده، په دغه مور به د اتېر کلونه څنګه تېر شوې وي؟

زه د هغې لپاره فکر وړې وم چې هغې وویل: زه په دې خوشحاله یم چې لور مې خوشحاله هم ده او په امن کې هم! مور د خپلو سیمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په روانو حالاتو خبرې کولې چې په دې دوران کې هاغه غنم رنګه زلمي ماته د دروازې نه اشاره وکړه، زه ژر پاڅېدم، او بیا یې یوې بلې لویې کوټې ته بوتلم چرته چې څه ناڅه خلك د وړاندې نه موجود وو، دلته د لاسونو د ګوتو د نښو او د پاسپورټ کتنه کېده، د لاسونو د ګوتو د نښو دا معاینه ډېره ګرانه وه، د غبرګو کوټو ترمینځه دا لوي کاونټر چې ډېرو امریکایي نرو او ښځو پرې کار کولو زموږ په وړاندې یو کس د دې عمل نه زموږ د سترګو په وړاندې تېرېده، دهغه د ګوتو نښې بیا بیا ګډې وډې راتلې، ما په یو نېب د هغه کس مخ ته کتل د هغه پر مخ د هغه خپګان له ورایه ښکارېده.

اوس یوه توره امریکایي ښځه راغله او د ناستو نورو کسانو د لاسونو معاینه یې وکړه، دې د دوي د لاسو تلي معاینه کول د لاسونو د خشکۍ او نرمۍ اندازه یې لګوله، کوم لاسونه چې وچ او زیږه وو، په هغوي یې یو ځانګړي لوشن لګوه، زما د لاسو په تلویې ډېره معمولي غوندې ولګوه اوس به د دې پړاو او عمل نه زه هم تېرېږم، زه د خپل نوم سره و غوښتل شوم او په ډېر اعتماد په هاغه ځای ودرېدم دلاسونو د ګوتو نښې مې په دریم ځل صحیح شوې اوس د دې نه پس دا ټول خلك یوې بلې مرحلې ته مخامخ وو دا هم یوه لویه غبرګه کوټه وه چې د کاونټر د پاسه پرې د ښیښې دېوال لګېدلې وه، پدې دېوال کې د اړیکې لپاره یو تاخ وه، د خبرو اترو لپاره دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو نه ښکارېدونکي د مايکروفون نظام هم موجود وو چې د بټنې په زور روان وو، ماخپل ټول کاغذونه د هاغه کاونټر مخې ته په ايښودي شوي مېز کېښودل، د شيشې د دېوال بلې غاړې نه يوه تورپوستې پېغله د خپلې څېرې نه ښځې يوه هندۍ پېغله ښکارېده، ماته يې ديوې ښايسته مُسکا سره هرکلي ووې زما پاسپورټ او بلنليك يې په غور وکتل اوس يې په روانه اردو ژبه کې زمانه د پوښتنو پيل وکړ، ډېرې پوښتنې رسمي وې خوکله کله به غير رسمي پوښتنې هم وکړې، د څه لپاره ځې؟ ما ورته د هاغه اداري لخوا د جوړ کړي شوې پروګرام حواله ورکړه، دې ته دعوت شوي يم، په مسکا مسکا کې به يې ډېرې د خوند خبرې هم کولې، "د ډېرو خلکو دا غوښتنه وي چې امريکا دې ووينې". هغې خداى زده ولې زما مخ او زما اعتماد ته ډېر په غور کتل، نه زما داسې څه غوښتنه خو نه ده، بس يوه موقع په ګوتو راغلې ده، ضايع کوم يې نه! په دې ټولو خبرو کې زما د ادبي ژوند سفر او کتابونو په هکله ډېرې پوښتنې يې وکړې، که د خپل پروګرام نه وروسته دې هلته ايسارېدو يا پاتې کېدوته زړه وشي نو چرته او د چاسره به پاتې کېږې؟

دهغې د داسې پوښتنې ما توقع کوله، ژر مې ځواب ورکړ، نه بيخي نه، سمدستي به بېرته راځم! ما ډېر کلك ځواب ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده موږ تاته ویزه درکووخو ته به د ځینو خبرو خیال ساتې، اوس هغې یو ځل بیا زما د مخ د تاثراتو جاج واخیسته، "دهاغه وطن د قانون به خیال ساتې، هېڅ داسې بل پروګرام ته به نه ځې چې مقصد یې پیسه ګټل وي، نوره ته د امریکا هر یوه ریاست ته تلې شې، خپل ادبي دوستان لیدلې شې، موږ پدې ډېر خوشحاله یو چې تاته د امریکې د چکر موقع په لاس درغلې ده"، دا هغه شېبه وه چې زما په پاسپورټ یې د امریکې ویزه لګول یقیني کړل، ما یې مننه وکړه، خو بغیر د دې نه یې چرته پرېښودم چې زما کلام وانه وري، وي موږ به تانه ستا کلام اورو، زما یو څو شعرونه دا وخت زما په ذهن کې نوي پراته وو په ډېره دلچسپۍ یې واورېدل، ډېر داد یې راکړ او د یو بل نه مو رخصت واخسته په تلو تلو کې یې رانه پاسپورټ د دې وېنا سره جمع کړو"اوس ته تلې شې ستا پاسپورټ به موږ اظفراقبال ته حواله کړو، هغه به یې تاته در رسوي" اوس زه ډېره ډاډمنه وم، زړه مې غوښتل چې وزرو والوزم اونایاب ته زر زر په یوه ساه دا ټوله کیسه وکړم اوس خو یو پړاو نه وو، د بېرته تګ سفر ډېر اسان وو، ګاډي چمتو ولاړ وو، د اطمنان او ازادۍ یوه اوږده ساه مې په سړك په ولاړه ولاړه واخسته، شکر چې د ډېرې ستړیا، تلاشۍ، ځای په ځای د ناستې ولاړې، د انتظار د قید نه راوتلې وم، د ډېرو خلکو د وېنا تر مخه چې پدې ټول عمارت کې ځای په ځای پټې لګېدلې کیمرې د هر تلونکي راتلونکي څارنه کوي، زه د واپسي تګ لپاره په ګاډي کې په کراره ناسته وم، ګاډي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې غلو خاموشه لارو په حرکت کې شو، د ناستو مسافر د یو بل سره غلې ګنګوسې ا وځینې خلاصې خبرې مې غوږو ته راتلې خو اوس زما د چاسره څه غرض وو، د ګاډي د کړکۍ نه مې د اسلام اباد د شنو ځنګلونو ورشوګانو تماشه کوله اوس د ګاډي حرکت ډېر خوند راکولو یو ځل مې بیا خیال د خپل بچي نه چاپېره شو، مبارك شه! خپلې شونډې مې د هغه په مخ کېښودې هغه ورو غوندې وخوسکېده لکه چې یو ځل بیا په ناسته ناسته زما په غېږ کې څه وخوځېدل لکه چې د یو پوست مالوچ لاس کلك بند موټي د ماشومې ادا سره خلاص شوې وې، یوه وړه پسته چاچۍ د ژوند د خوشحالو د راغونډولو لپاره بیا خوره شوې وې، ان تر دې چې ما یې دوړود وړو ګوتو نري سرونه هم د خپل وجود سره لګېدلي محسوس کړل، پدې حرکت ما د ځان دننه یوه خوشحالي یوه حیراني محسوس کړه، هغه لکه چې د مور په خوشالۍ پوهېده، د مور په احساس خبر وو، مانن ډېر په شدت سره د خپل بچي ټول وجود، ټول احساس ټول شخصیت محسوسوه، زه ډېره خوشحاله وم، د ګاډي د ودرېدو سره مې سترګې پرانستې دا ځل د هرچا نه زه مخکې مخکې رابښکته شوم په شنه منډه مې ځان هغه لاونج ته راورسولو چرته چې نایاب په ډېره بې تابۍ زما انتظار کولو نن زما په دومره ایسارتیا هغه د وړاندې نه مطمئن وه ـ اوس سره غرمه وه زه د هغه مخې ته ودرېدم لږ په شوخۍ مې د هغه په سترګو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکتل یو پیغام، یو زیری، یو کیفیت مونږ یو بل ته په سترګو سترګو کې ورسولو.

راځه چې کښېنو نایاب که هرڅومره خپله ستړی وه د انتظار په سولی یې دا ټول وخت تېر کړی وه خو زما د ستومانۍ ورسره ډېر فکر وه. او بیا د دې دنیا، د دې ځای په یو ښایسته غوندې کیفۍ کې دواړه کښېناستو یو بل ته مخامخ. تا خو به څه خوړلي هم نه وي، اول خوراك ورستو خبرې. نایاب په دې وېنا د هوټل نرخ نامه راواخسته. ما دومره انتظار نه شو کولې. څه به خورې؟ هغه زما نه تپوس وکړو. چایې ښه او ورسره لږ خوراك. زما په سر لږ لږ درد هم وه او د غسې دردونه عموماً د چایو توده پیاله راټول کړې او د هغه دا زړه وه چې ډوډۍ خوړل پکار دي او بیا زما په خوښه هم د تودو چایو او ورسره مو څه د خوراك فیصله وکړه، دا وخت د تودو چایو د سرورناکو ګوټونو ډېر چك لګولی وه. د خلکو تګ راتګ، د نوو واده کړو جوړو خپلو کې د نزدې ناستې او پټو ګنګوسو دې ټول ماحول ته یو عجیبه رومانویت ورکړی وه. د چایو په دوران کې مې د انټرویو ټول روداد هغه ته واورولو. دواړه په ډېر اطمینان د تګ د پاره راولاړ شو. خپل جمع کړي سامان مو ترلاسه کړ، خپل موبایل فونونه چې په لاس راغلل نو اول مې اظفراقبال ته ټول حال ورکړو، هغه هم ډېره خوشحاله وه خو زما یو ارمان نیمګړي پاتې وو او هغه وه د اظفراقبال لیدل، چې داخبره مې هغه ته وکړه نو په برق برق یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخندل، وې ملاقات به وشي خو چې ستاسو کار وشو، نایاب هم په یو ګوټ کې ولاړ وو، خپلو دوستانو، ملګرو ته یې کالونه کول، ماهم خپلې خوېندې او ورور خبر کړل، د کور د خلکو سره مو هم خبرې وشوې، د حاجي صېب کورنۍ هم خبر شوه ټول ډېر خوشحال شول ټولو زما د ښه سفر د کامیابۍ دعاګانې او هیلې زما په نوم کړې خو په دې ټولو خبرو اترو، خوشحالو کې یو ځل بیا زما ذهن خپلې ترور ته لاړ، د مرګ په کټ پرته ترورمې چې د هېڅ نه نه خبرېده، بس د خدای اسرې ته پرته وه، زما سترګې بیا لمدې شوې ترور هم لکه د مور خوږه وي، د ساه حساب د خدای سره وي خو په ظاهره د داسې ناروغي کس حالت او کېفیت هم بنده یوه اندازه ورکوي، ماته هم خپل ورور په فون د هغې د نورې بدترۍ حال راکړي وو، د ګډې وینې او د ډېرې نزدې رشتې درد په خپله سینه کې ناکراره کړم، د دې حالت سره مې د خپلې مور د اخري ژوند د رنځورۍ او کړاو ټوله ستخته را مخې شوه، انسان وي او بیا نه وي دغه ژوند دي هر انسان پکې د خپلې برخې کردار ترسره کړي او بیا فناشي او چې کوم روحونه راتلونکي وي هغوي ته څومره انتظار وي، د هغوي لپاره د ژوند کوم کوم سامان اخستي شي؟ زما د امریکې د سفر مخې ته د ازمېښتونو یو ټولګي ولاړ وو. په دې ټوله سترېیا کې یوه د خوشحالۍ داسې لمحه نه وه چې زه یې د ګوتې نه نیولې وې او چرته لرې د بې غمۍ دنیا ته یې بوتلې وې خو دا د خپل احساس خبره هم وي مونږ ته خدای داسې زړونه راکړي دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولې دنیا غمونه پکې ګرځوو او ترور خو بیا ترور وي اوس هغې ته مې بس د دعاګانو ډالۍ ورکولې شوې.

تر مردانه سفر هم د دغه رنګ احساساتو په اوښکو او اسویلو کې ترسره کېده د امریکې د تګ یقیني صورتحال ډېر عجیبه رنګ خپل کړي وو، خوشالي وه خو د هغې په شدت کې کمي راغلي وو، چې ولې؟ اوس پاسپورټ ته انتظار وو، خو ورسره دا خطره هم وه چې هوایي کربنې والا به ټکټ راکړي او که نه؟ اوس ټول سوچ دغه وو، په داسې حال کې د ملګري شعېب یوسفزي دې خبرې به مې لږه طبعه برابره کړه چې ستا په پاسپورټ خو چې د امریکې ویزه اولګي کنه دې مسلې سره به روستو ګورو! یاده دې وي چې دغه ملګري دا وخت پې، اي، اې په انتظامي څانګه کې یوه مهمه دنده لري، اظفراقبال دا یقین نه شو راکولې چې په پاسپورټ به ویزه خامخا لګي دغه څو ورځې د پاسپورټ او د ویزې د پاره د انتظار په غرمو څومره ګرانې وې خو بیا یوه غرمه چې زه په غرق خوب اوده وم.

د اظفراقبال په زنګ مې سترګې وغړېدې د خوب ډکې سترګې مې د لاس په تلي ومښلې د سلام نه پس یې سمدست دا زېری راکړو چې ستاسو پاسپورټ زما لاسو کې دی او ویزه پرې شته...؟ ما د هغه نه په بې تابۍ تپوس وکړو. هغه زما په دې حالت په برق برق په خندا شو. هو! او په ما کې لږ دم راغلو. اوس به هغه ماته پاسپورټ د کوریر ډاك په ذریعه رالېږلو او بیا چې سبا نایاب د دفتر نه کورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلو نو په لاس کې يې يوه غټه لفافه نيولې وه د لرې نه مسکی مسکی کېده په پاسپورټ لګېدلې د امريکې د ملتي پل ويزې لکه د ټال وځنګولم اوس لکه ما د دې سفر د پاره د جهاز په پوړو پښه اېښودې وه . ډېره خوشحاله وم په لاسو کې مې د جهاز ټکټ نيولی وه، ګېرچاپېره د هوايي ډګر لوی مېدان مې د سترګو د وړاندې دی . د مسافرو تګ راتګ ګڼه ګوڼه د رغړنده بېګونو ګړړار، هر يو کس په منډه دی، زما هم د جهاز د الوتو وخت رانزدې دی، سترګې مې د خپلو مئينو نه په جدايۍ لمدې وي، ګېرچاپېراوتراوترګوم چې ناڅاپي چا د متې نه کلکه ونيولم . . . ته نه شې تلې . . . ما په هېبت د دغه کس مخ ته کتل، ژبه مې نښتته خو په سترګو کې مې يو سوال وه، اخر ولې؟ خو هغه زما د سترګو په ژبه نه پوهېدواو زر يې يوې کېمرې ته اشاره وکړه، هاغه لګېدلې کېمره دې نه پرېږدي او ما ډېر د افسوس نه سر وخنډلو، مرۍ مې غنې غنې شوه، يو خوا بل خوا مې شعيب يوسفزي ته نعرې وهلې خو هغه مې په نظر نه راتلو، د ګړۍ ستنو خپل رفتار ګړندې کړی وه، زما پرېشاني او حال د کتلو وو او زه د خلکو په دې مېله کې تماشه شوې وم، هر سړی زما مخ ته ګوري، په ما افسوس کوي، د جهاز د روانګۍ اعلان وشو ، اوس به څه چل کيږي؟ زه يو ځل بيا د هاغه کس منت زاري کوم، ما پرېږده چې زه لاړه شم، دواړه لاسونه مې ورته په منت نيولې وي خو د هغه زړه د کاڼي نه هم کلک دی، ګوره بې بي په جهاز کې ستاسو وړل زمونږ د پاره د نقصان دي، ته په دې ولې نه پوهېږې . د ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې وسې نه زه په ژړا شوم، زما ټولې خوارۍ په سيند لاهو شوې، ټوله منډه مې ضايع شوه ـ اُف! خدايه خلك به څه وايي، د خلكو د خبرو احساس رابانـدې يخه خولـه راوسـته، وجـود مـې سم لكـه د زلزلې جړقېدو، چرتـه يې؟ د ناياب غږ زه لكـه چې د يـو خـوب نـه راويښه كړم ـ هن؟ ولې ما خوب ليدو څه؟ د ځان سره وګورېدم ، او چې د دې حالت نه لږه بهر شومه نو په لاس كې مې خپل پاسپوټ ليدلو، خپل عكس ته مې زېر زېر كتل ، بس اوس هرڅه سم دي ، د تسلۍ يوه ساه مې واخسته خو د ويرې د دې څو لمحو كېفيت زما وجود ډېر په لړزان كړى وه، د رچېل كوپر او مارټين رېكر رابطې زما سره نورې كلكې شوې، د ويزې ترلاسه كول په داسې حالاتو كې چې د رېمنډ يوس (امريكايي سفارت كار) د كړي لوى جرم نه پس دا مجرم چې د پاكستان حكومت هغه امريكې ته واپس لېږلى وه او د پاكستان پـه اولـس كـې د دې پرېكړې ډېـر خـراب ردعمل روان وه نو زما د ويزې لاس تـه كونـه رچېـل كـوپر او مـارټين كوپر خپله لويه كاميابي ګڼله ، اوس ستا ټكټ اوكې كړو؟؟

او زما د پـاره د دې نـه لويـه د خوشـحالۍ خبره بلـه څه وه چې د ټكټ مرحلـه هـم پـه خوشـحالۍ سره رسـېدله زمـا د "هو" پـه كـوه بلـه ورځ هغوي زما ټكټ ماتـه راولېـږه چې پكې زمـا د تـګ راتـګ ټـول شـېډول برابـر كـړى شوى وه ـ اوس د نايـاب ټولـه توجـه زمـا د سفري كاغذونو په فايل راغونډه وه خو څنګه څنګه چې وخت رالنډېدو نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې لوی سفر ته مې د خپل وجود د بدلېدونکي حالت له سوبه
حوصله هم غورزېدله ـ په دغه وخت کې به د نګار روف هغه خبره
بیابیا رایادېدله "خور! ډېر لوی سفر دی، د انسان د جهاز د نوم نه
هم کرکه پیدا کړي" او بیا زه خو نو ـ ـ ـ!! به هرحال د ملګري شعیب
یوسفزي د وینا مطابق ماته اوس د ډاکټرې معاینه کول وو، او بیا
طبي سند ترلاسه کول، چې زه د دې سفر جوګه یم، د ډاکټرې نه مې
وخت واخیسته، او په مقرره وخت د ډاکټرې کلینك ته ورغلم،
لومړي مې د معمول معاینه وکړه، د څو میاشتو راهسې ماشوم بې
ځایه مخ چپه وه، د داسې ماشوم په پیدا یښت کې ډېرې خطرې وي،
خو ډاکټرې دایوه نارمل خبره ګڼله ماته به یې تسلي راکړه چې هېڅ
فکر مه کوه! د ماشوم حالت بدلېدي هم شي، نن هم مسله هاغه
رنګ وه، ډاکټرې زما تګ کې لړه اندېښنه څرګندوله خو بیا یې
وویل چې که ته رښتیا د څو ورځو لپاره ځې، نو تاته لاوخت شته
زما درته اجازه ده او د دې خبرې یې راته یو لیکلی سند هم راکړ،
اوس زما په تګ کې د نه تلو څه جواز پاتې نه وو، د دې نه وروسته
د ترور لیدو ته ورغلم، خیال مې دا و چې د خپلې مور د قبر دیدار
هم وکړم او د خپل پلار نه هم دعا واخلم د ترور حالت مې هاغسې
و، ستر ګې پټې او لنډه ساه به یې ژر ژر اخسته، زړه مې د هغې په
دې حالت ډېر زهیر شو، داسې راته محسوسېده لکه د کټ سرته
مې ورسره مرحومه مور ناسته وي، ماته وګوري چې ځه! ترور
پداسې په داسې حالت کې مه پرېږده! د هغې داسې کړاو ته مې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شو کتلای او هغه مې په تورو خاورو هم نه پیرزو کېده، څه مې کړي واي پداسې خپګان کې د کلي نه رارروانه شوم، نن ماښام زه د خپل مشر لېورزي عمران ایوب مېلمنه وم، هغه د تګ نه وړاندې ماته په خپل کور کې یو شانداره دعوت راکړ، زمونږ شکور، کور او نغری یو دی خو د دې لېوني بچي مینه او محبت دومره ډېر دی چې باوجود دې هرڅه دا یې یوه زیاتي ګړي پېرزوینه وه، دا یې وویل چې بس ټول به راغونډ شو او ماښامې به ښایسته کړو او هني به لږه تنګه کړو، هم داسې مو وکړل د کور ټول واړه او غټ په لوي دسترخوان راټول شول ښه خوراك او ښې ډېرې خبرې مو وکړې، په دې کې ډېر پخلي ما په خپل لاس کړي وو چې ټولو یې ډېر صفتونه وکړل د ماښام په رومانوي وخت کې مو ډوډۍ ډېره په مینه او خوند وخوړه، په دسترخوان زه او نایاب نزدې نزدې ناست وو، عمران چې د تورې ږیرې او خپلې ظاهري او سنجیده کوارې سره سره یو شوخ او مست زلمی هم دی خو د پلار او تره په وړاندې د احترام نه ډېر په ادب ناست وه ـ د ښو لاندې به یې راته غلی غلی وکتل لکه چې څه شوخي پرې چونګاره لګوي خو د پلار او تره په موجودګۍ کې دا خبره ماته کولې نه شي، زه پرې ښه پوهېدم ماسره خو لکه د همځولو دوستانوشوخیانې کوي کله کله ورته سمه د خندا نه شنه یم، شېخه! بس دی خدای ته وګوره، ما د خندا نه خپلې کولمې نیولې وي او شېخ به یوې ټوکې پسې بله راخستې وي خو نن د هغه په دې تکلیف راته ډېره خندا راتله ، شېخه! وریژې ما پخ کړي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه قابله یم که نا! اخر مې خبره وکړه او هغه هم نور صبر نه شو او په غوږ کې راته پټ شان وویل، هو! قابله یې خو د وهلو- او په دې خبره زه په خندا شوم، داسې د دې ښکلي ماښام یادونه او خاطرې هر یو کس د خپل خپل ژوند په جولو کې راغونډول، د شپې ترناوختــه د ګپ شپ سلسـله جـاري وه، د شنو چـایو نـه مـو زور ویستلی وه.

خو کله چې د شپې د څملاستي د پاره کټ ته ورغلم نو د خپلې مرګانه ترور حالت مې بیا ترسترګو شو- د هغې لنډې لنډې ساګانې لکه چې د هغې د ژوند په ترلې سلسله ډېرې ستومانه وې، زما زړه دغه وخت لکه چې چا بند په موټي کې ونیوه، لحظه په لحظه یې زور ورکوه - د ترور د لنډو ساګانو هغه اوازونه مې دلته هم اورېدل - د هغې د ځوانۍ دور ته لاړم، ډېر بچي، ډېره اسودګي، ښه ژوند، پېسې دولت، د خپلو مئینو سره د هغې مینه او محبت... خو بیا یو دور یې داسې هم لیدلی وه چې د هغې د ژوند خراب دور وه - په بچو کې یې د کرکې او بې اتفاقۍ هوا راالوتلې وه - د دوي ترمینځه حالاتو د بغض او نفرت تخم وکرلو او دغه بوټي زر زر ځواند ېدل عن تر دی چې د جهالت او نفاق لوېې لوېې اونې ترې جوړې شوې، زما د ترور د ژوند ټوله سرمایه یې د خپلو ګور او ازغنوځانګو د لاندې کړه، هغه یې یوازې کړه، اوس د هغې خله لکه چې چا په څوك ترلې وه، ډېر وخت یې خبرې نه کولې چپ چاپ به ناسته وه، بس د وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره یې په نه زړه خپل وخت تېرولو ټول حاکمیت او باچایي ترې اخستلې شوې وه او د بل لاس ته ناسته وه خو د چا نه یې چرې ګیله نه وه کړې او نن د مرګ او ژوند په پوله ولاړه وه، د هغې خبرې ماته د هغې د ژوند د هرې لمحې یو تصویر رامخې ته کړو او تر ډېره وخته ما دې روان فلم ته په یو مخ کتل شپه مې ټوله په داسې ناقلارۍ کې تېره کړه، سحر مې دا فېصله وکړه چې دا څو ورځې کور کې تېروم چې د سفر د پاره تازه او تکړه یم ـ اخر هغه ورځ راغله چې نن به زه روانېدم ـ د خدای بخښلي اختر زمان کورنۍ په دې تمه وه چې موږ به هلته ورځو او هوایي ډګر ته به مو هغوي وړي، اختر زمان خټک په هوایي مېدان کې خپل د پروټوکول افسر ته زما د الوتکې وخت او نېټه د وړاندې ښودلې وه، د هغه په خیال دغه کس به ماته د ټولو مرحلو نه په اسانتیا سره د دې نه د تېرېدو لار برابروله، خو دلته شعېب یوسفزي بیا په موږ زوراور شو، هغه وې تاسو به هم ماسره پاتې کېږئ، د شپې ډوډۍ هم دهغه له خوا وه.

نن غرمه ګرځنه وه سپېرې سپېرې سیلۍ الوتې، د ټولونه په ډېرو دعاګانو کې د کوره ووتو، په ټوله لاره ګرځنې سیلۍ الوتې، خو پنډۍ کې د ښوځاځکو د شېبکې په وجه موسم خوشګوار وه شعېب یو ښکلي هوټل کې زموږ د استوګنې چمتووالي نیولي وو، خپله په ډیوټۍ وه مونږ د هغه په ښودلي شوي درك نېغ هوټل ته ورسېدو، د هوټل استقبالیې په ډېره مینه هرکلی وکړو اوزمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېګونه يې په منډه کمرې ته ورسول خو د کمرې دننه داسې ساه نیونکی خُوپ محسوسېدو چې زما په زړه يې ډېره سخته راوسته، اې سي سم کار نه کوه، نایاب د کوټې يوه کړکۍ چې چت طرف ته خلاصېدونکې وه، د هغې دروازه پرانستله، د تازه هوا يوې يخې چپې غېږې د څه وخت د پاره په سکون کړو خو سمدستي د ماشو يو لوی لښکر کوټې ته راننوتو او مونږ سره بله لاره نه وه چې د دروازې کړکۍ بیا وتړو. نن شپه مو په ويښه وه ولې چې ثلور بجې د جهاز د روانېدو وخت وه او دوه ساعته مخکې تګ ضروري وه نایاب ووې ستا په سر لوی سفر دی لږې سترګې پټې کړه چې تازه شې نو ملا مې په کټ لږه ولګوله.

خو د ماشو لښکرو داسې تنګه کړم چې بیا په کټ کې ابغه نېغه کېناستم، اوس دواړه د دې هوټل په چت ولاړ وو، د دې ځایه مو د پېنډۍ د ښار ننداره کوله، ښکته د پېنډۍ ښار د خلکو په چپو سمندر داسې په خپله سینه پورې کلك نیولي وو، لکه مور چې خپل بچي نیولي وي، يوه شېبه خو دې ګڼې او شور وارخطا کړو، خو زه چې د دنیا يو بل لوي ښار نیویارك ته روانه وم اوس مې د خیال په سترګه د پېنډۍ د ښار او نیویارك موازنه کوله، دواړه مې د يو معیار په تله تلل، خو په خپل سوچ خندا راغله چېرته دا د درېمې نړۍ د يو ورسته پاتې هېواد ښار چې د خیرن والي او ګندګۍ پکې د ماشو مچانو لښکرې راپېدا کړي دي، چرته چې د ځکلو د پاکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبو نه خلك محروم دي، خو د دې اوبو په څکلو مجبوره هم دي، چې په نتيجه کې يې د تور يرقان يا زيړي رنځ په شان موذي رنځ ګټې خو د دې وطن سرمايه داره طبقه د ځان د پاره د سوتره اوبه يعنې منرل واټر اخيستلاي شي، د دې وطن حكمرانه او افسرشاهي طبقه چې د خوار اولس وينې څښي زموږ د ټېكسونو په دولت خپلې خېټې څربوي خپلې عياشۍ پرې کوي، د پېښېدو د ښار دې رش زما احساسات لكه چې لمبو ته ونيول ــ ناياب ته مې وويل كمرې ته ځو، هغه وويل دا ځاى د كمرې نه ښه دى.

هوا خو لګي...! اوبيا ماشي هم نشته، د هغه په دې وينا زه د لوى چهت يوې خوا ته په يوه جوړه كړې دونكاچه كښېناستم .. د نيويارك د رچل كوپر) او مارټين ناليدلې څېرې مې ذهن ته راغلې، مارټين رېكر د ميانه عمر يوه دنګه لوړه ښايسته ښځه وه، د نرى فريم سپينې چشمې يې په سترګو وي، دخپل دفتر په كارونو بوخته وي، او رچل كوپر هم په دې اداره كې په خپل كار لګيا وي، يو ښكلى ځوان چې په خپلو پستو پستو خبرو ټول بوخت ساتي! د ځان سره مسكۍ شوم، د خپل خيال سره مې د هغوي دواړو عمرونو، قد، قامت، د نر او ښځې د لګولي اندازې سره اتفاق وكړ، خو په دفترونو كې په خپلو خبرو، خوږو خوږو خبرو څوك بوخت ساتل، هو! دابه چرته پاكستان وي نو، چې د كار پته پكې نه لګي، خو په داسې ځايونو كې داسې بې ځايه هلې ځلې رواني وي! ټيك ده!...

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د پینې اوجیده کواره ...؟ دغه ټولو کسانو ته زه پخپل خیال کې مسکۍ مسکۍ کېدم ــ او بیا د دې خیالونو سره په مشغولا کې ډېر وخت تېر شو، ما چې وکتل نو نایاب نه وه هغه کمرې ته تلې وه. زه هم راپاڅېدم او د کمرې په لور روانه شوم. اوس د ماښام تیاره په کائنات خوره شوې وه. مونږ دواړه د شعیب یوسفزي په انتظار وو، او لږه شېبه وروسته د کمرې دروازه چا په داسې انداز غلې غوندې وټکوله... چې د هوټل کس خو بېخي نه ښکارېده، نایاب دخونې دروازه پرانسته.

د سلام نه وروسته شعیب په ډېر احترام راننوته دیو بل نه مو پوښتنې وکړې، بیایې زما د سفر ټول احساس راپه زړه کړ، تاسو ته د ارام ضرورت دي زما په خیال ډوډۍ به وخورو خو د دې لپاره به بهر ځو! ما دخدایه څه غوښتل ولې چې پدې کمره کې د چالان اي سي په شتون کې د ګرمۍ احساس نه کمېده.

لږ ساعت وروسته په یو ښکلي هوټل کې چې یو روماني رنګ او فضا یې لرله، ډوډۍ لپاره کېناستو ډېرې جوړې لاس په لاس، غېږ په غېږ ناستې وې، د ژوند ټول ښایستونه دلته په اتڼ وو، په داسې ماحول کې د شعیب ښکلو ښکلو خبرو چې په ادب او سیاست یې کولې، ډېر خوند کوه، نایاب او شعیب خو لکه چې یو بل په لومړي ځل لیدل زه ډېر وخت نه غلې ناسته وم، د خپل سفر فکر وړې وم، شعیب زما په څېره خور فکر احساسولو، نن شپه که زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنده په هوايي ډګر کې نه وي، نو زما مشر ورور به خامخا وي ته فکر مه کوه!

ما به وخندل او داسې مو د يو بل نه اجازت واخسته؛ شعيب! د ښه سفر دعاګانې زما سره ډالۍ کړې دوه بجې به هوايي ډګر ته روانېدل وو، ددې لپاره مو لږ ارام غوره وګاڼه خو ډېره په ډېره اوږېدل وو خوب چرته وو؟ د نایاب په اواز را پاڅېدم د هغه سترګې بیا سرې تښتېدلې وې، ژر ژر مې ځان تيار کړ، دوه رکعته نفل مې وکړل، دلته د هوټل يو ګاډی تيار وو ډرايور زموږ په تمه ناست وو او بيا ګاډي د پنډۍ د ښار په ويښ بېدار ښار په سړکونو روان شو، زما بچي به د خپل وجود احساس بيا بياراکولو...ته يواځې نه يې ـ ـ زه تاسره روان يم...او دې احساس به زه په تسلۍ کړم...چې ماسره زما بچی روان دی، لاس په لاس، غېږ په غېږ، احساس په احساس، او زما قدم په دې ښايسته احساس لکه د بنګړي سپک شو. د ګاډي د يو کړکۍ نه مې بهر دنيا ته کتل. نایاب هم زما سره جخت ناست وه، دومره نزدې چې د پېنډۍ د ښار د دې نېمې شپې په نيمايي شور او نيمه چپيا کې مې هم د هغه د زړه درزا ښه اورېده. د هغه زړه بل رنګ درزېدو ـــ!! د هغه حالت هم زما نه بدل نه وه ـــ چپ چاپ وه ـ بالکل غلی ـ!! ته خو سمه يې کنه؟ د هوايي مېدان په دروازه ننوتو دلته هم په دې تياره شپه ژوند رڼا رڼا وو، بلو رڼاګانو خپلو کې د رڼا په ژبه خبرې کولې، د دې ځای بېداري او

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرکت د کتو وو، د امريکې د تګ نه راواپس کېدل به زما د ژوند د يوې بلې اهمې او مهمې مرحلې سرته رسول وي، زما د بچې د راتګ مرحله، زه ډېره په سکون وم، دې مقام ته روانه هره لمحه زما د پاره ډېره د ياد ساتنې وه. هرې ګړۍ به ماته تسکين راکولو. هر هاغه کړاو او درد ته بيخي چمتو وم چې زه يې د نيشت نه شته کولوم. ډېر زر زما د ژوند د کتاب يو نوی باب سپړدونکی وه. د دې باب په ليکلې هر ټکي به ماته زما د بچي غونډه مونډه څهره پرته ښکارېده. هر لفظ به يې ماته "هلمند" "هلمند" برېښېدو. زما د ژوند د کتاب دې نوي پرانستونکي باب ته د ورو لويو سترګې وې - - - زما د ماشوم هر حرکت اوس لکه چې زما د پاره د خاپوړو تر پاپلې پل رسېدلی وو. لکه چې اوس يې زما د لاس ګوته کلکه نيولې وي - ــ - په دې سوچونو اميدونو او تصوراتو کې ګاډی د بېنظير انټرنېشنل اېرپورټ دننه تلی وه. ګڼ مسافر د عمرې د پاره روان وو. مونږ د بېن الاقوامي روانګۍ په مقرره ځای کې ځان له د ناستې ځای پېدا کړو. ګړۍ ته چې مې وکتل نو لږ وختي وه. ما سوچ کولو چې اوس د سفر د دې مرحلې کاروايي سرته رسول دي او بيا سمدستي د ناياب نه رخصتېدل... ما د قصده لږ وخت د هغه په څنګ کې تېرول غوښتل، د هغه سترګې د بې خوبۍ او بې ارامۍ د لاسه تکې سرې تښتېدلې وې. د سر وېښته يې ټول ګډ وډ وو، په مخ او سترګو کې د سوروالي سره د اميدونو ډيوې هم روښانه وې، هم دې اميد خو مونږ ته د ژوند لارې رڼا کولې، د عمرې په احرامونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې نغښتي مسافر هم ډېر خوشحاله ښکارېدل، لکه چې دلته ټولو ځایونو سپین احرامونه تړلي وي. . . ډېر خلك ببلا ببلو هېوادونو ته روان وو. ټول مسافر د سفري پړاوونو نه تېرېدل. زما جهاز پخپل ټاکلي وخت روان وه. زما زړه د ویرې نه بې واره بې واره درزېدو. د اختر زمان ختمك مرحوم (په ګور یې نور شه. امین) پروټوکول افسر مونږ ته په انتظار د ولاړ کس موبایل نمبر راکړی وه. زما په فون دغه کس ماته په خپل ځای د انتظار وېنا وکړه چې "زه درغلم". مونږ د ده په راتګ ډېر مطمئن شو. دا یو غنم رنګی، دنګ لوړ کس د چې خپل لباس یې اغوستی وه، هغه زما بېګ ترلاسه کړو او په چابکو قدمونو زما نه مخکې روان شو، راځه! د هغه د خولې نه دا ټکي څه وتل وو چې زما حالت په خرابېدو شو، ما په یو الوداعي نظر نایاب ته کتل. سحر ته خو لا ډېر وخت دي، دې به دا دومره ډېر وخت دلته څنګه تېروي؟

په دې فکر کې لا ډوبه شوم ته ورځه الله دې مل شه! زه هم دلته یم چې رڼا لګي نو خپله لار به اخلم، پدې خبره موږ د یوبل نه جدا شو. هاغه کس دومره زر دننه تللي وو چې د خلکو په ګڼه ګوڼه کې ماته د هغه پیدا کول هم ګران شوي وو، دلته به اوس د یو ګېټ به خلاصېدو زه دننه تلم مخ مې په شا یوځل بیا راواړوه، نایاب هم هاغه ځای کې ولاړ وو، د خلکو ګڼه دومره ډېره وه چې کله کله به

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې هغه نظر نه تېروبېر شو او چې د هغه د لاس الوداعي اشارې ته مې وکتل نو د سترګو نه مې اوښکې روانې شوې...

دا ورځې د هغه نه پرته تېرول زما لپاره یوه لویه ازموینه وه، د هغه د طبع او مزاج کور کې د نورو خلکو نه بدل دی هغه یا ما سره نژدې وي، یاچې زه نه یم یوازې وي، دهغه خوښه ناخوښه او د مزاج ډېرې خبرې ماته معلومې دي، او دا د یوې ښځې خوبي هم ده چې هغه دې د خپل ژوند د ملګري د مزاج او طبعې نه خبر وي.

ولې چې که داسې نه وي نو ژوند تېرول دواړو ته ګران وي، خو زما ټوله کورنۍ هم په دې ډېره ښه ده چې که زه په کور کې نه یم نو ټول واړه لوي، نایاب ډېر نازوي، خپلو ورېرونو ته خو د ایمان تر حده ګران دی ولې چې دغه یو کاکا یې دی، دغه وخت په دې وسوسو مې د اوښکو یوه غرقه لپه تر ستوني کړه اوس ماته د وړاندې مرحلو نه د تېرېدو لپاره د دې ځایه تلل وو، هاغه کس زما د رغړنده بېګ سره ډېر لرې ولاړ وو او د لاس په اشاره یې ماته د ژر راتلو وویل، دلته جلا جلا ایمګرېشن کاونټرونه وو چې زما به ورسره د دې کس په مرسته څه لږه ایسارتیا راتله دلته مې یو ځل بیا په زړه کې داغم راولاړ شوی وو چې د دې ځای کېمرې به زما ځارنه کوي زما سکریننګ به کوي خو په هر ځای به موجودې په کار عملې ډېر په اخلاق سره زما د کاغذونو کتنه کوله، پاسپورټ ټکټ، بلنلیك او نیویارك کې د وسېدو د ځای ټول کاغذونه زما په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس کې وو، معمولي پوښتنو باندې به هم وارخطا کېدم اوس هاغه کس زمانه رخصت واخسته، ولې چې ټولې مرحلې په خېر سرته رسېدلې وې، زما لوی بېګ الوتکه کې د جمع کېدو لپاره راولېږلي شو او بورډنګ کارډ یې راکړو، زه ډېره خوشحاله شوم اوس هاغه لويي ځای ته تلم چرته چې ټول مسافر دخپل تګ لپاره انتظار کوي د دې ځایه مې نایاب ته فون وکړ، هغه ته مې دا زېری ورکړ چې بس ټول کارونه سرته ورسېدل زما تګ اوس یقیني دی، د هغه د بې ارامۍ راسره ډېر فکر وو، ورته مې وویل لږ ارام وکړه او بیا مې ترېنه رخصت واخسته. دخلکو په دې روان سمندر کې مې ځان ډوب کړ، سترګې به مې عمرې ته د تلونکو احرامونو ته بیا بیا راګرځولې، دې دوران کې یوه د پوخ عمر ښځه زما سره خوا کې کېناسته ددې سره خپل دوه زلموټي زامن هم وو دخبرو لپاره یې راباندې غږ وکړ، چرته روانه یې؟

اردو یې ماته وویله، په لنډو مې ورته د خپل تګ ځای په اړه وویل هغې وویل: چې زه د کشمیر مظفراباد اوسېدونکې یم او داوخت انګلېنډ ته روان یو! موږ دواړه یو ځای تر ډېره وخته ناست وو، ولې چې تر دوبۍ دغه ښځه زما سره ملګرې وه، موږ دواړه په یو الوتکه کې تلونکي وو، هغې دا هم وویل چې څو کاله مخکې چې کومه لويه تاريخي زلزله په دې سیمو کې راغلې وه هغې د هغې ډېر خلك وژلي وو، ډېر کورنه یې ورله وران کړي وو، په دې خبرو نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د هغې سترګې د دې مئينو په بېلتون لمدې شوې، ماسوچ کوه چې که وخت ډېر واوړي خو په داسې پېښو کې تللي مئين تر مرګه نه شي هېرېدلي اوس ما د هغې د فکر د بدلولو سوچ وکړ، تاسو په برطاينه کې کله نه اوسېږئ؟

ويې ويل: موږ هم له ډېره وخته هلته اوسېږو نارينه مو کله کله د کوره بهر بوځي، ګنې په کورونو کې د قيديانو ژوند کوو، وخت په خبرو کې لکه د سيند د ماهي روان وو.

ما په خپل بورډنګ کارډ نظر واچوه په الوتکه کې چې زما کومه ځانګړې چوکۍ وه، دهغې شمېره مې تر سترګو کړه. کله کله به د خپل جمع کړي بېګ فکر ګډه وډه کړم دابه تاته نيويارک کې په لاس درځي؟ دا خبره رايادو شوه زړه مې مې ځانته سم کړ، همداسې به وي، ولې به ورکېږي! د نيويارک په ذکر مې يو واري بيا د تصور ماڼۍ په خندا شوې، په ډېرو فلمونو کې مې د نيويارک د ښار ډېر منظرونه ډېر ځلې ليدلي وو، خو خپله د تګ تجربه مې اوس کوله، په ناسته ناسته دا نتظار دا ساعت تېرول ګران کار وي، او بيا هاغه وخت هم راغی چې ددې لاونج په لاوډسپيکر ټولو مسافرو ته د طياري شمېره بيا بيا اعلانولي شوه، زما خو داشمېره لکه سبق ياده وه، خپل پرېس او د کاغذونو فايل مې په لاسو کې توله کړ او راپاڅېدم خو د پرله پسې د ناستې له سوبه مې ټول وجود جام شوی وو، په ملا کې مې هم د ډېرې ناستې نه ددرد نرۍ څرېکه شوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښې مې نن بیا پړسېدلې وې. پخپل دې حالت لړه وارخطا غوندې شوم ځکه چې وړاندې مې لوی سفر مخې ته پروت وه. نایاب ته مې فون وکړ، هو؟ هغه هم اوس د یقین او بې یقینۍ د حالته وتلی وو، دا باور یې پوخ شوی وو چې اوس به الوتکې ته پورته کېږي، د نایاب سره په خبرو زه په ورو ورو مخکې روانو مسافرو پسې روانه وم خو د تګ چال مې داسې ساتلو چې څوك په ما د امېدوارۍ ښځې شك ونکړي، ځکه چې د الوتکې په پوهکود پښې د اېښودو وخت نه وو راغلی، پاکستان کې هره لمحه څه کېدي شي.

د الوتکې پورې تګ په یو لوی اوږد ګاډي کې په ولاړه وه. ولې چې د دې ګاډي ټولې چوکۍ نیولې شوې، د چت نه راځوړندې پټۍ مې کلکې رانیولې د ې لنډ سفر په لږ وخت کې ډېر خوند وکړ، اوس مسافر یو یو له ګاډي نه ښکته کېدل او د جهاز په زینو ختل د الوتکې په لویه دروازه ولاړ یوې ښایسته اېرهوستې په ډېره مینه ټولو مسافرو ته هر کلي ووې. خو خدای خبر ولې ماته داسې ښکارېده لکه چې د دې ښایسته پېغلې په تورو کجلې سترګو کې زما د څارنې د پاره کېمرې لګېدلې دي. په ما د هېبت نه رپندی راغی. وجود مې یوې یخې خولې ګیپ ونیوه. هسې خو په اپرېل کې په بدن خولې راتلل د معمول خبره وي خو د دې خولې سره یو پټ هېبت هم پروت وه. خو ډېر زر لکه د بجلۍ د پړق په لمحه کې ما په مخکې تګ د جهاز لویې خېټې ته خپل ځان دننه کړو. د جهاز لویه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیا چې په ډېرو برخو وېشلې شوې وه، یوه لحظمه مې ورته حېران حېران کتل، خپله چوکۍ په خپله پېدا کول اسان کار نه وه دغه ګران کار د مسافرو عملې خلکو ته اسانول. زه هم یو کس خپلې چوکۍ ته ورسولم. داسې مې ګڼل لکه چې زه د خپلې واپسۍ سفر کوم، پخپل خیال کې ډېره لرې لاړم خو دخیال د امېل مرۍ مې هاغه وخت دانه وانه شوې کله چې هم هاغې کشمیرۍ ښځې غنم رنګ زلموټې زوې زما سره څنګ په څنګ په څوکۍ کېنول شو، د هغه مور او یو ورور یې په بل قطار کې کېناسته خو دهغوي تر مینځه په سترګو سترګو کې داشارو په ژبه پېغام رساني په اسانه کېدلې شوه ما د ماشوم په ناسته لکه ساه تنګي محسوس کړه ولې چې زما چوکۍ د الوتکې د کړکۍ سره وه او د هغه دوېمه.

د هغه په مخ هم د ساه ډوبۍ تاثرات ماته څرګند ښکارېدل، د یوې پردۍ ښځې سره په ناسته د هغه حالت هم زمانه بدل نه وه، اوس د هغه مور یوه شېبه وروسته د یوې پستې مسکا سره را ښکاره شوه، هغه د خپلې څوکۍ نه ولاړ شو او خپله مور یې په خپله چوکۍ کېنوله، خدای شته د هغه د مور سره د څوکۍ په تبدیلۍ ماهم لږه د سکون ساه واخسته، ځکه چې یوه مسله دواړو ته په غاړه وه، په جهاز کې د مسافرو د ځایولو کار د عملې خلك په منډه کړې وو، خو چې زما نظر به د عملې د خلکو د نظر سره ولګېده، نو زه به هېبت او لړزان واخستم اوس د الوتکې په روانېدو کې لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت وو، زما مخې ته د نایاب خفه جوثه بیا راوښکارېده د خپل کور د ټولو مینه والو مخونه هم راته ترسترګو کېدل، ډېرې ګڼې څهرې مې د سترګو مخې ته لکه د فلم اوړېدې را اوړېدې، په دې کې یوه څېره مې د مرګانه ترور هم وه، یوه څهره مې د راتلونکي بچي وه، دا دواړه څهرې چې زما په مخ یې د ژوند خوشحالو خو ورسره ورسره د غم کرښې جوړولې ورانولې زما د زړه ته به دخپل نوي راتلونکي ماشوم د راتګ د خوشحالۍ سرودونه راتلل، خو د ترور مې د دنیا نه کډه بارېده دې احساس به ډېره ودرږدولم اوس الوتکې د الوتلو لپاره خپلې وزرې خورې کړې وې، ماهم د اېر هوستې په وینا د خپلې ملا نه حفاظتي پټۍ ډېره په احتیاط تاوه کړه، ولې چې د دې سره خوا خوا کې یو نوي وجود ساه اخسته، دلته د یو ترپ یو حرکت سره یې بیا ماته د خپل وجود احساس راکړ، زه د ځان سره مسکۍ شوم، په خېټه تړلې پټۍ به مې په لاس بیا بیا کتله چرته ډېره کلکه خو مې نه ده تړلې؟!

طیارې د هوا لاسو ته ځان سپارلی وه، ټول مسافر یې د ژوند د نوو نوو امېدونو سره خپله خېټه کې وړل، لږ ساعت وروسته په الوتکه کې د ناستې لپاره د مسافرو مخې ته لګېدلې مېزونه چمتو شول، پدې الوتکه کې د خوراك ټول انتظام ډېر معقول وو، مسافرو په خلاص مټ ځانونه مړول، ماسره زما خوا کې ناستې ملګرې زما سره خبرې اترې کولې، خو داسې ښکارېده لکه چې سفر، بې خوبۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ستړیا د هغې سترګې هم اوس خوبجنې کړې وې، ورو غونډې یې سرشاته په څوکۍ ولګوه او ویده شوه، ماهم د خوب لپاره کوښښ وکړ، ولې چې پرله پسې بې خوبۍ او ستړیا خو زه هم بې دمه کړې وم، خو ماته خوب رانغلو، د اېرهوستېسو د سترګو نه په ما د هیبت راتلو کېفیت زمانه لرې شوي وو، د هر قطار لپاره یوه دغه مېلمه پاله مقرره وه، زما د قطار دې مېلمه پالې به کله کله ماته هسې یوه ښکلې مسکا راکړه د هغې په دې ادا به زما زړه نور هم ښه شو.

ژوند به ټول لکه چې د یوې شېبې لپاره د خندا او مسخرې لباس واغونده، سفر په داسې خوشګوار ماحول کې جاري وو، شېبه په شېبه به مو د الوتکې د تګ جاج د هر سیټ مخې ته په لګېدلي ډیجیټل سکرینونو ته په کتو اخستو، د دوبۍ په لور دا روان سفر ډېر ښکلي وو، خو زما په خیال او فکر خو د نیویارك رڼا ګانو پټ پټوني کوه، اخر د یوه اعلان سره الوتکې خپل سفر بشپړ کړ، په ټولو مسافرو کې د بېدارۍ احساس پېدا شو، مسافر د خپل منزل په لور د رسېدو هیلې راژوندي کړ، ددې الوتکې ډېرو مسافرو به د بېلو بېلو هېوادونو لپاره خپل سفر جاري ساته، زما ملا یو پرله پسې درد نیولې وه، خو چې د الوتکې تر دروازې رسېدم نو د تګ سره مې پښې هم چالانې شوې او درد هم ورك شو، د الوتکې عملې د مسافرو سره خدای په اماني کوله د دوبۍ شاندار هوايي ډګر د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو ټولو ښکلاګانو سره زما د سترګو مخې ته وو، د نرمې پستې خو لړې یخې هوا لاسونه په خپل شرارت او شوخۍ زما په مخ لګېدلي د برقې نقاب وچیړلو د الوتکې د پوښکو په سر خو د هوا چلند دومره سېوا وو چې زه یې د راحت او سکون یوې نوې دنیا ته والوځولم، د دې سمندري هوا خپل یو خوند مې محسوس کړ، په ورو ورو د هواګانو په ټېل ناټېل کې د پوښکونه راښکته شوم، ګېر چاپیره مې د دې ځای د ښکلو ښکلو منظرونو نه خوند اخسته، د مخکې سفر ستړیا راباندې د اوسه ځایه خورېده خو دې ماحول په خپلو ښکلاګانو زه پخپله غېږه کې راټوله کړم. زه د نړۍ د دې تعمیراتي نمونې په ښایست کې ډوبه ډوبه په حېرانتیا ودرېدم، په زړه زړه کې مې د هغه انجینرانو هنري او تخلیقي توان ته سلام کولو چې د دې شاندار عمارت په شکل کې یې په ځمکه ایښودې وه او هر تلونکي راتلونکي نه د خپل ښایست شاباسی اخلي.

په دې دوران کې ټول مسافر قطار قطار هغه لاونج ته ته راروان وو، چرته چې به ډېر مسافر د خپل وړاندې سفرد جاري ساتنې لپاره به دبلې الوتکې انتظار کوي، پدې ځای کې هم د رنګونو او رڼاګانو یوه بله دنیا خندني وه چې د مسافرو ستړیا یې لرې کوله. په ډېر هنر او ښایست سینګار کړي شوي دوکانونه او په دې کې سینګار شویو د خرڅون څیزونو خو د رڼاګانو په خله هر لاروي ته د "راشه" ست کولو. دغه ست به چا څنګه نه قبلولو خو خبره د حساب

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم وه. بيا هم ډېرو مئينو خپلو مئينو د پاره ډالۍ اخستې. د هر مئين په سترګو کې د دې ډالۍ سره به د خپل مئين د مينې يو لازواله کېفيت ننداره مې خامخا کوله. ماته هم خپل يو يو مئين مخې ته ودرېدو. خو زر مې خپل زړه په دې خبره په تسله کړو چې د دې هرڅه سره به په واپسۍ کې ګورو. د دې سوچ سره زما دننه لکه چې يوې وړې پستې چاچۍ زما نه څه غوښتنه کوله. زه يوځل بيا د ځان سره مسکۍ شوم... نه نه، ماته دا واخله ... زه په ځای ولاړه وم..... لکه چې زما بچی ماسره خوا کې ولاړ وي... يو شی يې په نخښه کړی وي ـ!! هو ولې نه ـ!! زه زر پېسې راخلم.... او بيا زما د بچي په سترګو کې د خوشحالو ډيوې روښانه شي. هغه د خپلې لوبينې سره په لوبو شي.... په منډو منډو زما نه لرې لاړ شي... زه ورته د خوشحالۍ نه من من غټېږم.... هلمند په لوبو وي... په منډو وي... خوشحاله وي... او زه ورته مخامخ په يوه کرسۍ ناسته ګورم... ناڅاپي يو ماشوم د يوې زنانه نه د لاس ګوته ونيسي.... او دواړه روان شي ـ!! ما خپلې سترګې بيا بيا اومښلې.... ترلرې لرې مې هاغه ماشوم او مور ته يې کتل. د جهاز په تګ کې څلور ساعته وخت لا وه. زما د پاره په ناسته دا وخت تېرول ګرانه وه. غوره مې دا وګڼله چې ګرځم راګرځم. داسې به د دې ځای سېل هم کوم او وخت به هم ښه تېرېږي. دلته د هندوستان د يوې کورنۍ ډېر غړي ځای په ځای ناست وو چې پکې ماشومان، زنانه او نارينه وو. ښځو يې په مخونو کلك نقابونه لګولي وو او نارينه يې په احرامونو کې پټ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ټولو غړو په ګډه د عمرې سعادت حاصل کړی وه او اوس د وطن په لور د سفر د پاره یې د خپل جهاز انتظار کولو. زما په زړه هم د دې بختور سفر د سعادت ارمان راوورېده. د دې مسافرو په مخونو یو پاك نُور ښکارېدو. ما هم د خپل زړه دننه یو نوې رڼا محسوس کړه. بیا بیا مې دې ځهرو ته کتل. وخت په دغسې کېفیاتو کې خپل پړاو غوځولو او ما د ایرپورټ د دې ښایسته انتظارګاه په دېوالل ځای په ځای د ګهړیانو ستنې ځارلې. دې دوران کې مې د ځان د تازه کونې په نیت غسل خانو او د اودس چاراندام ځای ته د تلو اراده وکړه. د دې ځایونو درك به تاته ځای په ځای په دېوالونو او بورډونو د لیکلو اشارو په عربۍ او انګرېزۍ کې د لیك په مرسته درکولی شي. زه هم د دې ټولو اشارو او علامتونو په مرسته تر دغه ځایه ښه په اسانه ورسېدم. دلته د مسافرو وتل ننوتل په دمادم کې وو. ماته د دومره ګڼې په صورت کې دلته د دې ضرورت پوره کېدل ډېر ګران ښکارېدل. دننه به څه حال وي ...؟ پوزه مې د اوس نه بنده کړه خو د دې ځای د صفایۍ بهترین انتظام ته چې مې کتل نو زړه به مې سم شو. دننه به هم داسې صفایي وي. دلته یوې ښایسته خوشبویۍ کلکه په حصار کې واخستم.. ماته د خپل وطن د داسې عوامي ځایونو حالت مخې ته ودرېده ځای په ځای د اوبو ماتې ګوډې بمبې سخا بویونه ...او بیا ...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې د خپل وطن د خوار اولس په دې حالت هم نن ډېر خفه شو، دلته پاکې غسل خانې په دوه اړخیزه قطارونو کې وې هر ځای د یخو او تودو اوبو انتظام موجود وو، یوې توري فلپاینۍ پېغلې ډېره په خندا او روڼ تندي راته هر کلي وکړ، ژر یې دیوې غسل خانې دروازه راته پرانسته په ارام مې چار اندام وکړ، په لاس او مخ د یخو اوبو اچولو یوه نوې تازګي راکړه، د سکون او راحت احساس یوه اوږده ساه مې راښکله، ددې وطن قدرتي وسایل چې د تېلو په شکل کې یې ټوله دنیا مني خو داسې بې شمېره وسایل خو موږ هم لرو، زموږ وطن هم دداسې وسایلو نه ډك دی، خو فرق داوه چې ددې وطن وسایل ددې وطن د اولس په پرمختګ او مسئلو خرچ کولې شي، او زما د وطن حاکمان، شاهي افسران دا هر څه جېبونو ته اچوي، د دې زړه لړزېدونکي احساس سره په درنو پښو راروانه شوم.

اوس مې د ناستې لپاره یوه چوکۍ راپېداکړه، د ګهړۍ په ستنو چې مې نظر یو ځل بیا ښخ شو... وخت لا ډېر پاتې وو، یوې خواته کېناستم؛ دوه رکعته نفل لمونځ مې وکړ، د مخکې سفر د خېر دعاګانې خو مې سمې د مودو نه وظیفه کړې وه، د مونځ نه وروسته بیا راولاړه شوم. ډېر ګرځېدل او حرکت کول زما لپاره ښه وو، ولې چې ډېر وخت به مې په بل جهاز کې په ناسته تېرېده او داهم یو حقیقت وو چې زما په وجود یو زیاتي ګړی بوج هم وه، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې حرکت بیا د هاغه لګېدلي بازار د کانونو مخې ته راغلم د سرو زرو دا دنیا ډېره پړقینده وه، د سروزرو کالي پټري پرېمانه په نظر راتله د سرو زرو د بنګړو شرنګا به د چانه وي خوښه؟

دغه شرنګ خو ژوند د رومان جزیرو ته بیايي، امېلونه چې د غاړې سینې ښایست ته د لېونتوب ټالۍ ورکوي او داسې نور الابلا د خوشبویانو ویړ بازار خو احساسات وربمه کول، زموږ د خوارو لپاره یې وړیا سېل کول هم لویه خبره وه، د خپلو ارمانونو زړونه مو پرې ټکورول او بیا هاغه وخت هم راغلو چې د مخکې سفر لپاره تابیا کول وو دلته هم د تلونکو راتلونکو یو سمندر په چپو وو هر څوك كه زه ډېره ستومانۍ اخستې وم خو د ژوند د دې نوي سفر تلوسې د لاسه نیولم او په مزه مزه یې د حېرانتیا یو ښکلي جهان ته بوتلم ماته اوس هم د خپل تګ حقیقت لکه دیو خوب ښکارېده خو بیا ...؟

ناڅاپي یوه وېره ددې امېد او خوشالو مخې ته لکه ورانې سترګې وازه خوله بلا اودرېده زما سره یو پنامخ ماشوم په سفروو چې تر اوسه د سفر په ټولو مرحلو کې د پټو کېمرو سترګو نه ولیدلي اف! په ما یو ځل بیا د خولو لختي رامات شول مرۍ مې غنې غنې شوه نه نه ...

زه به یې د هرې کېمرې د سترګو نه پټ ساتم، زما لویې تورې ارتې پلنې بورقې زماد وجود نه خپلې وزرې ښې ټینګې چاپېره کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، او هم دي د تحفظ احساس زما قدمونه نور هم ګړندي کړل، اوس د سفري دستاويزاتو د ښکاره کوني مرحله وه، ټول مسافر بېلو، بېلو ځايونو ته کاغذونه په لاس په قطارونو کې ولاړ وو، ما هم خپل کاغذونه او پاسپورټ په لاسو کې برابر نيولي وو او چې کله زما په قطار کې ولاړې يوې ښايسته پېغلې ماپسې ورستو مخ راوګرځولو او په نرۍ ښکلي مسکا يې زما په برقه کې د ټول وجود اندازه واخسته نو ماته داسې محسوس شوه لکه چې هاغه څارونکي د کېمرې سترګې هم دا دي، زما وجود بيا ګډوډ شو هسې نه دلته مې دسفر کاغذونه رد شي.

دې وهم ډېره ناکراره کړم، خو اوس دومره وخت نه وو چې زما دننه نورې ويرې راپيدا شوې وې، اوس زه په خپل نوبت دغه ځای کې مخامخ يو تن ته ولاړه وم دغه ټولې عملي لکه مشينونو کارونه کول خو بيا هم د هر مسافر سفري د ستاويزات ټول ډېر په غور کتل کېدل.

اوس دې تور نري، نروچکي هلك زما څهرې ته نېغ نېغ کتل زما ټول کاغذونه د هغه په لاس کې وو، پښې مې داسې رپېدې لکه چې اوس په ځمکه کېنم. او کی...د دې هلك د خلې دې ټکي زما په بدن کې تلی طاقت بيا راوسته زما ټول کاغذونه ه يې ماته وسپارل او د جهاز پورې تللې نېغ غزولې شوي لکه د بند پل په لار مې قدم کېښو او دسکون د يوې اوږدې ساه سره يو بل لويې الوتکې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننوتو لپاره چمتو وم دلته هم د الوتکې عملې په ډېره تېزۍ د مسافرو په ځای کولو کې مرستې کولې په لویه دروازه څلور ښایسته ښایسته د بېلو بېلو وطنوالو فضایي مېلمه پالې ولاړې وې په خپلو مخصوصو مسکاګانو یې زړونه وړل، زما خو خپلې څوکۍ ته تلوار وه چې زر ورته ډډه ولګوم خو د مسافرو ګڼه دومره سېوا وه چې تر خپلې چوکۍ تګ ګران برېښېده زما په غوښتنه ژر یوې حورې زما د لاس نه هاغه کاغذ واخسته چې د پاسه پرې زما د څوکۍ شمېره لیکلې شوې وه. زه یې په مزه مزه تر خپل نشت ورسولم خو دلته زما د حېرانتیا لپاره یوه بله تماشه لګېدلې وه د دو چوکو قطارونو کې زما سره په بله چوکۍ د سریلنکا استوګن یو تك تور سړی ناست وو. د هغه مخې ته خپلې چوکۍ ته اوړېدل راته ډېر ګران وو. اف خدایه! په ما سم سر وچورلېده، زه به د کړکۍ خواته په سیټ څنګه ناسته یم، په لاره کې د یو پردي نارینه ناستې او موجودګۍ زه حېرانه کړې وم پخپل ځای به ناست وي. پخپل به ناسته یم. دا ضروري خو نه ده چې په هر سفر کې دې زموږ د خوښې ځای او دخپلې طبعي ملګري وي. دې هم انسان دی خو د پښتني دود دستور هم عجیبه دی د دې کولتور دودونه او قدرونه موږ داسې حالت ته کله پرېږدي؟

ډېره زیاته په فکر کې ډوبه وم اصل کې زما حالت د یوې ناروغه ښځې وو او د پردي نارینه په څنګ کې دومره لوی سفر په نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناسته کول؟ دا ځل زما په اعصابو يو دروند پېټی راپرېوتی و، اخر هغه خوار په ډېر ښايسته انداز کې د خپلې څوکۍ نه پاڅېده او ماته يې خپلې څوکۍ ته د تللو لاره پرېښوده، يوه شېبه په خپله څوکۍ ناسته باندې راته ارام راغی ولې چې د ډېر وخت نه په کينه کې ګېره ولاړه وم. په ناسته ډېر وخت نه و تېر چې غسل خانې ته مې د تللو ضرورت محسوس کړو ولې چې په دې موده کې د داسې ښځې دا تکليف زيات وي، هغه خوار زر د خپله ځايه راولاړ شو خو هغه هم دې ضرورت تر غسل خانې په منډه کړی وه. ما شکر وويستو او د هغه د پاڅېدو نه سمدستي پس د بل قطار غسل خانې ته دننه شوم، ما وې چې دې خپل ځای ته راځي نو زه به مخکې خپلې چوکۍ ته رارسېدلې يم. د دومره لويې الوتکې کوچني تشناب راباندې ساه ډوبې راوستله، په ډېره ګرانه په کې د مخ او لاس مينځلو لپاره ودرېدې شوې، د سترګو په رپ کې مې مخ او لاس ومينځل بورقعه مې په ځان برابره کړه او راغلم په خپل ځای کېناستم. اوس درنګ ساعت ته د الوتکې لوي وجود د خپلې لويې دنيا سره د هواګانو په لار فضا ته اوچتېده. ټولو مسافرو ته د سفر د ضروري لارښوونو ورکولو سلسله روانه وه، دا لارښونې په فرانسوي، انګرېزي او عربي ژبه کې د اشارو سره ورکول کېدل، ما يوځل بيا د الوتکې په لويه سينه کې د نغښتې لويې دنيا په څېرو نظر واچوه. ټول مسافر ډېر په اطمينان سره په څوکيو ناست وو، د الوتکې له خوا ټولو مسافرو ته د ملاستې لپاره يوه نرمه ګرمه کمبل هم ورکول

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېده، ما او زما ملګري خپلې خپلې کمبلې د الوتکې په بره چت کې کېښودې، زما او د هغه ترمنځ يوه اوږده خاموشي خوره وه، د مخ د څېرې نه يو سنجيده سړی معلومېده، د الوتکې وزرې په هوا خورې وې، په مزه مزه د الوتکې د اوچتېدو عمل جاري وو، د الوتکې دې حرکت ټول مسافر لکه د خوبونو په ټال ځنګول، د الوتکې دا لويه دنيا د مور د غېږې په شان وه، زما سترګې هم د ستوماني له لاسه خوبولې شوې، خو ماته د پردې نارينه سره په نږدې ناسته خوب کله راتلو... يو خدايي حجاب او پرده د دې احساس په شکل کې زما زړه ته ده چې هغه مې د يوې نامعلومه پرېشانۍ له سوبه د لاسه نه شوه ورکولې. هغه خپل سر په ارام وروستو کېښود او زما نه لږ په ترس يې خپل ځای داسې د خوب لپاره جوړ کړ، چې څه ناڅه زما په رنګ پرېشاني هغه هم لرله. اوس هغه په خوب ويده و او زما سترګې به په ناسته ناسته کله پټې شوې او کله به وغړېدې، په سيټ راته خپل وجود برابرول ګران شوي وو، پښې به مې کله راغونډې کړې او کله به مې وغزولې، ځان مې داسې راغونډ کړي و، لکه چې د کلي د ژوند چېرته کور ګاونډ مې نه و کړي، زړه کې مې د لوي الله(ج) نه دا سوالونه کول چې خدايا! دا سفر ډېر په خېر سرته ورسوې، لږه شېبه پس زه د خپل ګاونډي د ((خرړا)) په غږ په خپله څوکۍ نېغه شوم... په يو مخ مې د هغه مخ ته کتل، د هغه دې کېفيت زما لپاره يوه بله پرېشاني راپېدا کړه. ياده دې وي چې دا زما يوه کمزوري ده چې په خوب کې په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېفیت کې د چا اواز هم اورم، نو خپل خوب مې د سترګو وتښتي او ژر پرې اواز وکړم. ما چېرته یو مضمون کې لوستي دي چې هر کله یو انسان د خوب په حالت کې په دې کېفیت کې وي، نو د هغه فشار لوړ شي او د ساه بندۍ سره سره په هغه د زړه حمله هم کېدې شي. اوس چې کله نایاب هم د شپې په خوب کې خرړېږي نو زه پرې ژر غږ وکړم، داسې هغه راویښ او د دې کېفیت نه بهر شي. خو دا پردې نارینه چې زه یې نه خوزولي شم او نه پرې غږ کولي شم. زما په دې پرېشانۍ کې د الوتکې خدمتګارانو د چایو، شربت او خوراکي توکو مېز زموږ ځای ته رارسولی و او چې کله زما نه پوښتنه وشوه چې څه به اخلې؟ چایې، اوبه، که شربت؟ نو زما د ګاونډي سترګې هم وغړېدې، شکر دی، ما د سکون یوه ساه واخسته، ژر نېغ په څوکۍ سم کېناسته، یو نظر یې ماته وکتل د هغه په مخ د نرۍ موسکا مړاوې غوټۍ راښکارېدې، خدمتګارانو د اوبو ګلاسونه زموږ مخې ته په تړل شوي مېز کېښودل د تازه اوبو دا یو ګیلاس زما د ضرورت نه ډېر کم و، ما سوچ کاوه چې دغه لاس ګاډي بېرته راځي، نو زه به نورې اوبه یا جوس واخلم، د مسافرو لپاره دا یوه مشغولا هم جوړه شوه، چا به اوبه اخیستې، چا چایې او چا جوس، ایسکریم، د ټولو خدمتګارانو لوڅو بربنډو پښو او پنډیو ته چې مې کتل دا راته د یوې بلې دنیا ښاپېرۍ ښکارېدې، لکه چې دا لویه دنیا دوي په خپلو وزرو راخستې وي، په هوا کړي یې وي او د ژوند او د ښایست

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرته یو لوي کوه قاف ته یې بیایي د دوي په څېرو ډېر ښایسته مېك آپ پروت وو، لباسونه یې ډېر مختصر وو چې د ناستو ځوانانو جذبات یې راپارول، د ټولو ښاپېرو د پښو، لنګو او پنډیو رنګ یو رنګ وو خو هر کله چې یوه ښاپېرۍ زما د ګاونډي په رابللو د هغه خوا ته راغله نو په لومړي ځل مې د هغې لوڅو پنډیو ته په ځیر وکتل. د هغې په پښو یوه نرۍ لکه د پیازو د نرۍ پردې پوست پروت و، داسې یې د سکرټ سره د نازکې بېخې نرۍ پاجامې په لومړي نظر د کتونکي حېرانتیا او تجسس په ځای کولو.
د اوبو څښل څه وو چې یوځل راته بیا تشناب ته د تلو ضرورت محسوس شو، دا خو به ډېره ګرانه شي هر وخت د پردې نارینه دپاسه اوړېدل را اوړېدل. دا ځل مې ټوله حوصله په ځای کړه او دغه کس ته مې وړاندیز وکړ چې وروره! که مهرباني وکړې خپله څوکۍ له ما سره بدله کړې، هغه غلي غوندې له خپله ځایه پاڅېده او ماته یې څوکۍ پرېښوده، ما ترې مننه وکړه، هغه ورو غوندې سره وخوځولو، هېڅ خبره نه ده. د الوتکې ټول مېلمانه په چایو اوبو پاللي شوي وو، اوس د الوتکې دننه د رڼاګانو یوه یوه بتۍ مړه کېده، ورو ورو په دې دنیا د خوبونو د یوې روماني دنیا تصور په حقیقت کې ښکاره کېدو لکه چې ګېرچاپېره ژوند د مینې او محبت سترګیا اوس ټوله د جانان غېږه کې دمه کوي، د احساساتو دنیا په بدلېدو ده، د جذبو ورو ورو ښاپېرو په خپلو نازکو ګوتو د زړونو تارونه لکه د رباب ټنګول، د خوبونو دنیا اوس د یوې کاواکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سندرې رنګ اخستلو، د خواهشاتو دنیا د رقص او سرور ټالۍ وهلې... د پېغلتوب د بندو دریچو په بلو د لېونتوب ډیوې روښانه کېدلې... د خوب ښایسته ښاپېرۍ زما په مخکې هم ګډېدې، زما سترګې د لږ ساعت لپاره ورغلې. د الوتکې الوتنه د هوا په اوږو داسې د خوند وو لکه چې د ځانګو یې ځنګولوم. څه ناڅه وخت په خوب بدل شو خو په څوکۍ د نېغې ناستې له امله مې په څټ او ملا نرۍ نرۍ درد شو، اوس ماته ودرېدل او څو قدمه تلل په کار وو، ګېر چاپېره ټول مسافر ویده وو، ما کوښښ وکړ چې د سترګو تېروبیر شوي نظر مې په ځای شي چې تر تشنابه لاړه شم. په تیاره کې مې ټېل ناټېل ځان ډېر په کړاو خو په احتیاط تر دغه ځایه ورساوه، طبیعت مې اوس برابر شوی و، خدای خبر چې دا شپه وه که ورځ، ځکه چې د الوتکې د یوې کړکۍ څخه هم د رڼا یوه پلوشه نه راتلله. د شپې احساس ډېرې نوکارې لګولې، په خپله څوکۍ په ارام کېناستم سر مې بیا وروستو کېښود لکه چې د خوب ښاپېرۍ ته مې بیا دا منت کاوه چې اې مهربانې ښاپېرۍ! لکه ددې ټولو ما هم په خپله غېږه کې واخله. خو دا ځل لکه چې ښاپېرۍ زما نه مروره وه، ما هسې سترګې پټې کړې چې دمرګانه ترور څېره بیا د خیال په شیشه راوځلېده، د هغې د راولاړې شوې سینې نه د راختونکي شور او ګډې وډې ساه نرۍ نرۍ اواز مې تر غوږو شو، غلی غلی فریاد....! هن! زه بیا په څوکۍ رانېغه شوم، د سترګو نه مې بې واره اوښکې توې شوې، د هغې د دایمي ژوند د ښه کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعا مې وکړه، په دې نا کرارۍ کې مې ډېر وخت سترګې ورغلې، د خوب دنیا د خپل ژوند د ماضي لرې تېر وخت ته بوتلم، زما د دې ترور د خانۍ کور وي.... د هغې لوڼه زما همځولې وي یوې ته به مې د مینې نه ښارو ویل، هغې به زه کور ته ورځو شپو ته رابللم، ترور مې راته خواږه ککوړي پخوي، زه ورسره خوا کې په نغري غاړې ته ناسته یم. بي، بي، ! زه هم نن ستا نه چل زده کوم.په دې وینا مې د ترور مخې ته په پروت خانک کې دواړه لاسونه په اوړو ولړل، سترګې مې خلاصې شوې.. دې خوب ډېره پرېشانه کړم، الوتکه خدای خبر د هوا په اوږو د اسمان د څومره لوړیتا نه تېرېده، خو څومره چې لرې تلو هومره یې د دنیا هاغه ګوټ زموږ نه لرې کولو، کوم کې چې زه اوسېږم، د دنیا د یو ګوټ نه تر بله تلل، ساینسي ترقۍ څومره اسان کړي دي، وخت روان وو او بیا یو داسې وخت هم راغی چې په ټولو مسافرو د امریکې د ایمګرېشن فارمونه ووېشل شول، هر یو تن ته په دې د لیکل شویو پوښتنو ځوابونه لیکل ضروري وو، سوالیه فارم د رسمي او نارسمي پوښتنو نه ډک وه، ما چې دا درېواړه کاغذونه په غور ولوستل نو ددې زیاتې پوښتنې د هاغه فارم په شان وې چې د وېزې د اخستلو لپاره موږ د مخکې نه لېږلې وې، ما بیا هم هسې سرسري غوندې ددغه پوښتنو ځوابونه ولیکل. ټولو مسافرو ته لکه چې د دې کاغذونو په ترلاسه کېدو د امریکې حد ته د رسېدو زېری واورولی شو. ټولو مسافرو دغه کاغذونه د خپلو نورو سفري توکو سره کېښودل، ما هم دغسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړل، دغه فارمونه به د نورو کاغذونو سره د نيويارك په هوايي ډګر کې د ټاپې لګولو په وخت به په يوځای کې جمع کېږي. زه داسې ستړې وم چې په څلورويشت ساعتونو کې مې يو ساعت خوب نه و نصيب شوی، د ستومانۍ نه مې د وجود هر اندام بې دريغه دردونه کول. بلخوا امريکې ته په رسېدو د ايمګرېشن ويرونکو مرحلو راباندې د اوس نه وارخطايي راوستې وه، دسوال د ځواب نه تېرېدل راته سم په غره ختل ښکارېدل، سترګې مې د بې خوبۍ له لاسه سرې تښتېدلې وې، شګې، شګې کېدې. هسې نه چې له دې ځايه..... يو ځل مې بيا هاغه زړې وېرې په زړه کې سر راوچت کړ او بيا هاغه اعلان هم وشو چې..... موږ د نيويارك په نړيوال هوايي ډګر کوزېدونکي يو. مسافرو ته يوځل بيا ځينې لارښوونې وشوې، خپل سامان به هلته ترلاسه کوئ، د ايمګرېشن عملې سره به مرسته کوئ، خپل سفري دستاويزات په لاسو کې کلك او ښکاره ونيسئ، او نور. اوس الوتکه ورو ورو ځمکې ته تلونکې ده، د هواګانو دنيا بره پاتې کېده، د مسافرو هيلې بيا ژوندۍ شوې وې، يوځل بيا هر مخ رڼا رڼا و، اوس الوتکې خپلې وزرې ټولې کړې او د يوې منډې سره د نيويارك په هوايي ډګر ودرېده. ټول مسافر د خپلو ځايونو نه راولاړ شول، ما خپل نږدې ګاونډي ته د وتلو لاره ورکړه، هغه په الوداعي نظر ماته وکتل ما هم ورته په تلو تلو کې د لاس په اشاره خدای په اماني وکړه. هغه ګړندی ګړندی د خلکو په ګڼه ګوڼه کې زما له نظره پناه شو، زه د هغه په څوکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېناستم په دې تمه چې د وروستو نه د راروانو خلکو سلسله لږه ودرېږي نو زه به هم پاڅم، خو الوتکې چې په خپله سینه کې څومره مخلوق ځای کړي وو، هغه د شمېر نه وو، ما یوه شېبه په ناسته خپل سر په مخکینې سیټ ولګاوه، درز، دروز د چټونو څخه مسافرو خپل بېګونه او سامانونه راخستل، زه ډېر ساعت پس د څوکۍ نه راپاڅېدم ما سره زما یو لاسي بیېګ وو، نو ځکه په اسانتیا تر دروازې راغلم، د الوتکې هاغه ښایسته حورو بیا په خپله ښایسته مسکا د تلونکو زړونه له ځانه سره پاتې کول، اوس د الوتکې خېټه د مسافرو نه تشه شوې وه، د الوتکې د لویې دروازې سره لکه د پُل بنده لار اوږده اوږده لکه د ښامار غزېدلې وه، د تلونکو راتلونکو د قدم په ښکالو به یې یو خاص اواز کولو، درب درب، لږ ساعت پس د هوایي ډګر لوی حد ته د لارې نه ووتلو، هوایي ډګر څه وو، د فن او هنر یو بې مثاله شاهکار و، چې په خپلو هسکو، هسکو مناري نقشونو یې مسافرو ته هرکلی کاوه، دغه دنګو دنګو عمارتونو ته په کتو به د انسان نظر د دې تر جبین چې تلو نو د خولې نه به یې د اخ!! ټکي خامخا وتو، لکه چې هر نظر په هاغه تخلیق کار شاباسی وایي، چې دا یې جوړ کړی و، بې شکه چې دې اولس خپل وطن د ترقۍ بام ته رسولی دی، د دنیا اولسونه دلته راځي، لکه د مشین په کې کار کوي او خپلې کورنۍ په ډالرو پالي، دلته دغه خلك خپله وینه سوځوي، خو ډالر ګټي، نظر مې د دې منظرو نه نه مړېده، اوس ټول مسافر د ایمګرېشن د مرحلې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېربېدل، د وتلو لپاره... د کاونټرونو لویه سلسله په نظر راتله، د تلاشۍ لپاره مختلفې طریقې پکارولې، د مسافرو کوټونه، بوټان، ټایانې، جرابې او په بدن به دې اغوستې جامې پاتې کړې، هر څه به درنه لرې کړې. دغه ویستلې شوې شیان د سیکورټۍ کېمرو نه تېرېږي. ددې لپاره په لویو لویو قطارونو کې ودرېدل وو، یو ځای کې د مقامي خلکو لپاره دغه کاروایانې سرته رسولې شوې، بل ځای کې د شین کارډ لرونکو لپاره او درېیم ځای د سېلانیانو لپاره جوړ کړی شوی و، ماته هاغه قطار کې ودرېدل وو چې د سېلانیانو یا وېزیټرز لپاره د جوړ ځای مخې ته ودرېدلی وو، دا مرحله د ټولو نه زړه چاودونکې وه، ډېر وخت پس به یو قدم هلته مخکې کېدو، چې یو کس به فارغ شو، ټولو مسافرو به هاغه فارمونه په دغه ځای کې کېښودل او د شیشې د سکرین په شا به شنو سترګو سرو سپینو امریکایانو خپل کار کاوه، ټک، ټک د مشینونو ټکار، د رڼاګانو پړق او پړوق، د ګوتو نښې کتل کېدې، ډېر وخت پس زما نوبت راغلی وه، ما خپل کاغذونه په کاونټر کېښودل، یو شین سترګي امریکایي سرسري زما کاغذونه جایزه کړل، خو ژر یې زما ټول کاغذونه ماته د دې وینا سره راواپس کړل چې دا پوره کړه، اف خدایا! ما خپل سر په لاس کې ونیو، د قطار نه یو خواته مې په ځمکه پرلت وغزولو ټول سفري کاغذونه مې ځانله برابر کړل، نیمګړی فارم مې ډکول شروع کړل، تقریباً لږ وخت کې دغه نیمګړی کار مې سرته ورساوه، چې د ځمکې نه راپاڅېدم نو ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې نېغه کړه، اوس دغه ځای خالي ځوك په نظر راتلل د خلكو ګڼه لږه كمه شوې وه، اوس هاغه شين سترګي امريكايي ته زه بيا مخې ته ولاړه وم، ناڅاپي زما سترګې د هغه په مخ ښخې شوې، هغه په يو نېب ماته كتل لكه چې د هغه سترګې زما د ټول بدن تصوير اخلي، ته څه لپاره راغلې يې؟ او د هغه نه دې غېر متوقع سوال زما وجود لكه د زلزلې په لړزان كړ، لكه چې هغه په دې رسمي پوښتنې زما څه غلا نيولې وي... ما ورته سرسري شان د خپل راتګ جواز مخې ته كړ، اوس هغه د پاسپورت پاڼې بيا بيا اړولې، چې په دې كې څه ګوري؟ ما په زړه كې كرل رېبل دومره همت راكې نه وو چې د هغه مخ ته مې كتلي واي، ورځه....! او دې خبرې سره د ډېرې خوشالۍ نه ما هم دغه رنګ منډه كړه... بيا ډېر ژر هم د هغه غږ په ځاى ودرولم... پليز.... چې وروستو مې وكتلنو زما پاسپورت او نور ټول سفري كاغذونه يې د يوې نرۍ شان مسكا سره ماته راكړل، ما يې شكريه ادا كړه او د وړاندې تګ لاره مې ونيوله، اوس ما د ازادۍ د احساس سره نوې لاره غوځوله، زما د ذهن، ټول بوج اخوا شوی و، ټولې ويرې په شا تمبېدلې وې.. خو د خپل بېګ د ترلاسه كېدو فكر راسره وو، ټول مسافر په يو خاص ځاى كې چې د هغوي سامانونه په كې د الوتكې د كومي نه د يوې ډيجيټل لارې په مرسته راوتل، هر چا به خپل بېګ دلرې نه په نښه كړي و، دغه پټۍ ډېره وګرځېده خو دپاسه پرې ما خپل بېګ ونه ليده، اخر مې هلته د ولاړې يوې تور پوستې امريكايۍ ځخه پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه چې زما بېګ به چېرته وي، هغې د لاس په اشاره ماته یوځای په نښه کړ او چې څنګه زه دغه ځای ته مخامخ شوم نو د نورو څو بېګونو سره زمابېګ هم موجود و، ژر مې ترلاسه کړ، اوس د هوایي ډګر څخه د وتلو لپاره یوه مرحله بله هم ده او چې په کومه لاره وتم نو هلته یوې لارې یو قطار په ځای ودرولم.. خدایا! چې دلته به راسره څه کوي؟ ماپه زړه کې سوچ کاوه، دلته هم یو تور امریکایي... ژر رامنډه کړه او د دغه ترلې لار په سر کې ودرېد، زماپه لاسو کې د سفري دستاویزاتو نه یې لکه د ټپوس په شان یو زیړ رنګ ورکوټي چټ لکه چې په هوا کې تښتولی وي، دا چټ یې ماته د ایمګرېشن په مرحله کې راکړي و، او دیوې بدرنګې مسکا سره یې داړې چینګې کړې، ماته یې لاره خلاصه کړې وه، د دغه حد نه د راوتو سره مې بهر د ولاړو راغلو هاغه خلکو په څېرو یوځغلنده نظر واچاوه چې په لاسونو کې یې د خپل نالیدلو مېلمنو د نومونو پلی کارډونه اوچت نیولي وو، په دغه کارډونو ما خپل نوم ډېر په بې تابۍ لټاوه، زه کله یوې خواته تلم او کله بلې خوا ته، اوس خو راسره د بېګ پېټی هم وو، چې په رانښکلو رانښکلو مې د ځان سره ګرځاوه، اخر په یو کارډ مې خپل نوم ولید، یوې نرۍ نروچکې خو چستې چابکې ښځې چې نیم وېښته یې سپین وو او نیم سره... ما ورته منډه کړې، حسینه ګل... ما ورته وویل.. او دې سره هغې خپل لاس ماته په ډېره مینه د هرکلي لپاره راوړاندې کړ. ((پیني اوجېده)) زما پر وړاندې زما یوه رابطه کاره راغلې وه، سمدستي یې رانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېګ ترلاسه کړ، ما د سکون یوه اوږده ساه واخسته، شکر خدایا چې په خېر راورسېدم. اوس مې هاغه ټولې وېرې د پښو لاندې شوې وې، په وجود کې مې هر څو د اوږد سفر د ستړیا چینجو چکونه لګول، خو د ډېرو خوفونو او ترهو نه مې ازاري ترلاسه کړې وه او دا احساس ډېر عجیبه وو، اوس مې یوځل بیا د پېښي مخ ته وکتل، د هغې سره مې د څلورو میاشتو د ایمېل د رابطو رفاقت رامخکې شو، چې له مخې مو یې د یو بل سره اشنایي ترلاسه کړې وه، خو زما د تصور سترګې پیني اوجېده د یوې ښایسته پېغلې په څېر لیدلې وه، هغې په منډه منډه یوې ټیکسي ته اشاره وکړه او زه د نیویارك لومړي ماښامي او د خورو ورو ښایستونو ورو ورو لکه چې په ځنګل وهلم، ګېر چاپېره مې د دې ښار د وجود نه راتوېدونکي حسن او ښکلا ته لکه د نادیده وو کتل، ددې وخت هوا ښه یخه وه.

زما به ته یادېږې یاره!

که د جنت په منارو کې ناسته یمه

د نیویارك دښار رڼاګانو او پړقېدونکو دنګو هسکو منارو راته دا ټپه رایاده کړه، اوس یوه د ژیړ رنګ ټیکسي زموږ مخې ته ولاړه وه، پیني ماته د ټیکسي وروستۍ دروازه خلاصه کړه او خپله په وړاندې څوکۍ کېناسته، اوس ټیکسي په حرکت کې شوه، د ټیکسي ډرېور د قوارې نه جاپانی، چینایي یا بوټانی ښکارېده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاډي یې ښه پاك او سوتره و، ماته د خپل وطن د ټیکسیانو حال رایاد شو، مالك ته به ښه ډېره ګټه کوي خو د عاجزۍ په حال به هم چاته رحم ورځي. ورځ خو پکې دهاغه سورلو بده وي چې په کرایه یې رانیولې وي که د خراب حالت له کبله په لاره لکه د ورانې چکړې روانه وي نوپه سورلو به ناوخته وي او که د حرص د سببه پرې ډرایور ماما پښه ټینګه کړي، نو تر روغتونه یا.... به دې خامخا رسوي. په هر حال اوس زه دومره په سکون کې وم چې د نیویارك د ماښام او د ښار ننداره مې کولی شوه، دګاډي نه مې دسمندر په غاړه اباد د دنیا دښایسته ښار نظارې کولې، د ماښامي په خړه کې د ښار په ارته سینه ولاړو دنګو دنګو تر اسمانه تللو قلمي عمارتونو په تندو او مخونو د رنګ رنګ بلو رڼاګانو بلفونو، فانوسونو چراغان یو ښایسته منظر جوړاوه، تا به ویل ښار چا د رنګارنګ مقېش په توره لوپټه کې ول په ول نغښتی دی، یا لکه یو مئین پټ مخ د خپل مئین په تمه وي، خپل ځان یې سینګار کړی وي، ګاډی د ښار په پلنو پلنو سړکونو ګړندی روان و، هسې خو د دنیا دګڼې ابادۍ په ښارونو کې کراچۍ او ممبۍ هم شمېر دي، خو دغه دواړه ښارونه چې د زیاتې ابادۍ له لاسه ځومره ډېر خیچن وال او سرګرداني لري، نو دا وخت مې د ممبۍ او کراچۍ کېفیت رایاد شو. چې د خپلو هنګامو لویه دنیا یې په خپله لمن کې ځای کړې وه، د مشیني ژوند ډېرو اسانتیاوو، ترقۍ که هر څومره په منډه کړي دي، خو د ماحول د الودګۍ، د ګاډو او ماشینونو د شور له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسه يې ژوند او انسان په بله اړولی دی. په دې احساس مې زړه يو دم په نيويارك كې هم ډوب غوندې شو. دلته سره له دې چې د شور لوګي او ګندګۍ وجود ډېر په نظر نه راځي، خو بيا هم د ژوند او انسانانو دا لويه په منډه مېله، په زغل ګاډي، د بنده وار ضرور خطا كوي، د ترافيك ټول نظام ډېر ښه دی، د خپل وطن دې نظام او په دې كې د ښښتو ګاډو لويو لويو كتارونو دلته په خيال خيال كې ويده كړم، مرۍ مې لوګو ترخه كړه، د سترګو نه مې د لوګو او ګردونو له لاسه اوښكې رواني شوې، د ګاډو بې ځايه او بې مقصده هارنونو مې په غوږونو كې پنجه ور مېږان خوشې كړل، سر مې په درد شو، خو ژر مې سترګې وزنبولې او هاغه لوګ جن خيال مې وتښتاوه، ځكه چې دا وخت زه د دنيا په يو ښايسته او منظم ښار كې وم، ټيكسي په پاكو صفا سړكونو روان وو، د ښار يو يو منظر د ماښام په روماني خړه كې ډېر خوند راكاوه، زما د وطن ماښامی خو نن سبا هسې په بنده د خفګان او مايوسۍ ځادر راخوروي. ما ته د سايل صېب د يوې سندرې مصرعه رايادېده:

((چا هم كه مانۍ د واشنګټن په خوند ستايلي دي..))

خو زما د سترګو وړاندې د نيويارك مانۍ دنګې هسكې غرۍ ولاړې وې. دښار وجود اوس د خړ ماښامي نه د تور ماښام رنګ اخستی وو، خو ماته داسې ښكارېده لكه د ستورو ډك اسمان په ځمكه را كوز شوی وي، لكه د ژوند او هنر د ښايست او د ښكلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرګران چې په خپلو هنرونو د دې ښایسته شهزاده په تاج او لباس د مینې او رومان زر لګوي، اوس ټیکسي هم په ډېره نادیده رنګ کې خپل دتګ چال اختیارولو، خو یو دم مې خیال د خپل ژوند د ملګري په فکر الول شو، اوس پیني په خپله ځوکۍ داسې ناسته وه چې په ترخ ناستې یې زما سره خبرې هم کولې، زما مخ یې هم لیدلو، هغه زما په احساس پوهېده، ته پرېشانه یې...؟ هغې په تشویش زما نه پوښتنه وکړه، هو! بس زما خاوند.....! او زما د دې خبرې سره هغې خپل موبایل ماته راوړاندې کړو، فون وکړه، زه ډېره زیاته خوشحاله شوم، ژر مې د وارث موبایل نمبر هغې ته ورکړ، هغې ډېر په استقامت د موبایل شمېره برابره کړه، او چې د ټیلي فون رنګ ځنګه په ورتلوشو، نو موبایل یې ماته راکړ، خبره وکړه.. هیلو! زما د هیلو په وېنا د نایاب خوبجن غږ مې تر غوږو شو... هن! دې خو ما لکه چې د غرق خوب نه راویښ کړو، ولې ویده وې؟ ماته ژر د ساعتونو فرق د ورځې شپې په حساب مخې ته شو، ورسېدې په خېر...؟ هغه زما نه تپوس وکړ، او بېخي په خېر... بس شکر دې د ځان ډېر خیال ساته او د خپل صحت نه چې بې غوره نه شې... زه به سبا ټولو ته (زما ورور او خویندو ته) فون وکړم. ښه ده... د نایاب په دې تسلۍ مې فون بند کړ، او د مننې سره مې پیني ته موبایل حواله کړ، زما په څېره راغلي اطمینان هغه هم مطمئنه کړه، اوس ټیکسي د یو شاندار هوټل (Radisson) مخې ته ولاړ وو، د نیویارك د ټولو نه ګران بېعه هوټل. چرته چې زموږ د اوسېدو انتظام

(c) ketabton.com: The Digital Library



موجود وو، پـه لاره مـې د پیني نـه د فهمیـده ریـاض تپـوس وکـړو، هغې وویل هو هغه رارسېدلې ده، خو تاتـه د دربـو بجـو نـه د هـوایي ډګر په دروازه ولاړه وم.. ما ښننه وغوښته او ورته مې وویل چې زما بېـګ ګـډوډ شـوی وو، ځکـه ناوختـه شـو..! د هوټـل پـه اسـتقبالیه ښایسته ښایسته پېغلې په کار بوختې وې، د ډېرو مېلمنو د ځایولو او د ډېرو د خارجولو کار یې د حساب کتاب په شکل کې کولـو، مـا خپل پاسپورت د پیني په وېنا د دې استقبالیې په کاونټر جمع کړو، زما په نوم د کوټې اندراج د مخکې نه شوی و، د کوټې کیلي ماتـه حوالـه کـړل شوه، چې پـه دې دوران کـې یـو وچ کلك خـو دنـګ لـوړ ښایسته سور سپین ځوان لاس کې یې یو غټ فایـل نیـولی رابنکاره شو، پیني ورسره زما پېژندګلوي وکړه، حسینه ګل، او دې سره هغـه ماتـه د یـوې ښـکلې مسـکا سـره رانـږدې شـو، د هغـه د جـوړ کـړي پروګـرام زه دوېمـه مېلمنـه وم چـې دا وخـت رارسـېدلې وم، او د خوشالۍ دا احساس لپې لپې د هغه د سترګو نه راتوېده، پیني زما سره هم د ده پېژندګلوي وکړه، زما سترګې د حېرانتیا نـه وازې پـاتې شوې، دا مارټین رېکر دی، مارټین رېکر ؟ بې اختیاره زما د خولې نه دا نوم وختو، هم د ده لومړي ایمېـل زمـا پـه نـوم راغلـی و، خـو مـا په خپل فکر دا یوه ښایسته ښځه ګڼلې وه او په خپل تخیـل مـې د ده د مخ کړه وړه هم انځور کړي وو، زه یـوه شـېبه غلـې ولاړه وم، پـه دې نوي ډرامایي اتفاق راته خندا راغلې وه، چې هغه یو ځل بیـا د لاسـو غبـږه زمـا د هرکلـي لپـاره خـوره کـړه، ماتـه خپـل اسلامي او پښـتني

(c) ketabton.com: The Digital Library



روايات رامخې ته شول، زموږ په دود دستور کې داسې چېرته دي؟ په نه زړه مې لاس هغه ته وړاندې کړو، هيلو! هغه ډېر په ورين تندي او اخلاص زما هرکلی وکړ، زما په توره بورقه کې ول ول نغښتی وجود د ټولو لپاره يو سوال هم و! دلته ما په ډېره رازدارۍ پيني ته دا خبره کړې وه، چې زه اميد واره يم، پيني اوس مارټين ريکر ته هم دا خبره وکړه، کوم چې د دې پروګرام جوړونکی وو او داسيا سوسايټي نيويارك مشر او منتظم و، مارټين ريکر ماته په حېرانتيا د پښو نه تر سره او د سر نه تر پښو وکتل، ((ستا لوی همت دی)). دا خبره هغه په داسې انداز کې وکړه چې زما طاقت پرې نور ډېر شو لکه چې د خپلې ژبې او ادب سره د خپلې مينې او محبت لرلو پېغام ما په ډېر هنر ټولې دنيا ته په داسې حال کې صرف په خپل راتګ هم وړاندې کړ، په داسې حال کې خوښځې د کټ نه نه پاخي خو زما واحد مقصد دا و چې په دې حالاتو کې دې د مغرب او امريکې هر وګړی دې په دې پوه شي چې پښتانه امن خوښي قوم دی، ترقي پسند قوم دی، پښتنې تور سرې د خپلو پښتني رواياتو په سمون خپل د امن او محبت پېغام د دنيا ګوټ ګوټ ته په خپله ژبه خپل هنر رسولی شي او ددې مثال د هغوي په مخکې وو، زه دلته موجوده وم، ټول زما په همت او حوصله ډېر خوشحاله وو، بيا بيا به يې د احترام نه خپل سرونه ماته ښکته کول او ما په خپل دې کردار د خپل خدای... د خپلې مور پښتو ډېر شکر ادا کولو چې هاغه قام چې دنيا ورته خپل سر ټيټ ساتي. نن ماته سر ښکته کوي، اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما نوره داسې ولاړه د هغوي لپاره هم د فکر خبره ده. زما د سترېيا له وجې يې ماته دا رعايت هم راکړ، چې نن د شپې يوه ناسته لرو، خو دومره ډېره د کار نه ده، هسې يو پېژندګلو او ليدنه کتنه او ګډه ډوډۍ خوړل دي، تاته به د دې نه رخصتي درکړو. ما له خدای څه غوښتل...؟ دې سره مارټين ربکر ماته هاغه فايل حواله کړ چې په کې د مختلفو کتابګوټو سره سره د نيويارك او د هوسټن د پروګرامونو ايجنډا پرته وه او د سبا لپاره د ليدو په وعده يې زما نه رخصت واخست، اوس پيني زما سره يوازې سرګردانه ګرځېده. زه يې د هوټل لوی دوکان ته بوتلم، د استقباليې شاته اړخ ته په دې هوټل کې يو لوي بازار په نظر راتلو چې د تلونکو راتلونکو د پاملرنې مرکز وو، په دې دوکان کې هر څه موجود وو، تازه بې موسمه مېوې، د بېکرۍ هر قسم څيزونه، چاکلېټ او داسې نور الا بلا څيزونه، خو زه د څه خوړلو په طبع کې نه وم، بس د سترېيا واحد علاج مې د تورې بې شودو کافي يو غټ مګ ګڼلو او وروسته بيا په کټ د ارام راحت خوب. پيني زما د منع کولو باوجود يو د کېك ټوټه هم راواخسته او ورسره يې د تورې کافي غټ مګ. دغه کاغذي بند سر مګونه دلته ډېر استعمالېږي... اوس د لفټ په واسطه موږ د هوټل پنځم پوړ ته روان وو، دا لفټ د نوي طرز جوړ يو ډېر پلن او ښايسته و، چې ساه په کې نه تنګېده او د چالان نه وروسته به په کې د غلې غلې موسيقۍ زمزمه په مزه مزه خورېده. لږه شېبه پس زه پيني يوې ښايسته کوټې ته بوتلم. کوټه په نوم خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ده، خو لوی والی یې دومره وو، لکه د یو وړوکي کور... په څو برخو وېشلې دا لویه دنیا زما د ضرورت نه ډېره زیاته وه، په کې هر یو سهولت په نظر راته، د اخلې پخلي لپاره په کې خودکاره څیزونه پراته وو، چې چایې، کافي خو په کې هم وخت په وخت تیارولې شوه، خو په ما چې کوم څیز ښه لګېده، هغه لوی.... سپنجي (فومي) کټ و، چې ماته یې خوره غېږه نعرې وهلې... په تك سپين کاټني څادر پوخ کړي کټ خو زه د اوس نه خوبجنه کړم. زما د اوږد سفر او ستړیا تقاضا دا وه چې زه یو وار په تازه اوبو غسل وکړم. غسل خانه هم ډېره د مزې وه، د جدید دور د سهولتونو نه ډکه. په لویه ارته غسل خانه کې د لامبلو یو لوی ټب ته مې ځان لکه د ماهي ورخوشې کړ، د یخو او تودو اوبو د استعمال نه مې ښه خوند واخست، وجود مې ډېر راحت محسوس کړو، نرمې پستې جامې مې غاړې ته کړې د نیویارك د ماښامي موسم که څه هم بهر یخ وو، خو دلته د دې هوټل دننه موسم لږه تودوخي لرله چې د ای سي (A.C) پلانټ په کې کارکولو چې له عمله یې د بهر موسم د دننه موسم سره سمون لاره. د ګرمې کافي نه چې مې سر خلاص کړ، نو د مګ نه تودې لوخړې ختې. اوس مې په ډېر خوند خوند د دې کافي نه مزه اخسته، د کوټې په رنګينه قالين مې پښې د دمه کېدو په نیت اوږدې وغځولې، اوس مې وجود، ذهن، زړه او فکر دې ته برابر شوي و، چې د سفر ستړیا او غم تهول لکه د بالښت د سر لاندې کړم. او بې غمه ویده شم. د کوټې لویې وړې رڼاګانې مې تهولې مړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې، يوازې د کټ سره خواته په مېز پروت رنګينه ولاړ ورکوټي ګروپ مې رڼا کړ او بيا د خوب لپاره مې په ځان نرمه کمبل راخوره کړه. شپه په ډېر ارام تېره‌ده. خوب مې که پوره شوي نه وو، خو بيا هم بدن مې ډېر په راحت وو، سترګې چې مې وغړېدې نو يوې نوې ناکرارۍ راوينبه کړم. د مارټين رېکر هاغه فايل مې پرانيسته چې په کې د نيويارك او هوسټن د پروګرامونو ايجنډا پرته وه، د دې مطابق سهار (۸) بجې د ناشتې لپاره د دې هوټل بنکته لابي ته رسېدل وو، دا خلك خو د وخت ډېر پابند دي يو موږ يو چې هيڅ نه لرو، خو وخت ډېر لرو، بل خوا د دې چې هر څه لري خو وخت نه لري، سوچ مې دا وکړ چې د خپل وطن په نظام کې ماته خپلې لرلې روپې دلته بدلول په کار دي. ما هم د دې له خاطره خپل موبايل کې د پاڅېدو وخت برابر کړ او د لږ وخت لپاره بيا په کټ کې پرېوتم. په ټاکلي وخت راباندې خپل موبايل غږ وکړ او له کټه مې راودانګل. د بېګ نه مې د اغوستو لپاره جامې راوکښلې، غسل مې وکړ، ټوله تياري مې سرته ورسوله او د خدای د نوم د اخستلو سره مې برقع په سر کړه او بنکته د هوټل لابي ته مې ځان ورورساوه، دلته مارټين رېکر فهميده رياض او وقاص خواجه د مخکې نه د ناشتې په مېز ناست وو، زه لږه شرمنده شوم، خو فهميده رياض زما شرمندګي په خپله دې خبره لرې کړه، چې زه سحر وختي يوه پياله کافي څښم نو د دې لپاره د ټولو نه مخکې زه راغلې يم. وقاص خواجه د لاهور اوسېدونکی دی، خو د اټلانټا په پوهنتون کې د اردو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبیاتو استاد دی، د خپلې کورنۍ سره د ډېر وخت نه دلته اوسېدلی دی، د خوي نه ډېر پوست او شیرین سړی دی، د اردو ژبې ښه شاعر هم دی، د ټولو تر مینځه د غېر رسمي خبرو اترو سلسله شروع شوه، د پاکستان په امنیتي حالاتو تبصرې، د دهشت ګردۍ په وجوهاتو او تاوانونو خبرې د دې وخت اهمه موضوع وه، ما ژر ایجنډا بیا ولوسته چېرته دا خبرې د ایجنډا برخه خو نه دي خو داسې نه وه، بس د وخت او حالاتو ډېر ترخه موړ تېرول، نو هغوي پرې خپلې تبصرې خو به کولې. په ناشته کې مو د خپلې خپلې خوښې ځیزونه واخستل او په لومړي ځل دلته دا خبره ماته مغزو ته شوه چې خدای خبر څه حلال مردار به راباندې خوري، ځکه نو جوش شوې هګۍ او سپوره وچه ډبل ډوډۍ خوړل مې مناسب وګڼل. ټولو خپله خپله ناشته په مزه وکړه، خو فهمیده ریاض او وقاص خواجه داسې په خبرو کې بوخت وو چې.. دا ترېنه هېر وو چې دا پاکستان نه دی، پیني بیا په لاس ترلي خپل ساعت ته کتل. پلیز! د پیني په دې خواست فهمیدې ته رایاد شول چې دلته د وخت ډېره پابندي ضروري ده. اوس موږ د پیني په قیادت کې د هوټل مخې ته ولاړ وو، بهر موسم ډېر ښکلی وو، دغه زر زري پلوشې د نیویارك په دنګو دنګو ماڼو ډېرې ښکلې ښکارېدې. له دې سره د یخې هوا احساس دومره د مزې وو چې انساني احساسات یې راپارول، ما په لومړي ځل اسمان ته وکتل خو دې هسکو هسکو ماڼو د اسمان لویه دنیا ډېره تنګه کړې وه، دې منظر د لږ وخت لپاره خوند راکړ، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مې د خپل وطن پراخه اسمان رایاد شو... نن زما د خیال په دنیا د خپل وطن اسمان ویره غبېږ ولاړ وو، دې قام خپل ځایونه ځومره ښکلي په امن ساتلي دي، د وینو لښتي خو زما په ځمکه بهوي، دې احساس مې دننه د نفرت اور ته لکه چې خپله لمن ووهله، نو بیا به راته خپل سوالي کچکول هم په مخ ایرې باد کړي. اوس موږ یو بل ځای ښایسته کیفۍ ته روان وو چېرته چې د ماښام د پروګرام لپاره موږ ته زده کړې راکول کېدې. په دې ښایسته کیفۍ کې ځلور ځوکۍ زموږ لپاره پیني د مخکې نه ایښې وې. موږ د پروګرام د ایجنډا نقلونه راوکښل، پیني په خبرو اترو کې د پروګرام ټوله ایجنډا موږ ته واضحه کړه، وقاص خواجه زموږ د نظمونو د انګرېزي ترجمان په توګه راغوښتلی شوی و. د پروګرام تشهیر په ډېرو لویو لویو اخبارونو او انټرنېټ شوی وو، زموږ پېژندګلوي په ډېرو ژوندو ټکو کې کړې وه، د دنیا د لویو ژبو د لیکوالانو په کتار کې زموږ عکسونه هم له هغوي سره لګول شوي وو، دلته موږ د تودې کافۍ نه هم خوندونه اخستل او داسې بیا د دې ځایه د ټیکسۍ په ذریعه موږ خپل د استوګنې ځای ته روان شو. پیني به خپل ساعت ته بیا بیا کتل او د څه وخت لپاره یې زموږ څخه رخصت واخست، په دې وینا چې د غرمې ډوډۍ به په ګډه د ایشیا سوسایټي په دفتر کې خورو، د هغې سره مو خدای په اماني وکړه او موږ د لږ وخت د ارام لپاره خپلو خپلو کوټو ته ستانه شو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فهمیدې کوټه په څلورم پوړ کې وه نو زه یې په مخه خپلې کوټې ته بوتلم.

فهمیدې اپا چې ماته په غور وکتل نو په ډېره همدردۍ به یې راته ویل، لېونۍ! د ځان ډېر خیال ساته، راځه همدلته په کټ څمله، د هغې په کوټه کې دوه کټونه وو، ما هم خپله غټه برقع د ځانه اخوا کړه، لږه په سکون شوم او ایغه نېغه په کټ کې وغځېدم. فهمیده ډېره مینه ناکه وه، خو ډېره لېونۍ او اوتره اوتره غونډې وه، کاواکه به ګرځېده، او اړتاوکه اړتاوکه به اخوا دېخوا کېږي... کله کله خو خپل هوش هم د لاسه ورکوي... په خبرو خبرو کې یې ناڅاپي ځان د جامو یو لوی پنډ ته چې د ځان سره یې راوړې وې او په فرش پروت وو، څه جامې جوړې خو په ځمکه خورې ورې پرتې وې. ورساوه... ځان یې لوخ بربنډ کړ. زما نه خو وار پار خطا شو... دا ولې....؟ د ځانه مې سوال وکړ، بیا یې سګرېټ ته لاس کړ، د سګرېټ سر ته یې اور ورته کړ.. خبره یې جاري هم ساتله او هم هاغه رنګ لوڅه بربنډه ښه په ارام په صوفه کېناسته اوس هغې ته رایاد شول چې په هوټل کې دننه سیګرټ څښل منع دي او دا یو قانوني جرم دی... سیګرټ یې بېرته به ډبي کې کېښود.. خو زما دننه د پرېشانۍ او وېرې یو داسې کېفیت راخور و چې زما د لاسو پښو نه یې دم ویسته، ما به کله خپله څنګل په سترګو کېښوده، کله به مې مخ واړولو او کله به مې د حیا نه سترګې پټې کړې. زه ولې دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلم.. په خپل ځان راته قهر راتلو، دا څنګه ښځه ده؟ نه د چا نه پرده کوي او نه حیا په هغې په یو مخ د یوې زړه چاودي کیسې سر راټینګ کړي و او په ما د وېرې نه د شرم نه د یخو یخو خولو لختي رامات وو، اخر ډېره لحظه پس یې نرۍ پستې سپکې جامې په تن کړې او زما په وجود کې ایله دم راغلو. خپلې ټولې دوایانې یې ځانله مخې ته کړې او د یوې یوې نه یې په خپل نوبت ګولۍ د تالو نه ښکته کولې... هو کنه عاجزه د شکر ناروغه ده، ډېر ذهني مرضونه هم لري... خو څومره درد او مینه چې د انسان لپاره په خپل زړه کې دا لري خو دغه د دردمندۍ خو د هغې فکر او احساسات په دنیا ځلولي دي. د هغې نظر د انساني ژوند او طبقو په لوړو ژورو ښخ وي، دې سره سره یو وېښ سیاسي فکر او شعور هم لري... د وطن په ډېرو معاملو او د نظام په ډېرو مسلو کې یې خپل ځان د یو سیاسي سوچ او فکر سره دننه کړی دی. د وطن په وینو وینو حالاتو ډېره دلګیره وه. د سیګرټ په لوګو کې به یې د خپل اولس او خپلې ټولنې د سر نه ختونکو لوګو او لمبو ته هم تر لرې لرې کتل. کله کله به لکه د لېونو په خندا شوه. په هر حالت کې د انساني ازادۍ قایله ده. نو ځکه په فکري او جذباتي قدغنونو یوه وړه لمحه هم د هغې په احساس یو درونه پېټۍ جوړوي. د زړه یې خپله یوه دنیا ده، د هغې د ملنګۍ او دروېشۍ دنیا چې خپل ځان په کې د خپل هنر ملکه ګڼي. ما سره یې ډېرې خبرې وکړې زما د سیمې په سیاسي او سماجي ستونزو ډېره پوهه وه، هغې سره د خبرو اترو دا اوږده لړۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټې د ور د ډبېدو په اواز وشلېده. فهمیدې اپا ژر دروازه خلاصه کړه، نو مخامخ پیني ولاړه وه، هغې چې زه هم دلته موجوده ولیدم، نو ویې خندل، لکه چې له کړاوه بېغمه شوه، ماپسې به یو پوړ پورته راتله او بیا ژر فهمیدې اپا خپل ګرم جمپر واغوندو او دواړه د پیني سره روانې شو، د هوټل نه بهر یوې ټیکسي ته یې اشاره وکړه او لږ ساعت پس ګاډی د ایشیا سوسایټي نیویارك دفتر مخې ته ولاړ و.

د عمارت په لویه دروازه ولاړ یو چست چابك سیکورټي ګارډ پیني ته د لاس په اشاره دننه د تلو اجازه ورکړه، مخامخ یو لوی کتابتون و، چې ګڼ کسان په کې په کار بوخت وو، دلته د یوې سکنهۍ لوړې دنګې ډېرې خوږې پېغلې زموږ تود هرکلی وکړ. د رنګ څخه دا یوه شرقي پېغله ښکارېده، چې زما په اندازه د هندوستان ښکارېده. خو هغې چې کله خپل لاس د یوې نرمې مسکا سره ماته د روغبړ لپاره راکړ، نو په اردو ژبه یې ځان د عایشې په نوم زما سره معرفي کړ، چې تعلق یې د کراچۍ سره و، زه د عایشې په لیدو ډېره خوشحاله شوم، هغه د تېرې څه مودې نه په نیویارك کې مېشته ده او په ایشیا سوسایټي کې خپله وظیفه ترسره کوي. په دې کتابتون کې د دنیا د هرې ژبې په هره موضوع لیکل شوي کتابونه موجود دي، وروسته ما هم دې کتابتون ته د خپل نوي کتاب ((ملکه)) ناول سره سره د امین الله داودزي کتابونه او د زلمي شاعر ساحل یوسفزي شعري مجموعه (سپوږمۍ په سمندر کې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډالۍ کړل. دې سره سره عایشې موږ د کتابتون په ګوټ ګوټ وګرځولو او د دې ادارې د کار په اړه یې بشپړ معلومات موږ ته هم راکول، چې ایشیا سوسایټي د اسیایي هېوادونو په ادب او کلتور هم کار کوي هر کال دې هېوادونو نه د ادب او کلتور سره علاقه لرونکي ادیبان، شاعران او فنکاران راغواړي او د هغوي د فن او هنر ډاډګېرنه کوي دا اداره یوه شخصي اداره ده چې د ریاست سرپرستي هم ورته حاصله ده. خو ددې د امدن لویه ذریعه د دې د غړو مرسته چنده ده. چې د دې ټول غړي میاشت په میاشت یو ټاکلی فیس د دې ادارې په پانګه کې جمع کوي. خو د ملك ډېرې کمپنۍ تجارتي ادارې هم د دې ادارې سره مرسته کوي. اوس عایشې د دې عمارت په دوېم پوړ کې موږ خپل دفتر ته بوتلو، د هغې دفتر هم ډېر ښکلي پراخه وو چې د نوي دور او زمانې په ټولو جدیدو دفتري سهولتونو ډېر منظم پروت وو. عایشه یوه ځیرکه او باتجربه جینۍ وه خپله د یوې ښایسته وړې ماشومې مور وه، هغې په خپل لومړي نظر زما وجودي حالت پیمانه کړی وو، تاسو خو به ډېر په تکلیف شئ، د ماشوم پېدایش کله متوقع دی....؟ او څوېم ماشوم مو دی؟ ما د عایشې په دې مشکلو پوښتنو ډېر وخندل او چې د خپل ماشوم د پېداکېدو نږدې نېټه مې ورته وښودله، نو یقین یې نه راتلو... کمال دی... هغې په حېرانتیا ماته کتل.. بیا دلته پاتې کېږئ ولې نه... دا به ستا د ماشوم په ګټه وي، چې دلته پېدا شي... د عایشې په خبره کې هم وزن وو، خو دا خبره موږ هاغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېښودله چې کله موږ ټولو په دې ښه غور وکړ او بیا مو فېصله دا وکړه چې خپل پروګرام ته تلل پکار دي او بیا ژر واپس راتلل. ځکه چې دلته څه هم که په انساني بنیادونو... د انساني حقونو پر اساس داسې مسلې ښې حل کېداي شي، خو د ښځې په داسې حالت کې په یوازې سر څه ناڅه ستونزې هم رامخ ته کولې شي. ولې چې د مرګ او ژوند خبره ده. نو دا بحث او په داسې تجویزاتو غور موږ پخوا پرېښی وو. ماته ژر تر ژره خپل کور او خپل وطن ته واپس تلل وو. عایشې سره زما خبرې رواني وې... د هغې لومړۍ لور (ماه نور) د شپږو میاشتو وه، نو ځکه د هغې په څېره هم د نوې مورولۍ رڼاګانې او خوشحالۍ ګډېدې. زما دلته لس ساعته کار وي، په دې دوران کې ماته خپله لور ډېره یادېږي! په دې المیه ماته د هغې په سترګو کې د یوې مور مینه نوره هم راوځلېده. د هغې دې جذباتي لېونتوب زما لاس هم ورو شانتې د برقعې په کړلېچونو او ګوټ پېرونو کې پټ زما خېټې ته ور وغځاوه، زما بچی هم واړه واړه ټوپونه وهل... لکه چې هغه زما مخې ته د عایشې مخې ته ژر راتلل غواړي... لکه چې هغه موږ دواړو ته دا یقین راکول غواړي چې زه هم خپلې مور ته ډېر ګران یم! زه د خپل بچي په احساس پوهېدم. په خیال خیال کې مې هغه په غېږ کې نیولی وو، خپلې تودې شونډې مې د هغه په پستو رخسارونو لګولې او داسې ما هم د خپلې مینې ټوله ګرمي د هغه زړه، د هغه روح او احساس ته رسوله. هغه ورو غونډې سترګې پټې کړې. دا واخلئ! عایشې د تازه مېوې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوسو ګیلاس ماته راوړاندې کړ او زما د خیال لړۍ دانه وانه شوه. ما د جوسو خالي کړی کاغذي ګیلاس نږدې په یوه شکرۍ کې وغورځاوه، چې دې دوران کې یوه ګړندۍ امریکنۍ د خپلو سرو برو ویښتو او شنو شنو سترګو سره په برقه په خندا راښکاره شوه. هیلو حسینه ګل....!

هغې زما لاس ټینګ ونیو او ما په یو مخ حېران حېران د هغې مخ ته کتل. دا درچل کوپر ده زموږ د اداري د نیویارك د څانګې مشره....! رچل کوپر زما حېرانتیا د کتو وه، زما سره د خط کتابت او رابطې ذمه واري د مارټین رېکراو رچل کوپر وه، ما په خپله اندازه مارټین رېکر زنانه او رچل کوپر نارینه ګڼلي وو، خو دلته په راتلو زما دواړه اندازې سرچپه ثابتې شوې، لومړۍ د حېرانتیا دیکه مې د مارټین رېکر په لیدو خوړلې وه او دوېمه د رچل کوپر په لیدو، چې نن زما مخې ته د یوې زنانه په شکل کې موجوده وه، په ځان پورې یوځل بیا خندا راغله، خو د پټې خندا بندونه مې هاغه وخت وشلېدل کله چې رچل کوپر یوه لحظه پس په ښایسته پاکستاني جامه کې په تور پرتوګ او سور کمیس په غاړه او لوپټه په سر زموږ مخې ته وه، څنګه ښکارم؟ هغې د ټولو نه داد اخستل غوښتل او واقعي چې په داسې جامه کې هغه یوه شرقي پېغله ښکارېده. موږ ټولو د هغې صفت وکړ دا راته عایشې د کراچۍ نه راوړې ده، د ننني دستورې (فنکشن) لپاره مې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خصوصي توګه واغوستلې، اوس خو زما نظر بيا د هغې د ګرځېدو په چالل او د هغې په سر د لويې لوپټې په ځنګېدونکي پلو پسې اوړېدو، نن فهميده اپا لږه غلې وه، د سيګرټو ځښلو ته يې زور ورکړی وو، داسې ښکارېده لکه چې د هغې په اعصابو څه نوی بوج راغلی وي، د سترګو نه يې تورې حلقې تاو شوې وې. د هغې د خلې چوپتيا لکه چې د هغې د زړه دننه د يو پټ طوفان شغله خوړله. د غرمې د ډوډۍ انتظام ر چل کوپر هم دلته کړی وو، په ډوډۍ کې نور کسان هم شامل وو، هر څه چې وو هر څنګه چې وو، خبټه هم مړول وو، په پروګرام کې لږ وخت وو، دې دوران کې د مېډيا کسانو ته دا موقع په لاس راغله چې د مېلمنو سره خبرې وکړي. په ډېر ښه ماحول کې د مېډيا سره مو خبرې وکړې. د خپل راتګ مقصد مو بيان کړ، په خپل کړي کار مو خبرې وکړې. خو زياتې پوښتنې زما نه زما د علاقې په سماجي حالاتو د زنانه وو په تعليم، صحت او نورو سماجي مسلو وشوې. د سيمې د امن امان په هکله ډېرې خبرې وشوې، خو زما په سيمه د اور د لمبو په څنګ کې چې پښتنې پېغلې او نجونه د خپل سماجي ژوند د ښه کولو لپاره کوم کردار ادا کوي نو په دغه ټولو حوالو مې د هغوي مخې ته د پښتنو د امن پسندۍ او ترقۍ پسندۍ يو روڼ عکس وړاندې کړ. د مېډيا سره د خبرو اترو نه پس هاغه لوی هال ته بوتلل شو، چېرته چې دا لوی پروګرام راجوړ شوی وو، په ګڼ شمېر کې خلك راغلي وو، چې زيات په کې د هند او پاکستان وو، او چې د پروګرام د پېلولو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



رچل کوپر راوغوښتل شوه، نو د ناستو خلکو د لاسونو پړقا د ناستو خلکو د غوږونو پردې شلولې دا ټولې چکچکې د رچل کوپر په تن د مشرقي لباس لپاره وې. هغې د ټولو مننه وکړه، په درنو ټکو يې موږ ته هرکلی وکړ، د خپلې ادارې په اغراضو او مقاصدو يې رڼا واچوله، د ايشيا د هېوادونو په سماجي، اقتصادي او سياسي حالاتو او د دې سيمې اولسونو ته د راپېښو مسلو په هکله کوټلی بحث وکړ او ادب او هنر يې د دې ټولو حالاتو د سمي لپاره د امن او مينې يوه لاره وګڼله. ناستو خلکو د رچل کوپر د خبرو ستاينه وکړه او د ايشيا سوسايټي امريکې هلې ځلې يې يو مثبت ګام او د وخت ضرورت وګاڼه. موږ درې واړه مېلمانه يې په ډېر عزت سټېج ته راوبللو زموږ د کار او زيار يې مېلمنو او ناستو راغليو خلکو ته پرچار وکړ، په دې دوران کې رچل کوپر دا خواهش ولرلو او اعلان يې وکړ که چېرې مېلمنو د ځان سره خپل کتابونه راوړي وي نو مخامخ دې يې کېږدي چې راغلي کسان يې په بيعه واخلي، فهميدې اپا ژر د خپلو کتابونو يو لوی کاغذي بند کاټن راوسپړه او د خپلو چاپو کتابونو ډېرې يې ودرولو... اوس د پروګرام اصلي برخه پېل شوې وه.کتاب چې د امريکې د سفارتخانې په مرسته په پاکستان کې د ماډرن پويټري اف پاکستان په نوم چاپ شوی وو، نن يې ايشيا سوسايټي له خوا د مخ کتنې دستوره کېدله. دغه کتاب هم حاضرينو لپاره مخامخ ايښودلی شوی وو، خو اول د هاغه نظمونو ذکر او پرانسته شروع شوه چې په دې کتاب کې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګرېزي ژباړې موجودې وې... مـوږ تـه د خپلـو خپلـو نظمونـو د اورولـو بلنـه راکـړل شـوه، لـومړی زه د دې مقصـد لپـاره راوغوښـتل شوم، زما پنځه واړه نظمونه ناستو کسانو ډېر وستایل، په دې ټولـو مېلمنو کې یو هم پښتون نه و، خو د شعر یو داسې زور او جادو ضرور وي چې دا خپل پېغام هر چاته رسولی شي، ځکه چې شعر او هنر یوه افاقي ژبه ګڼلي شي. ماته داسې ښکارېده لکه چې زه د پښتو او پښتنو په محفل کې وېنا کوم... د هر مخ تاثرات زما د ژبې... زما د الفاظو، زما د لهجې او زما د احساساتو د پوهې وو، او بیا چې کله وقاص خواجه اول زما د نظمونو انګرېزي ترجمه وړاندې کړه، نو اوس زما د شعر معنا هر چاته رسېدلې وه، زما د فکر او د ناستو خلکو تر مینځ د ابلاغ ټولې فاصلې وقاص خواجه اخوا کړې وې. اوس ما لیدل چې ډېر خلك د خپلو څوکیو نه راولاړ شول او په زوره زوره یې ډېر وخت لاسونه پړقول او دا لمحه زما د ژوند یوه داسې شیبه وه چې د لوي الله(ج) شکر مې ادا کړ، په خپلې پښتو خپل هنر نوره هم ونازېدم. زما پېغام د دنیا د یو لوی وطن وګړو ته وړاندې وو. فهمېدې اپا هم د حاضرینو نه شاباسې واخسته، ناستو کسانو زموږ د دواړو نه پوښتنې هم وکړې چې زموږ د وطن او په خصوصي توګه د پښتنو په سیمه چې حالاتو کوم اور اخستي دی، په هغې کې پښتنه ښځه د خپل ادب، ژبې او ثقافت د ودې لپاره خپل تګ جاري ساتي او په خپل اعتماد ددې حالاتو په ضد یو مزاحمتي او دفاعي کردار هم لوبوي، خصوصاً

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناستو حاضرینو زما د وطن سیمو په حالاتو ځانونه خبر کړل او په داسې حالاتو کې یې زما کردار او ادبي زیار ته لوی درناوی راوښلو، د اپا کتابونه په ډېرو ډالرو خرڅېدل او زه خپل نوي چاپ ناول ((ملکه)) ته د فکر په ټال ځنګېدم.

دا کتاب د پښتو وو، او د اپا خو د ډېرو کتابونو انګرېزي ژباړې هم شوې وې چې دا وخت د کتابونو په صورت کې د راغلیو مېلمنو د پام د لاندې وو، ډېر خلك به ماته رانږدې شول... ستاسو کتابونه نه شته؟ او ما به په ډېر ویاړ خپل کتاب ((ملکه)) راواخسته او مخامخ مې کېښود، خو د بده مرغه د پښتو یو ویونکی یو لوستونکی هم دا وخت په دې محفل کې نه وو، چې د یوې پښتنې دا زیار یې هم نانزولی وای. زه په دې احساس ډېره عمژنه وم، ټوله خوشحالي مې د صابون د ځګ په شان ناسته وه، د وطن په هاغه ادارو ډېر افسوس راغلو چې د ژبو او ادبیاتو د ودې لپاره په نوم خو جوړې دي، خو فعالیت نه لري. زما د ژبې او ادب لپاره ریاست تراوسه هاغه کردار ولې ترسره نه کړو، کوم چې د هغې حق دی، د ادب، ژبې او زما ثقافت لپاره زما د قام واکمنو عملاً څه وکړل؟ د یو پښتون ادیب شاعر لپاره داسې اداره ولې نه شته چې د هغه اثار په نورو ژبو وژباړي... فهمیده ریاض هم د دې وطن د یوې صوبې لیکواله ده، د هغې ډېر اثار مخې ته راغلي دي خو یوه بدنصیبه ژبه زما ده، موږ پښتانه ادیبان او شاعران چې په کورنۍ کچه مو لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوك نه پېژني، خو ژر مې خپل دغه راپارېدلي احساسات په دې تسله وتمبول چې زه پښتنه لیکواله یم، خو بیا هم د دې حالاتو او محرومو باوجود نن زه او فهمیده ریاض دواړه په یوځای یو محفل کې ناستې یو. په یو حېثیت رابلل شوي یو. زما لپاره خو دا اعزاز هم ډېر دی. خبر دی زما (ملکه) دې هم داسې پروت وي، زما فکر خو دلته راورسېده، په دې خبرو مې ځان ډېر په تسله وګڼلو، زه چې د دې سوچونو د حصار نه راووتم، نو یو اواز، زما ټوله توجه ځانته راوګرځوله، تاسو په دې کتاب ماته خپل یو لاسلیك (اټوګراف) وکړئ، یو ښایسته زلمي لکه چې زما دا ټول پټ ماتم یې اورېدلی وي، او لکه چې زما د دې وخت لرونکي یو یو اضطراب پرېشانه کړی وي، زه ډېره حېرانه شوم، ماته یقین نه راتلو چې زما ((ملکه)) هم یو ښایسته زلمي د ځان لپاره انتخاب کړې ده. څه.....؟ ما تپوس وکړو، هو! تاسو په دې خپل لاسلیك وکړئ، هغه د کتاب سرپاڼه ماته په خپله ګوته په نښه کړه او ما د پرس نه خپل قلم راواخستو، اوس زما په سترګو کې غټې غټې اوښکې راغلې وې، په رپېدونکو لاسو مې خپل لاسلیك په خپل کتاب وکړ او چې څنګه مې کتاب هغه ته ورکاوه، په موتیو کې یې پټ راته د لسو ډالرو نوټ کېښود. دلته زما جذبات بیا بل رنګه شول. ایا ما وغوښتل چې زما کتاب دې خرڅ شي؟ که ما وغوښتل چې دا دې چاته ورسي؟ دا احساس هم ډېر قاتل وو... ما خو د خپلې پښتو قدر ژړلو، نو بیا دا خو د پښتو قدر اوشو... د یوې پښتنې لیکوالې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاډګېرنه خو کېږي. د دې لوی او يادګاري پروګرام نه پس ماښام دلته په بل لوی حال کې د اردو مشاعره ټاکلې شوې وه، چې د هغې په پېل کې لږ وخت پاتې وو. دلته په ناسته ډېره ستړې شوې وم، نو د بل پروګرام د ناستې پورې دا پاتې وخت مو د تازه کېدو له خاطره په ګرځېدو تېرول غوښتل. اوس اپا هم ښه په سُر کې وه ښه ډېر کتابونه يې خرڅ شوي وو، زه يې د لاسه کلکه نيولې وم او په توکل يوې دفتري کوټې ته ننوتو چې دا وخت په کې څوك ناست يا په کار نه ښکارېدل. دلته په يو لوی اوږد مېز تازه مېوې په ښايسته ښايسته رکېبو کې پرتې وې، د بندسر لوښي کې ګډه وډه وچه مېوه هم ښه ډېره پرته وه او ورسره د شرابو بوتلې د شيشې د ګيلاسونو سره هم پرتې وې. اپا خو چې دغه هر څه وليدل او لادا هم چې بل څوك شته هم نه، نو ورغوټه شوه پرې، زما خو وارخطا شو، هسې نه دلته کوم مېلمانه راروان وي؟ خو هغې دغه ويل خوره، دا هم زموږ لپاره دي...! زه په دې سوچ کې وم چې دا خو ډېره بده خبره ده... چې په دې کې يوه غټه څربه د ميانه عمر ښځه راښکاره شوه چې د ډېر غټ والي د سوبه ورته ګرځېدل هم ګران شوي وو، فهميدې اپا ته چې يې وکتل نو بې اختياره ترغاړه وته، ماسره يې هم ډېر په محبت ستړي مشي وکړل، د دې مېرمنې نوم ثمينه قريشي و، پاکستان کې د کراچۍ اوسېدونکې وه، په انګرېزۍ کې يې په ((صوفي ازم)) يو غټ کتاب هم نوی نوی ليکلی و، کوم چې موږ وروستو د ډاکتر عذرا رضا هم کره بيا د نظره تېر کړو، ثمينه قريشي د ښځو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقوقو د یوې نماینده په توګه خپله پېژندګلوي لري، د کورني تشدد ښکار ښځو په ژوند او مسلو یې ډېر دستاویزي فلمونه هم جوړ کړي دي. هغه زما په راتګ هم ډېره خوشحاله وه، وروستو موږ ته ښکاره شوه چې دا ټول بندوبست او مېلمستیا هم زموږ لپاره وه، خو موږ پرې لږ بې موقعې راغوټه شوي وو. ثمینه قریشي ماته ډېره توجه راکوله زما د کلي، سیمې او د وطن دحالاتو د ښځینه وو د حال یې رانه بیا بیا پوښتنې کولې، د ښځو ډېرې ستونزې په دې خبرو اترو کې د بحث لاندې راغلې. په دې ډېره خوشحاله شوم چې د ثمینې بي بي د سوات د والي صېب د کورنۍ سره ډېر ښه تعلقات دي او چې کله هم پاکستان ته راځي، نو د والي صېب د اولادونو سره خامخا ویني ګوري، د عدنان اورنګزېب تپوس یې بیا بیا کاوه، چې زما د بچي په شان دی او ډېره مې نازوي، اوس د مشاعرې اغاز کېدونکی دی. رچل کوپر موږ پسې دې ځای ته په خندا راغله او د مشاعرې اطلاع یې راکړه. د مشاعرې د پاره هم هال د خلکو نه ډک وو، د پاکستان او هند وګړي د اسیا سوسایټي په ټولو هلو ځلو کې ډېر په مینه ګډون کوي. د رچل کوپر په تن هاغه لباس اوس لا نور ډېر ښکلی ښکارېدو، د مشاعرې د شاعرانو شمېره لږه وه، خو د اردو د مشاعرې لپاره د راغلیو کسانو ذوق د کتو وو، د مشاعرې مشره مېلمنه فهمیده ریاض وه، شهلا نقوي، افتخار نسیم، رئیس انعام او حمېرا رحمان په کې شامل وو، د مشاعرې لپاره هر شاعر د خپلې شاعرۍ نه ډېر ښکلی انتخاب حاضرینو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې کاوه او هغوی په چکچکو شاعرانو ته شاباسي ورکولو، دې مشاعرې ته د پاکستان نه د اردو نومیالی شاعر او دانشور افتخارعارف هم غوښتلی شوی وو، خو د ځینو مجبوریتونو له کبله د هغه تګ سمی ونه خوړه، د مېلمنو لپاره د تودې کافی بندوبست هم و.

زه یوځل بیا د ثمینې په څنګ کې ناسته وم، چې په دې کې یوه لوړه دنګه خوړه ښځه غلې شان زما بل لاس ته په خالي څوکۍ کېناسته او په پښتو ژبه کې یې راته په خبر راغلی ووایه، ډېر وخت پس یو غږ زما غوږو ته د پښتو راغلی و، ژر ورته راوګرځېدم، خو اوس هغه ماته د ترغاړې وتو لپاره راولاړه شوې وه، هغې زه دومره په مینه رانږدې کړم لکه چې یو بل مو د مودو څخه پېژندل، ((زه د ناګمان د شبقدر اوسېدونکې یم او زما نوم نسیمه خان دی)) هغې ژر خپل ځان په ما وپېژنده، ما ورته وویل ډېره خوشحاله شوم ستا په لیدو، ما هم ورته د خپلې خوشحالۍ اظهار وکړ او بیا تر ډېره وخته په روانه ساده پښتو کې د هغې خوږو خبرو زه په خپل جادو کې وساتلم. نسیمې زما نه زما د ادبي هلو ځلو او کتابونو پوښتنې وکړې، یو کتاب یې په لس ډالره زما نه په بیه واخست، هغې هم خپل یو تنظیم چلولو او په اسیا سوسایټي کې یې خپل غړیتوب هم لرلو، مشاعره خپل اخري پړاو ته رسېدلې وه د مېلمنو د هال نه د وتلو سلسله روانه وه، خو نسیمې زما څخه د جدا کېدو زړه نه کېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نه ترې زما ، هغې ته چې کله زما د ناروغۍ احساس وشو نو اوس يې په ډېره کلکه راته بيا بيا وويل، مه ځه مرې!! ماسره به يې... پاتې شه. دا به زما خوشحالي وي چې ستا د بچي زېږون زما کره وشي. خو ما ورته هاغه مجبوري مخې ته کړه چې داسې به مې کړی واي خو که خاوند راسره واي، په هر حال په هغې ناوخته کېده ځکه چې د هغې کور ته د دوو ساعتونو د لارې سفر و، ماته يې خپل د پتې کارډ راکړ او په ډېره مينه يې رانه رخصت واخست. مرې پاتې شه کنه..! هغې لکه د ورو ماشومانو ماته منت کاوه، او ما به ورته په زوره زوره وخندل، د خپلې بې پناه مينې پنډونه يې راپه سر کړل او ددې خبرې کلك لوظ يې رانه واخست چې کله ستا د بچي زېږون وشي، نو ما به خامخا خبروې، ما ورسره وعده وکړه او داسې هغه ورو ورو د خلکو په ګڼه ګوڼه کې زما له نظره پناه شوه، د نسيمې سره زما خبرو دومره وخت واخست چې زما د خياله دا بېخي وتلې وه چې مشاعره سرته رسېدلې ده او پيني عاجزه د ډېر وخت نه زما په انتظار وه چې زموږ ګرځول راګرځول ورته سپارلي شوي وو، اوس چې کله پيني بيا بيا خپل ساعت ته کتل نو ما ته اندازه وشوه چې زموږ د تللو وخت دی، اپا هم چرته د هال به بل سر کې چاسره په خبرو ولاړه وه، خو د پيني چستۍ او چابکۍ د کتو و، ژر به د هغې ځنګ ته هم په منډه ورغله او بيا به ژر ماله د هغې لږ وخت مو ضايع کړو، خو دا غم به د هغې وو چې وخت يې څومره قيمتي وو- ؟ په هر حال اوس يوځل بيا د نيويارك په يو بل ښکلي ماښامي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رڼاګانو او تيارو په پټ پټوني کې د ټيکسي په انتظار ولاړې وو، نن چې دې ښار د رڼا او رنګونو کوم لباس اغوستی و، نو هغه د يو خيالي جانان د ښايسته تصور په شان و، د ښار د ماښام رومانيت بيا په غورځنګونو و، موسم نن ډېر يخوالی لرلو، يو دم د يخې هوا روماني منګولو د احساساتو دنيا راويښوله، دې نرۍ هوا به زما د بورقې نقاب زما د مخ نه کله په يوه اړولو او کله په بله. ټوله ورځ ډېره بې ارامه او مصروفه تېره وه، خو زما په بدن د ستړيا هېڅ اثار نه وو، زه داسې ګڼندۍ وم لکه چې زما په وجود هېڅ اضافي پېټی نه وو او بيا يوې ټيکسي موږ لږ وخت پس د خپل هوټل مخې ته کښته کړو، خو زما بدن اوس لږې ستړيا په خپلو لاسو کې ونيو ځکه چې د خپل کټ او خپلې کوټې اسره مې ليده، د ټولو نه مې اجازه واخسته او په خپله کوټه کې مې د ټولې ورځې ستړيا د تودو اوبو په غسل دمه کړه، دوه رکعته نفل مې ژر ژر د فرض لمونځ سره اداکړل او بيا بې غمه په خپل کټ کې پرېوتم. د خوبونو ښاپېرۍ ژر خپلې غېږې ته کړم، د خوبونو دنيا به ډېره رنګينه رنګينه زما مخې ته وه، د ورځې ټولې سرګرمۍ به مې لکه د فلم په سکرين کتلې. کله به خپل وطن خپل کور ته واپس تلې وم، کله به مې ځان د اولاد د زېږون په مرحله کې د روغتون په کټ پروت ليده، د خپل بچي راتګ ته به ناکراره وم، د دې مرحلې هر درد به مې د زغم په تار کلک ګنډلی و، کله به مې خپله مرګي حالې ترور د ځنکدن په حالت کې ليده، کله به روغه جوړه د خوبه راويښه کړم، اوس به په ويښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه هر څه زما سترګو ته کېدل، خوب به لرې وتښتېده، په دې کېفیت کې یوځل بیا ویده شوم، چې د کوټې د دروازې د ډبېدو په غږ په هېبت راپاڅېدم، زړه ته مې راغله... لکه چې زه ویده پاتې وم او څوك زما ویښولو ته راغلي دي، اف! سر مې په دواړه لاسه نیوو چې ور یوخل بیا وډبېدو، پښې ابله چې مې دروازې ته منډه کړې ورو شانته مې تمبه نیمکښو کړه او چې په غور مې وکتل نو اپا ولاړه وه، ما سترګې مښلې.. هن واخله تا د شپې ډوډۍ نه وه خوړلې تا له مو د بازار نه برګر راوړ، دې وېنا سره هغې یوه بنده لفافه ماته راوړاندې کړه. او ایله ماته رایاد شو چې زه دومره ژر ویده شوې وم چې ډوډۍ خوړل مې هم هېر شوي وو، د اپا سره وروستو په لږه فاصله وقاص خواجه هم ولاړ وو، ما یې مننه وکړه خو دا مې ورته هم وویل چې ولې مو دا کړاو وکړ، هغه په خندا شوه ویل یې لېونۍ! تانه زیات خو ستا بچي ته ددې ضرورت دي. د اپا کور دې ودان وي زما لپاره به یې ډېر فکر کاوه، اوس هغوي بېرته لاړل او زه په دې تسله شوم چې شپه خو لا په سر پرته ده، دا خو زه وختي ویده شوې وم، ما د ماښام نه پیني ته معذرت کړي و چې د شپې په ډوډۍ زما انتظار مه کوئ، ځکه خو اپا په خپل خرڅ ماته د بازار نه تود برګر راوړي و، برګر مې په مېز کېښود او ما ځان بیا کټ ته ورساوه، چې د خوب شلېدلې لړۍ مې بیا پیوند شي، سحر وختي مې ځان تیار کړ او د ناشتې لپاره ټاکلي ځای ته مې ځان ور ورساوه، دلته مې خپل ملګري څوك هم په نظر رانغلل، چې اپا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وقـاص مـې ونـه لیـدل نـو راغلـم د هوټـل پـه لـوی لاونـج کـې پـه یـوه ښایسته چوکۍ کېناستم، سحر وختي و خو دلته د خلکو یوه لویه مېله په نظر راتله، څوك د هوټل نه روانېدل او څوك ورته راتلل، عجیبـه منظـر و، د هوټـل کارنـده عملـه د مسـافرو پـه خـارجولو او ځـایولو کـې بوختـه وه، د بېګونـو د پـایو کړهـار، د چیتـو پیتـو جاپانیانو او چینایانو د خبرو ګنګوسو ډېر خوند راکاوه، ډېرو جوړو بـه د یو بل نـه لاسونه په مینه تاو کړي وو او د ژونـد او رومـان بـه نشـه کـې بـه ځنګېدلي روان وو، ډېرو تلونکو راتلونکو خو بـه ماتـه هـم د یوې مسکا سره وکتل او په منډه بـه تېر شول. دلتـه مـا ډېرې غټې غټې په وجود پنډې زنانه لیدلې... ډېرې نرۍ زنانـه مـې هـم پـه نظر راتلې چې لکه د نازك تار ګومان پرې کېده، دا خلك د خپـل صحت ډېر خیال ساتي، ورزش او پیاده ګرځېدل خو کوي، خـو چـې پـه ډېرو نـرو ښـځو دا دومـره وزن څنګـه جوړ شوی وو؟ خـو سـره د غټوالي د هغـوي چسـتي او د تـګ چـال د کتـو وو، زمـوږ خلـك خـو چـې وزن واخلي یو قدم هم نه شي تللی، په بدن بـه یـې عـامې جـامې پتلون او کمیس پراته وو، بلخوا موږ یو چې د اسراف خپـل یـو یـوه جـوړه بـه د زرګونو روپو وي، خو د هغې به بیا بیـا اغوسـتل خونـد نـه راکـوي. د ژوند هم دې رویو زموږ مسایل زیات کړي دي او نن زما د ټولنې یو نه یو بنده په څه ناڅه دغـې مـرض اختـه دی. د دې خلکـو سـادګۍ او ښه ژوند ښه زغل او مطمینه څېرو زه هم د فکـر پـه ګـودر لاهـو کـړې وم، وخت په مزه مزه تېرېده چې د لـرې نـه مـې اپـا پـه دانګـو دانګـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



راراوانه ولیده ستا، ستا طبیعت څنګه دي؟ هغې زمانه لومړۍ پوښتنه به دا کوله، ډېره په مینه او شفقت یې لکه د خپلې لور نازولم، ما ورته د خپل ځان پوره باور ورکړو، چې ښه یم، بیا مو خپلو ځایونو ته د ناشتې لپاره ځانونه ورسول، سحر وختي د ګرمې ترخې کافۍ ګوټونه تېرول مې دلته سمه نشه جوړه شوې وه، حالانکه زه به اپا د ډېرې خشکې کافۍ څښلو څخه منع کولم، خو زما به بغیر د شودو کافي خوښېده، دلته د خوراك څښاك نه خو به د حرامو مردارو په خیال زما زړه د خرابېدو ډېره ګوزاره مې په مېوو، ایشېدلو هګیو او په سپوره، ډبل روټۍ روانه وه، د چایو او ناشتې په مېز یوځل بیا د دنیا په روانو حالاتو پېښو او واقعاتو د خبرو سلسله پېل شوه، وقاص په امریکې کې د خپلې استوګنې او د ځینو ستونزو خبرې کولې او ما سوچ کولو چې دلته د خلکو دا مسایل څنګه دي؟ دلته خو ډالر خبرې کوي او چې د معاش ذریعه دې وي، نو بیا خو دلته ژوند ډېر ښه دی، خو وقاص به اکثره دا خبره کوله چې څلور کسه په کور کې د ګټې وي نو هله به یې د کور ګوزاره کېږي او په پاکستان کې کورنۍ به یې اسوده او خوشحاله وي. په داسې حال کې به راته خپل وطن جنت ښکارېدو که چېرې د امن و امان حالت یې سم شي نو زما د وطن خوشحالي او د اولس اسودګي به یې د کتو شي. که چېرې د بدعنوانه حاکمانو د لاسه وځي... نو بیا خو به یې تماشه جهان وکړي خو دا خو یو ارمان دی او تل پاتې ارمان به وي، شاید... اوس پیني هم په خپل وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



راورسېده هغې به د کور نه ناشته کړې وه، نن د ایجندا له مخې تفریحي ورځ وه، یا خو به د فلم کتو ته سېنما ته تلل وو او یا د سمندر سېل ته، فهمیدې اپا خو معذرت وکړو چې زه ډېره تلې راغلې یم، نه د سمندر غاړې له ځم او نه فلم کتو له، دغه معذرت د وقاص خواجه هم وو خو زما د سمندر د غاړې سېل ډېر ارمان وو، ځکه چې په ژوند کې دا موقعه ویریا ګوتو ته راغلې وه او بیا د ژوند او داسې اتفاقاتو څه پته لګي؟ اوس پیني یواځې زما لپاره په انتظار ولاړه وه، یو ځل بیا پیني یوه ټیکسي د لاس په اشاره ودروله او بیا ډرائیور ګاډی د سمندر د غاړې په لار په حرکت کې کړو.

نن چې مې په رڼا ورځ د نیویارك د ښار سېل کولو، د ښار خایست د وخت په هر کېفیت کې ډېر د مزې وه، لکه جانان چې په هر لباس کې بس جانان ښکاري، دغه د جانانه رنګونو او اداګانو ښار نیویارك هم سترګو ته دومره تسکین ورکوي، زړونو ته د لېونتوب د درزا چل ښايي، ژوند په کې په هره لار، په هر سړك، په هر ګودر ډېر د خوند روان دی، وختونه پکې د دې مثالي جانان د حسن د نغمو په ژبه ګویانه دي، د دنیا لوی لوی منظم پولونه چې د ګاډو د رش لوی پېټې یې په ډېر استقامت په سرونو اوچت کړي دي، د دې مشیني ښار ژوند ډېر په هنګامو کې تېرېږي، خو د استوګنو په څېرو یې د ستړیا کرښې بېخي په نظر نه راځي، بلکه دلته ټولې پېغلې لکه د کوه قاف د ښاپېرو په څېر د خپلې ترقۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزرو د ژوند په فضاګانو کې په الوت دي، کراچۍ مې رامخې ته شوه، لاهور مې په نظر شو، خو چې زړونه مو پرې راټول دي نو خپل پېښور او خپل کابل راته بې دریغه رایاد شول، زړه مې د دې دوه ښارونو په مینه او یاد راټول غوندې شو، اوس راته نیور یارك یو عام ځای، عام ښار ښکارېدو، که څه هم ځمکه یې ډېره پراخه ده، خو د ځمکې په سینه ولاړو دنګو ماڼو د نیویارك اسمان بېخي تنګ کړی دی، لکه چې د ښار اسمان هم ددې ودانو په ستنو ولاړ وي، ګاډی د سمندر غاړې ته نژدې شوی وو، دلته هم د ژوند خاپستونو خپلې کېږدۍ لګولې وې، د انسانانو یو بل سمندر هم په نظر راتلو، نن د اتوار ورځ ده، د مئي هم وروستۍ نېټه ده، په ښار کې عامه چټي وه، نو نن دلته ډېره ګڼه ګوڼه وه، خو حقه حېرانه وم چې د جاپانیانو او چینایانو یو لوی سمندر په دې پرسکونه ځای او ماحول کې یوه ناقلاري پېدا کوله، په اعصابو او غوږونو د هغوي چنګ چونګ ډېر بد لګېدو، یوه لویه اژدها کشتۍ د سمندر غاړې ته لنګر انداز شوې وه، او د خلکو قطارونه ترې بهر راوتل، ماته پینې په یو خایسته او پرسکونه ځای کې د ناستې وویل او هغه خپله د کشتۍ (بوټ) د ټکټ اخستلو لپاره په مقرره ځای کې په قطار کې ودرېده، امریکایي قوم به هر څه مات کړي خو د خپل ژوند نظم و ضبط برقرار ساتي او د دې خبرې عملي مظاهره مې د دې قوم په ډېرو ځایونو کې ولیده، زه په ناسته ناسته ستړې شوم، راپاڅېدم د سمندر په غاړه لګېدلې د اوسپنې تورې غټې جنګلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ودرېدم، او په چپو چپو سمندر ته مې کتل، یو ځل بیا د تصور دنیا ته ورګډه شوم، خپل بچی مې د لاس نه نیولی وي او په داسې خایسته ځایونو یې ګرځوم، کله ورته یو شی اخلم او کله بل، خو دلته ډېر خلك موجود دي، په دې ګڼه کې زما (هلمند) زما نه بې درکه شي، زه چغې وهم، هلمند.....! هلمند.....! ته چېرته یې؟ لکه د لېونو ګرځم اخوا دېخوا ګورم خو هلمند نه وي په چغو ژاړم د سر وېښته شوکوم، خو هلمند په نظر نه راځي، پلیز....!! د پیني په غږ زه ددې بدرنګه تصور د ټال نه راکوزه شوم، اف خدایه! څنګه بدرنګ خیال وو، ددې خیال سره مې ټول وجود په لړزان شو زړه مې بې واره بې واره درزېده، پیني! ماته په ځیر شوه، واخله کور ته فون وکړه، هغې ژر خپل موبایل ماته راوړاندې کړو، او ما د دې احساس نه د وتو د پاره دا غوره وګڼل چې ژر د خپل خاوند غږ واورم، د کور کلي په حال ځان خبر کړم، د خپلې ترور پوښتنه وکړم، د نایاب د فون شمېره ډېره ژر برابره شوه، د بلې خوا نه مې د هغه غږ واورېد، ټول حال یې راکړو، زما څه قدرې تسلي وشوه، ته فکر مه کوه خپل وخت ښه تېره کړه، چکرې ولګوه او د ځان خیال وساته، د خپل ژوند د ملګري په دې بې پناه مینه مې زړه نور هم غټ شو، د پروګرام د کامیابۍ زېری مې پرې وکړو، ورته مې ووې چې دلته زما ډېره لویه حوصله افزایي وکړې شوه، هغه هم زما په ډاډګېرنه ډېر خوشحاله شو، خبرې مې کولې چې پیني دوه ټیکسه په لاس کې نیولې راښکاره شوه، د نایاب سره مې خدای په اماني وکړه، او زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپاڅېدم خو کشتۍ ته د خلکو لوی لوی قطارونه ولاړ وو دومره ژر به مونږ څنګه تلو؟ نو د انتظار نه بله چاره نه وه، خو د دې انتظار خپله یوه مزه وه، سترګو پکې خپلې لمنې د ډېر څه نه ډکولې زړه د یو لاړواله راحت په درشل ولاړ وو، لېونۍ درزا یې څه بل رنګ وه، زه د ژوند او ښکلا ګانو په منظرونو کې ډوبه وم، قطارونه په ورو ورو وړاندې کېدل کله کله به د دې لویې کشتۍ دنګ لوړ قامت ته په کتو خپلې حېرانتیا د لاسه نیولې وم، د هغې نه چې کوم د شمېره وتلي خلك راوتل نو هغه وخت ما د کشتۍ د دننه جهان د پراخوالي اندازه لګولې وه، یوه لویه دنیا یې په خپله سینه کې ځای کړې وه، اوس یې د نوو سېلګرو لپاره خپله غېږه خورولې، خدای خبر چې دننه به دا څنګه وي؟ ما سوچ کولو، او بیا هغه وخت هم راغلو چې مونږ په خپل نوبت د کشتۍ په زمکه قدم کېښود، څنګه څنګه چې مخکې تلم زما حېراني ډېرېده، یو لوی ښار مې د سترګو وړاندې وو، د ښار سینګار کړي بازارونه او هوټلونه لکه د ژوند د تودې مېلې ښکارېدل، د چینایانو او چاپانیانو ګڼه ګوڼه راته اوس ډېره د مزې لګېده، ځینو جوړو پکې یو بل سره لاسونه او غېږې د ژوند او محبت په لوظ ټینګې نیولې وې، ما خپله کېمره پیني ته حواله کړه چې د دې خایسته منظرونو د قید کولو هڅه وکړي، پیني د کشتۍ په هر منزل زما تصویرونه واخستل، دلته په هر ځای کې د ناستې خایسته ځایونه موجود وو، خو خلك په ولاړه ډېره خوشحاله وو، اوس مونږ د کشتۍ اخري سر ته ختلي وو، دلته د سمندر هوا ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زور وه، د نيو يارك ښار د خپلو هنګامه خېزو هلو ځلو سره د سمندر په سينه د ولاړې کشتۍ نه لانور ښکلي ښکارېدو، اوس کشتۍ د تګ لپاره خپل اړخ بدل کړو، په ډېر مکېز په ډډه واوړېده، د سمندر په سينه د نرمو نرمو څپو په څنګ رواني کشتۍ لکه چې ټول سواره د رنګونو او خوندونو يو خايسته جهان ته په مخه کړي وو، د خلکو خنداګانې، د مينو پټې ښکاره ګنګوسې، د يو بل په څنګ کې د نزدې ولاړې لېونتوب ته لکه چې يوه نوې مستي ورکړې وه، دې سفر رنګونه راغونډول او د خپل ((ياد)) په خزانه کې يې د تل لپاره خوندي کول، ما هم دا ټولې د ژوند او سرور ډکې لمحې د ځان دننه جذب کولې، ما ګڼل چې ددې يادګاري لمحو د خوشحالۍ او لذت احساس زما بچی هم محسوس کړي او هم داسې يې کول ځکه خو به يې په يو ټوپ زما تر زړه خپل ځان راورسولو، ماته يې بيا بيا دا باور راکولو، زه تاسره يم، زه هم دا هر څه وينم، کله چې زه ستا غېږې ته راشم نو زه به تاته ټول حال ووايم، ددې پرکېفه تصور سره به مې سترګې، د سرور د يوې ناوياته نشې سره د څه وخت د پاره درنې غوندې شوې، د پيني غږ به د کشتۍ جهان کې بيا اودرولم، هغې په ناسته، ولاړه غرض د هرې زاويې نه زما تصويرونه اخستل او ورسره ورسره يې د سمندر په غاړه پروت د نيو يارك د ښار د يو يو ښکارېدونکي ځای زما سره پېژندګلوي کوله، په دې ټول چکر کې ښکارېدونکي ټوله ودانې تجارتي مرکزونه دفترونه او د استوګنې ځايونه وو، د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشتۍ د یو تن کرایه پنځوس ډالره وه، ما سوچ کولو چې د کشتۍ دننه تجارتي بازارونه، دوکانونه، هوټلونه، چې خلکو ترېنه خوراکي توکي رانیول او په مزو یې خوړل د دې یوې کشتۍ د یو تګ (چکر) نه به څومره امدن راځي؟ هم دغه وجه ده چې دې قوم د خپلو وسایلو د سېوا کولو د پاره د امدن نوې نوې وسیلې ځانله برابرې کړې دي، زه په دې سوچونونو کې راګېره وم او کشتۍ اوس د سمندر دنګو دنګو څپو ته رسېدلې وه، ما کتل چې د اسمان په مخ د وریځو غټې غټې سپین او خړ ګټان هم د نمر د پلوشو سره په انګته وو، خایسته خایسته مارغان به راوالوتل او د کشتۍ په بلو او چجو به کېناستل، نورې وړې وړې کشتۍ هم د سمندر په غېږه کې لړې لړې روانې په نظر راتلې، موسم نن د وریځو او د لمر د مقابلې وو، دغه د وریځو او لمر پټ پټوني ډېر خوند راکولو او ډېر د فطرت لېونو دغه ننداري په خپلو کېمرو کې خوندي کولې، په اسمان د خایسته برګو برګو مرغانو لښکرې داسې په قطار کې روانې وې چې وریځو ته یې خُلې ورکولې، دې سره به د سمندر نه د یوې کاواکې هوا د زور چپه راوچته شوه چې زما د لویې درنې برقعې نقاب به یې زما د مخ نه ډېر په شرارت اخوا کړو، خو د سرڅپو ټکي مې په سر ډېر ټینګ نیولی وو، لکه د خپلو پښتني روایاتو، د سر ټول ترلي وښته به مې په مخ د هوا د زوره دانه وانه شول، دا چکر په یو ساعت کې سرته رسېدلی و، اوس کشتۍ د واپسۍ په لور خپل د ودرېدو ځای ته رسېدونکې وه، د خلکو د وتلو سلسله

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا په دوام کې شوه او داسې د ژوند دا یادګاري سفر د تل لپاره د یاد په تختۍ لیك پاتې شو.

(د ډاکټرې عذرا رضا کره د غرمې ډوډۍ)

د سمندر د سېل نه په واپسۍ یو ځل بیا پیني په منډه وه، نن یوه بجه د عذرا رضا کره تلل وو، د ټولو مېلمنو په درناوي کې نن د غرمې د ډوډۍ انتظام هغې په غاړه اخستی وو، عذرا رضا د کراچۍ سره تعلق ساتي، د ښځو د رنځونو ماهره ده او د خپلې کورنۍ سره په نیویارك کې مېشته وه، د اردو ښه ادیبه او شاعره ده، دلته خپل کلینك هم چلوي، کور ته یې د نیم ساعت په اندازه سفر وو، په لاره مو فهمیده ریاض او وقاص خواجه هم راواخستل او بیا لږ ساعت پس د یوې کمې ودانۍ علاقه چې ډېره شنه او زرخېزه وه، لوی لوی پراخه چمنونه او د لوبو مېدانونه پکې په نظر راتلل، راورسېدو، ګاډی د یوې دنګې لوړې ګڼ شمېر منزله ودانۍ مخې ته ولاړ وو، دلته هم یو ولاړ محافظ مونږ ته اول خو برند برند وکتل، پیني ورته خپل کارډ ښکاره کړو او مونږ ته یې دننه د تلو اشاره وکړه، دلته هم یو لوی پراخه لفټ د تلونکو راتلونکو د ورلو راوړلو کار کوي، مونږ د لفټ د دولسم لمبر منزل بټن زور کړه، دلته ګېر چاپېره د ډېرو کورونو پورې تنبې لکه چې دننه دنیا یې په خوب ویده ده، د عذرا رضا په فلېټ د هغې د نوم تختۍ لګېدلې وه، د اطلاعي ټلۍ په کړنګا عذرا رضا زمونږ مخې ته په مسکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړه وه، په پاکستاني لباس کې ډېره باوقاره ښکارېده، ټولو سره یې په مینه سترې مشي وکړه، کور یې ډېر ښکلیسینګار کړی و، د دننه تلو سره سم مو سترګې د باورچي خانې په مېزونو د ټولو تیار شوو کورنیو پخلو په لوښو ښخې شوې، د تازه پخلي رنګ رنګ مصالو خوشبویو راته اشتها څه بل رنګ راژوندۍ کړه، دلته د کورونو د تعمیراتو طرز بېخي جدا دی، د پخلي ځای به ټول ښکاره وي، په ډېر هنر سره سینګار شوی د پخلي ځای د عذرا رضا د کورنۍ ژوند سره د لرلې مینې او هنر یو ثبوت وو، په هر ګوټ کې پروت په خایسته مېز د مصنوعي بوټو او ګلونو ایښودې شوې ګملو خو سترګو ته یو نوي طاقت ورکولو، د کور یوه لویه برخه په ښکاره کتابخانې مشتمله وه، په کتابتون کې ډېر په ترتیب د کتابونو د روایت په سمون ډېر په منظم ډول د بېلا بېلو موضوعاتو کتابونه ایښودل شوي وو، چې د ډاکټرې عذرا رضا د علمي او ادبي ذوق ترجماني یې کوله، مونږ د هغې د کتابتون په ګوټ ګوټ وګرځېدو او هغې په منډه منډه خپل نیمګړې کارونه سرته رسول، دې دوران کې د دروازې ټلۍ بیا په ګړنګار شوه، ډاکټر عذرا دروازه خلاصه کړه، اوس ثمینه قریشي، شهلا نقوي او افتخار نسیم په مسکا مسکا رانتوتل، ټولو د یو بل نه حال احوال وپوښتل، ثمینه قریشي زما نه زما د صحت تپوس وکړو، خو هغې چې زه خوشحاله خوشحاله ولیدم نو دا هغې له زما په روغ صحت پیغام وو، د خبرو اترو او ټوقو ټقالو یوه مزېداره سلسله تر ډوډۍ شروع شوه، عذرا

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضاا هم خپل نیمګړي کارونه سر ته کړي وو او زموږ سره شامله وه، خو فهمیده ریاض غږ وکړو، مونږ خو ډوډۍ ته هم راغلي یو کنه، د هغې د یادګېرنې په دې خبره ټولو وخندل په ټول کور کې د خوشبویه مصالو او پخلو خوشبو خورې وې، زه خو د ټولو نه زیاته خوشحاله وم چې د کور پخلي به مې نن خوړو، په دې خبره اوس عذرا ټولو ته د ډوډۍ خوړلو غږ وکړو، په ټولو اختر شو، په اوږدو مېزونو ګرمې ډونګې پرتې وې، چې د هغې نه سر اخوا کول څه وو چې بس بیا یو بل منظر و، د ایشېدلو سپینو وریجو سره په چرګ کې پوخ کړي مزېدار او مصاله دار د مسورو دال، ماسته، چکنې، اچار او ورسره ورسره د شړشمو ساګ دا ټول زما د خوښې پخلي وو، د شړشمو د ساګ ذایقه خو به مې په ژوند هېره نه شي، نن مې لکه د خپل کور د خپل لاس ډوډۍ لکه چې خوړلې وه، ددې نه پس د عذرا رضا په کور کې د یوې وړې شان اردو مشاعرې بند بناء هم موجوده وه، مشاعره فهمیده ریاض په خپلو خایسته شعرونو او افتخارنسیم په خپلو ترسکونو (مزاحیه) شعرونو اولوټله، پینې مونږ ته د تلو غږ وکړو مونږ هم د دې محفل نه اخر په نه زړه پاڅېدو، د خپلې کوربنې مننه مو وکړه او د یو بل نه مو د ژوند په تمه اجازت واخستلو، په نیو یارك کې زمونږ ټولې هلې ځلې سرته رسېدلې وې، د عذرا رضا د کور مخې ته په شین چمن کې د هوا په زمزمه غلی غلی د سرو ګلابونو بوټي په ورو ورو خوځېدل، زه د یو ګلاب په څنګ کې د پښو د پنجو په سر کېناستم، په خپل لاس مې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلاب یو خند پدلی ګل ورو ورو محسوس کړو، بیا مې د هغه د خوشبو مستۍ اخستلو د پاره خپله پوزه دغه ګلاب ته نږدې کړه، خو زما احساس ته د هغه ګلاب نه ښځې هغه خوشبویي رانغله کومه خوشبویي چې زما د وطن ګلابونه لري، خو د هغه خاورې خوشبویي هم زما د خاورې په شان جنتي نه وه، زما په خیال د خپل وطن د ګلابونو او خاورې خوشبویي راخوره شوه، ما څو اوږدې اوږدې ساګانې واخستې، د سترګو لیدل د پردۍ خاورې ګلونه وو، خو احساس د خپلې خاورې په خوشبویي معطره وو، وخت مازیګری وو، د نیو یارك په اسمان د لمر رنځورې پلوشې هم د ورځې د سفر نه ستړې ستړې وې، فهمیده ریاض او وقاص خواجه خو نن ماښام په نیویارك کې په یوه واحده برطانوي وړې کیفي کې د چایو څښلو پروګرام ټاکلی وو، په لاره لاره مې د خپلې کېمرې سینه د تصویرونو نه ډکه کړه، د ښار یو یو منظر مې پکې قید کړو.

مونږ د هغه کېفۍ مخې ته ولاړ وو، دا کېفۍ د برطانوي طرز یو خایسته مثال دی او چلوونکي یې هم د ولایت دي، په نیویارك کې د چایو څښلو دا ځای ډېر ښکلی دی، خلك ورته په ډېره مینه راځي، د برطانیې د حکمرانۍ د دور ډېر تاریخي تصویرونه په دې وړه شان کېفۍ کې لګېدلي دي، چې د خپل شاهي دور د عروج و زوال قیصه هم راتلونکو ته کوي، د چایو څښلو د لوښو طرز یې هم ډېر کلاسیکي او د خوند و، سوچه نرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نرۍ لکه کاغذ پیالۍ پرچونه، واړه واړه چیت چیت ښایسته ټاپې دار چانکونه، د ځلورو مېزونو چې هر مېز د ځلورو کسانو د پاره جوړ وو دا لنډه تنګه کېفۍ دومره ښکلې وه چې بهر ورته ګڼ شمېر راغلي خلك خپل وار ته په انتظار ناست وو، بهر په لوی پراخه ځای کې په ترتیب د ناستې د پاره چوکۍ ایښودې شوې وې، څنګه چې یوه مختصره عمله دننه د مېلمنو خیال ساتي دغه رنګ د برطانیې د شاهي خاندان په څېر ټوپۍ په سر دا ټوله عمله بهر هم د راغلو مېلمنو د پاره لاس په نامه ولاړه وي، هر یو تن ته یو چټ ورکوي د خپل نوبت او شمېرې، د مازیګر وخت خپل پړاو سرته رسولی وو،تود ماښامي د نیو یارك ښکلاګانې په خپلو شوخو چونګارو رابېدارولې، وقاص خواجه خواهش وکړو چې د چایو سره څه خوړل هم پکار دي، او بیا لږه شېبه پس د ورکړي ارډر مطابق د ګرمو ګرمو چایو سره د تازه بېکرۍ د دې نمکینې دانې چې اون نه یې تودې تودې راوخکلې وې، مونږ ته وړاندې کېښودې، د چایو سره واقعي چې دي خوراك خوند وکړو، دلته د خوراك نه پس هسې د ناستې تصود نشته، ځکه نو د بل د پاره مو غږ وکړو، ټول شپږ دېرش ډالره بل وو، وقاص اووي چې امریکایي رواج به وکړو، بوج په یو کس ښه نه وي، دولس دولس ډالره مو راجمع کړل او د تلو د پاره راولاړ شو، د امریکایي رواج دا انداز د بوج د تقسیمولو ډېر ښه خو ده، خو ما سوچ کولو چې زموږ پښتني روایات د مېلمه پالنې په دنیا کې مشهور دي، ځان به خرڅوو خو د مېلمه مېلمستیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



به کوو، مېلمه به نازوو، بحرحال د دوي رواج ته ګوته نه نیسو، د واپسۍ د پاره په هاغه لاره پېدل راروان وو.

دې مابنام خپل رومان او مستي د هر چا سترګو ته رسوله او سترګو زړونو ته ښکته کوله، لږ مخکې چې راغلو نو دوه ماشومان چې عمرونه به یې دولس دیارلس کاله وو، خایسته هلك (د مزېداره نوي نوخېزه پېغلوټې.....چې د نوي پېغلتوب په درشل یې لا پښه کلکه کړې هم نه وه، خو د رومان یو خایسته جهان یې د خپلو معصومو اداګانو په زور جوړ کړي وو، دغه ماشوم یې کلك راترغاړې ایستي وو، دواړو د هر چا نه بې نیازه د یو بل سترګو کې په مینه کتل، لکه چې د زړونو خبرې یې کولې، لکه ځینې د نوې ځوانۍ خواږه یې په یو بل پېرزو کول. لکه چې یو نوي جهان یې جوړولو، ما یوه شېبه دواړو ته مسکي مسکي وکتل او بیا لکه د هوا په څېر د هغې د مخې نه تېره شوم، خو فکر مې ددې دواړو ماشومانو په مینه پسې بیا بیا په وروستو وروستو کتل، نن شپه راته د وخته اوده کېدل وو ځکه چې سبا د دې سفر بل پړاو هوسټن ته رسېدل وو، خو د نیویارك زړه راښکونکو ښکلاګانو مې زړه بیا بیا د ځان سره پاتې کولو، د نیویارك د هرې لمحې یاد مې د ژوند په کتاب کې د یوې خایسته پاڼې اضافه کړې وه، خپل بېګ مې د شپې نه تیار کړو، ټوله شپه د د نیمې اودې او نیمې ویښې په کیفیت کې سرته ورسوله، خو سحر چې ځنګه غسل خانې ته تلم نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوټې د دروازې په ښکته رو کې مې نظر په سپین کاغذ پرېوتو، کاغذ څه وو، لکه چې د بجلۍ بربنډو تارونو ته مې لاس وروړي وي، د هوټل یو بل وو کوم چې زما په نوم جوړ کړی شوی وو او په بل کې مصرف د یو انګریزي فلم د کتو د پېسو ادایګي زما په نوم لیکلې وه، څلېریشت ډالره؟ په ما سر وګرځېد، مونږ فلم کله کتلی دی؟ په دې پرېشانۍ کې مې خپل بېګ راواخستلو، په کوټه مې یو الوداعي نظر هم وانه چولو، په کاونټر مې دغه کاغذ یو کس ته ښکاره کړو، هغه هم وویل، دا د فلم د کتو چارجز دی، ما سوچ کولو چې فلم خو مې نه دی کتلی البته په کوټه کې اېښودلی ټلوېزیون به مې کله کله ولګوو، خو دا ټلوېزیون به دومره پیچیده وو، چې ما به واپس بند کړو، بحرحال هغې وویل، تاسو ته وروستو بیا وایو، اوس چې زه څنګه د کاونټر نه راوګرځېدم نو فهمیده ریاض مې هم اوتره شان ولیده چې په لاس کې یې هاغه رنګ کاغذ نیولی وو، هغه د پنځوسو ډالرو قرض داره وه، هغې ته هم دا وویلي شو چې دا په کوټه کې د موي د کتو پېسې دي، بحر حال لږ وخت پس وقاص خواجه راورسېد، مونږ ورته د کاغذ ذکر وکړو، هغه دواړه بلونه د هوټل منېجر ته یوړل هغوي ته یې دا وضاحت وکړو چې د مېلمنو سره دومره وخت چرته وو چې موي یې کتلې ده، د هوټل والو زر خپل ریکارډ وکتو او وقاص ته یې وویل چې ټیک وایې، خو د موي بټن خامخا زور شوې ده، د لږ بحث نه پس هوټل والو دغه دواړه بلونه منسوخ کړل، او مونږ د ټي وي د بټن د زور

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو په ذکر ډېر حېرانه هم شو او په خندا هم، واقعي کله کله به د خبرونو کتو د پاره به مو د ټي وي بټن زور کړه، خو په سکرین په ډېرو فلمونو options راغلل، کوم فلم کتل غواړې؟ زما به ساه ډوبه شوه، زر به مې ټي وي بند کړو، مونږ څه خبر وو چې د دې بل به راځي، اوس پیني هم رارسېدلې وه، هغې چې مونږ تیار ولیدو نو ټیکسي یې ودروله، پیني د هر یو کس نه دا یقین واخستلو چې خپل سفري کاغذونه، پاسپورټونه را یو ځای کړي، ټیکسي د نیو یارك د هوایي ډګر په لور په حرکت کې شوه، د یوې نوې ورځې فضا ، شین اسمان او دغه قلارې نرمې نرمې پلوشې لکه چې یو ستړي مسافر ته د ارام او دمې زېری ورکوي، مسافرو ته د خپل منزل په لار د سفر توان بخښي. اوس پیني مونږ سره خدای په اماني کوله. ددې مینه ناکې مېرمن په محبت مو دلته ټول وخت ډېر د مزې او په ارام تېر کړی وو، داسې ښکارېده لکه خپله سکه مور خور چې رانه پاتې کېده، کلکه غاړه یې راکړه، د ځان او خپل ماشوم ډېر خیال ساته، وخت کم وو، یو ځل بیا د نیویارك نه د وتلو د پاره د هاغه زړه چاودونکو د ایمرګیشن د مرحلو نه تېرېدل وو، پیني خپل لاس خوزولو، ما به چې وروستو وکتل هغې به د خپلې مسکا سره لاس ښوځولو، او اخر د ایرپورټ دنیا د هغې څېره زموږ د نظر نه پناه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ذهن او زړه د تېرو ورځو یادونه ښځ ولاړ وو، وقاص خو ډېر بلد وو، ولې چې د امریکې یو یو ریاست یې لیدلی وو، مونږ دواړه د هغه په ډاډ روانې وو، خپل کاغذونه مو وقاص ته حواله کړي وو، دلته بیا هغه د قطارونو قطارونه وو، د پل صراط نه اوړېدل وو، د سیکورټي کېمرو پټو سترګو د هر مسافر څارنه کوله، یو ځل بیا د هر کس نه د لباس اضافي مواد اخوا کولي شول.. زما غټه لویه توره برقه د هر چا د توجه مرکز وه، وقاص خپل کوټ، بوټان، ټایي، جرابې، بوټان مخ ته تلونکې روانې پټۍ ته واچول، ما هم د څه وخت د پاره خپله برقه اخوا کړه، دغه وخت مې د کرکې او نفرت یو تریخ احساس په خپل زړه کې محسوس کړو، خو شکر مې اوکړو چې په تن اغوستې جامې خو راته پاتې کړي، وینې مې یو ځل بیا جوش وهلو، بیا بلې غاړې ته په یو تنګ بوت کې تکې تورې امریکنۍ به اول خپلې داړې چینګې کړې بیا به یې بدني تالاشي واخسته، یوه یوه لمحه د ستریا ډکه وه، د مسلمانانو تور سرو په دې بې عزتۍ خو ځکه ددې قوم خلاف په اسلامي نړۍ کې د کرکې جذبات راپېدا شوي دي، دغسې ټولې مرحلې په یو اضطرابي کېفیت کې سرته ورسېدې، او مونږ ته بورډنګ کارډونه راکړي شول، ما ډېره ستوماني محسوسوله په ملا مې نرى نرى درد وو، اوس د جهاز په انتظار کې په لوی لاونج کې ناست وو، دلته ما د فهمیده ریاض سره یو لوی د ګټې کاڼن ولیدو چې د هغې د کتابونو نه ډك وو، د ایمګریشن په ټوله مرحله کې د هغې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېشانی سوب هم دغه کاټن وو، ولې چې دلته د هغې هر کتاب د نغدو ډالرو کار کولو، هغې خپل ټول کتابونه یو ځل بیا په کاټن کې برابرول او په خله یې د ایمګریشن عملې ته سخت بدرد ویل، یوه لحظه پس د جهاز د روانېدو اعلان وشو، د ټولو نه اول په دې زېري زه راولاړه شوم د حورو په شان ښایسته ایرهوسټېسو دلته هم راته هر کلی وکړو، دا جهاز یو وړوکي جهاز وو چې مختصره عمله یې لرله، زما چوکۍ بالکل مخې ته وه، چې لږه پراخه هم وه خو راسره خوا کې چوکۍ تر ډېره وخته د خپل کس په انتظار وه، خو چې ښه وخت تېر شو او دلته څوك ناستې ته رانغله، نو فهمیدې اپا په دانګو دانګو ځان دې چوکۍ ته ماله راورسولو، زه ډېره خوشحاله شوم ولې چې دوه ساعته سفر داسې بې همسفره خوند نه کوي، اوس جهاز خپلې وزرې خورې کړې وې، د هواګانو په لور یې حرکت کړی وو، د زمکې دنیا اوس په یوه وړه دایره ښکارېده، څه لحظه پس ایرهوسټېې د مسافرو د پاره مالګین چپس او ساده اوبه راوړلې لکه زما د وطن د هوایي کمپنیو دې کمپنیو هم د ناشتې او ډوډۍ روایات پرېښې وو، خېر ناشته خو مونږ سحر وختې ښه برابره کړې وه، خو یو کپ کافي ته خو د هر چا زړه کېدو.

نن فهمیده اپا ډېره غلې غلې وه، لکه په یو دروند  فکر کې ګېره وه، زما په غږ د فکر د دنیا نه رابهر شوه ما کتل چې د هغې په سترګه کې یو تېر هېر وخت یو لوی غم اوښکه اوښکه ځلېدو لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د هغې دننه د ډېرې جذباتي ماتې ګوډې یو عمل روان دی، ما ورو شان د هغې لاس په خپل لاس کې واخستو، هغې خپل سر د یوې لمحې لپاره زما په اوږه کېښودو او بیا غلې غلې سلګو ونیوه، زه ډېره پرېشانه شوم، تپوس مې ترېنه وکړو چې ولې اپا؟ هغې په خلاګانو کې اوس کتل.... ماته خپل بچې رایادېږي.....!! هغې ورو شان د اوښکو یوه ګوله د ستوني تېره کړه، ما سوچ کولو چې دا یوه مور ده، د خپل بچي نه دا وخت لرې ده نو د هرې مور جذبات هم دغسې وي، خو بیا چې ما کومه خبره د هغې نه واورېده نو د هغې په صبر او استقامت مې حېرانتیا سېوا کېده، د هغې یک یو نیازبین بچی ځه موده مخکې د امریکې سمندر خوړلی وو......!! اُف! زما زړه د غم په چاړه لکه چا ډېر په شدت وهلی وي. د دې حادثې څو کلونه تېر شوي وو، خو د یوې مور د پاره د ځوان اولاد غم ټول عمر ځوان وي، ماته خپل ځواني مرګ ورور اعجاز علي شاه رایاد شو، اوس ماته دا احساس وشو چې زما او د اپا مینځ کې د شعر و ادب نه علاوه د یو شریك غم شریك نسبت هم شته، ما د هغې ډېره تسلي وکړه، د هغې راپارېدلی غم د تسلۍ په څو ټکو دومره زر کله قلارېدلی شو؟ ډېره شېبه زما او د هغې تر مینځ یوه خاموشي خوره وه، د هغې خپل ذاتي ژوند هم د کورونو مسلو ښکار پاتې شوی و، یو واده یې ناکامه شوی وو، د دوېم واده تجربه یې هم ډېره ښه نه وه، یوه لور یې د دوېم واده په نتیجه کې لرله، خو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ورکړه مروره ناسته وه، د هغې د ژوند په یوه یوه الميه زما زړه ډېر خفه وو، ځکه خو داسې اوتره اوتره ده.

د دنیا نه ورکه بس د خپل فکر او د زړه د دنیا یوه دروېشه، یوه ملنګه چې د هر انسان په غم ډېره دردېږي، د هوستن ښار رانږدې شوی وه اوس جهاز ورو ورو زمکې ته رسېدو. او بیا لکه چې جهاز د زمکې د مخ نه یوه کلکه بوسه واخسته. اوس وقاص هم خپل د لاس بریف کېس په لاس راښکاره شو. لږه شېبه پس د جهاز د پوړکو نه راښکته شو. د دې ځای موسم د نیویارك د موسم په مقابله کې لږه تودوخي لرله. دلته دنګ دنګ عمارتونه چرته خال خال په نظر راتلل. د دې اندازه مونږ ته د جهاز د پوړکو په سر په ولاړه د ایئرپورټ نه ګېرچاپېره د ودانو په ښکارېدو وشوه. د هوستن هوایي ډګر هم ډېر ښکلی وه. د نوي طرز یو شانداره ایرپورټ چې انسان یې په کتو نه مړېږي. دلته هم د ضروري مرحلو نه تېرېدل وو خو د وقاص سفري موجودګۍ مونږ ډېر په سهولت ساتلي وو. دلته د ایشیا سوسایټي د هوستن د څانګې مشر ښاغلی ویلئم فرټیهنر موجود وه. د درمیانه عمر یو سور سپین ځوان وه چې ډېر په مینه یې زمونږ هرکلی وکړ. په خپل ګاډي کې یې کښېنولو. د ګاډي چوکۍ ډېرې فراخه وې. په مزه مې پکې ډډه ولګوله. اوس ګاډی د ایرپورټ د حد نه بهر د ښار سړك ته په حرکت وه. د هوستن د ښار انداز د نیویارك نه بیخي بدل وه دلته ډېرې دنګې قلمي ماڼۍ خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي. پلن پلن سړکونه او د سړکونو خوا ته شنه شنه چمنونه په نظر راتلل. سړکونه يې هم ډېر پلن وو. دلته شين اسمان د لويو دنګو قلمي ماڼو د لاسه تنګ نه وه بلکې خلاص شين اسمان انساني زړه او نظر ته يو راحت بخښلو. د دې ښار ډېر استوګن د پاکستان او هند دي ځکه دا ښار په ورکوټي پاکستن مشهور دی. او په رښتيا چې د دې ښار د ودانۍ طرز زمونږ د وطن د لويو ښارونو په شان دی. څنګه څنګه چې ګاډی د ښار په سړکونو مخ په وړاندې تلو دومره دومره به د حسن او ښکلا ډېر ښايسته نوي نوي منظرونه به يې هم په مخه وړل. ښه ډېر ساعت پس ګاډی د يو ښايسته هوټل MARRIOT مخې ته ودرېدو. هوټل د بهر نه هم ډېر ځانګړی وه. د استقبالیې په کاونټر يې تورو امريکنو پېغلو په خپله پېشه ورانه مسکا مونږ ته هرکلی وکړو. د خپلو خپلو کوټو چابياني يې راکړې. دلته مو د فرټېهز سره د غرمې ډوډۍ په شريکه وخوړه. يو ځل بيا مې سپيني يشبدلي وريژې د ځان د پاره منساسب خوراك وګرځولو. فرټهېز د ټول پروګرام يعني دلته زمونږ د ټولو مصروفياتو ليکلې شوې ايجنډه مونږ ته حواله کړه. د دې هوټل لابي د نيويارك د هوټل نه ډېره ښکلې وه. د ټول هوټل دننه څلور طرفه داسې يو ښايسته بوټی لګولی شوی وه چې زېلې يې په ټولو دېوالونو خورې وې. دغه هوټل د دې بوټي د زېلو لاسونو ډېر ښکلی کړی وه. داسې ښکارېده لکه د شينکي دې زېله دار شال دا دنګ دېوالونه په خپل شين پلو کې کلك رانغاړلي وي. ماته دې نااشنا غوندې منظر دومره مزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکړه چې زړه مې غوښتل هم دلته ناسته وې. د بېلا بېلو معروضاتو، پابندو او سفري ستړیاګانو د دې سکون په ارمان کړي وو. اوس فریتهېز په دې وېنا اجازت واخستو چې تاسو ارام وکړئ او مازیګر به هم دلته بیا رایوځای کېږو. مونږ دلته په ناسته ناسته د دې نوو منظرونو نوو ځیزونو نه خوند اخستو چې وقاص خواجه یو لوی خبر مونږ ته واورولو.

په ایبټ اباد کې د اُسامه وژنه او د لوی اپرېشن خبر. فهمیدې په دې خبر یو لوی "هائی" وکړو. لکه چې په دې لویه پېښه د هغې جذبات رالړزېدلي وي خو زه پوهه شوم چې په پاکستان کې د امریکې او مغرب لوی دشمن موجودګي چې دې قام د دنیا د ټولو نه لوی او خطرناك ترهګر ګرځولی وه، نن په دې لویه پېښه یو سوال خامخا وه. او بیا تر ډېره وخته په دې موضوع ډېرې خبرې وکړې. په اسلامي نړۍ کې د دې په اثراتو د ردِ عمل مو ډېر بحث وکړو. په دې نوي راپېښ صورتحال زما لویه توره برقعه او د مخ نقاب زما د پاره د یوې لویې پرېشانۍ در پرانستو. د وقاص کشره خور چې ډاکټره وه او د خپلې کورنۍ سره دلته مېشته وه، نن هغه د خپل ورور د لیدو د پاره رارروانه وه. هغه هم په هوسټن کې وسېده، خو د وقاص د وېنا ترمخه د هغه د کوروداني او د دې کشرې خور د ډېر وخت نه په څه نالګي شوې ده خو د مشر ورور په حېث یې دلته په راتلو زړه صبر نه شو او خپلې خور ته یې په ټیلیفون د خپل راتګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووئیل، خور یې ډېره خوشحاله شوه او وقاص یې د دې خبرې پابند کړی وه چې هوټل ته به نه ځي ځکه نو اوس وقاص د خور کور ته ډېر د مینې سره روان وه. د ډېر وخت بېلو مئینو د یوبل مخونه لیدل.مونږ هم دا مناسب وګڼل چې د ماښام د پروګرام د پاره لږ ارام وکړو. داځل زمونږ د دواړو یوه کوټه وه، شریکه کوټه. خو ماته فهمیدې اپا ووې چې "ته خفه نه شې زه د ډیپرېشن بیماره یم یواځې ډېره ویرېږم ځکه نو ستا د اجازې نه بغېر ما د ځان د پاره د یوې ګډې کوټې خوښې ښکاره کړې ده." ماته هیڅ اعتراض نه وه. د هغې سره خو هسې هم زما همدردي وه د وخت او حالاتو د "جرندې" نه وتې د ژوند په داسې مقام ولاړه ده چې ډېره مایوسه او خفه ده ـــــ!! دا کوټه هم ډېره ښکلې وه د توري کفۍ د جوړولو معقول انتظام پکې موجود وه. لوی لکه مېدان پوست کټ، ښایسته ثربې ارام ده صوفې، لوی فراخه باتهـ روم، پکې د لامبلو مزیدار ټب. خپل خپل بېګونه مو په الماریۍ کې سمبال کېښول. او د لږ وخت د ارام د پاره مو په کټ ډډه واچوله. اپا خو کټ ته د تلو سره سمه په خرېرا شوه. زما سترګو ته راغلی خوب ته لکه چې چا په مرۍ ګوتې کېښودې. نېغه په کټ کې کېناستم، سوچ مې کولو چې اواز ورکړم که نه؟ اوس هغې خپله اړخ بدل کړو او ساه یې سمه شوه. ماته هم لږ ارام راغلو. دې دوران کې اپا پاڅېدلې وه او دوه کپه توده کافي یې پخپلو لاسو جوړه کړې وه.په صوفه ناسته وه او په خوند خوند یې کافي څښله. زه یې چې ویښه ولیدم نو لکه چې مور خپل بچې ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په وړه ژبه کې وايي "اوتو کافي پي لو" پخپل ځان ډېر وياړ راغی د اردو يوه لويه پېژندلې شاعره ماسره دومره مينه کوي، لکه د خپلې مور مې نازوي. زه راغلم د هغې په خوا کې لکه د وړې ماشومې کېناستم. هغه زما په جذباتو پوهېده چې څومره د مينې او احترام په سترګه مې ورله کتل. هغې هم ماته په ډېره مينه په سرلاس کېښودو. راته يې ووئيل چې د تللو تياری به وکړو. د هغې په اجازه ورمبی زه غسل خانې ته ورغلم. دلته د دې غسل خانې ټول نظام په بټنو روان وه. د هرڅه نه د کار اخستو د پاره يوه بټن زور کول وو. او ماتــه پــه بــټن زور کولــو د نيويــارك د اخــري ورځ د راروانېــدو او "جرمانې" پېښه رايادە شوه، د ځليريشتو ډالرو پېښــه چې په غلطۍ د يوې نااشنا بټنې د زور کولو په "جرم" کې په ماپسې ليکلې شوې وې. خدايا! سر مې په لاس کې ونيوـــ د ګټې د استعمال نه پس د هغې د صفايۍ د پاره اوس د بټنې زور کول وو. د يخو تودو اوبو د راوستو د پاره هم بټن زور کول وو. سترګې به مې خلاصې کړې. چرته په دې کې داسې بټن نه وي چې د هغې زور کول يوه بله جرمانه او بل پړ نه شي. (د ځان سره مې وخندل او دغه وخت مې د تودو اوبو يوه بټن زور کړه.)

(په هوسټن کې د پاکستان د قونصلګرۍ مشر عاقل نديم له خوا د ډوډۍ ورمبی دعوت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ویلیم فرییتهز هاغه ښایسته ګاډی یو ځل بیا زمونږ د پاره د هوټل مخې ته ولاړ وه. دلته د وخت پابندي په مونږ کې هم راغلې وه. پخپل ټاکلي وخت د هوټل ښکته لابي ته راغلو. د عاقل ندیم ښائسته بنګله چې د هغه سرکاري دفتر سره بیخي تړلې ده، د دې هوټل نه د یو ساعت په فاصله پرته وه. د کور هیڅ درك او سمت فریتهز ته هم معلوم نه وه خو په موبایل فون کې د یو سهولت ترمخه دغسې نامعلومه درکونه تاته د موبایل فون د پېغام په وسیله ښودل کېږي. او د دې کار د پاره دا OPTION وقاص پکار راوستلو. د لږې سرګردانۍ نه پس مونږ د عاقل ندیم د کور مخې ته د لوی شین چمن څنګ کې ولاړ وو. د پاکستان لوړ هسك سپین او شین بیرغ د نرۍ هوا په قلارو قلارو څپو شورېدو. د دې ټول شینکي په پس منظر کې تکې سپینې لکه د بکرې د غره په څیر ولاړې بنګلې د ماښام په توره تیاره کې ډېر د مزې منظر جوړولو. د بنګلې دننه د تورې تیارې په اوربل وړو وړو بلېدونکیو بلبونو یو روماني ماحول جوړ کړی وه. د دروازې او پورې ور کړکیو په شا رازوړندې اوږدې اوږدې پردې په نیمه تیاره نیمه رڼا کې لکه د ولاړ سنترانو (څوکیدارانو) ښکارېدې. دلته یوه عجیبه چپتیا وه. لکه چې د دې ماڼۍ دننه ژوند په خواږه خوب اوده وي. خو داسې نه وه دننه د کور منظر بدل وه. ټول په مینه ولاړ وو او د دروازې سنترې پورې ور په قلار خلاص کړو. او نزدې د عاقل ندیم سینګار شوې مېرمن د یوې مئینې مُسکا سره مونږ ته سترګې په لار وه. ورسره خوا کې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښایسته سوټ (کوټ، پېنټ) کې دنګ لوړ ځوان، چې سپینې چشمې یې لګولې وې، په مینه ولاړ وه. دواړو په ډېره مینه مونږ د کور په دننه ښایسته سینګار کړي شوي مېلمستون کې کېنولو. د ټول کور نه ښایست او رومان په کاسو کاسو راتوئېدو. هم هاغه د موم بتیو په روماني رڼا او تیاره کې د ناستو خلکو زړونه په یو نااشنا احساس بې واره بې واره درزېدل. دې ماحول په مزه مزه په ناستو خلکو خپل جادو پوکو. او اوس په دې جادو ټول نشه نشه ځنګېدل. د عاقل ندیم مېرمن یوه ښایسته جینۍ وه. هنر منده، سلیقه منده، په ډېره خپلوۍ د مېلمنو نه تاوېده. لږ ساعت کې د نورو مېلمنو د راتګ سلسه هم شروع شوه. دا ټول لرې نزدې وطن وال دي چې د یو بل سره داسې په مینه اوسي. د عاقل ندیم مېرمن به کله کله زما د پاره په ماته ګوډه هندکۍ پښتو کې څه خبره هم وکړه، چې ماته به یې ډېر خوند راکړو. د عوامي نېشنل پارټۍ د یو ستر مشر حاجي عدیل د کورنۍ سره یې اړیکي لرلې او د پېدایش ځای یې مردان وه. په دې ټولونسبتونو یې زه ډېره خوشحاله شوم. په نورو مېلمنو کې مېرمن شهناز یوه د پوخ عمر درنه خوږه مېرمن وه چې تعلق یې د کراچۍ سره وه. مېرمن عاقل ندیم د یو یو راتلونکي کس سره زمونږ پېژندګلوي کوله. دې دوران کې عاقل ندیم، چې په ظاهره ډېر چست او تکړه ځوان ښکارېدو خو د خبرو کولو دومره ګړندی نه وه، هغه د خپلې قونسلګرۍ ټولې ادبي، ثقافتي او قامي هلې ځلې مونږ ته بیان کړې. مونږ یې د خپلې ادارې د فعالیت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اګاه کړوز ناستو ټولو کسانو په ښو ټکو د هغه هلې ځلې وستايلې. د عاقل نديم مېرمنې زما د بيمارۍ په اړه ډېر تشويش کولو. دا خبره يې راته ډېره په کلکه وکړه، چې که ته پاتې کېدل غواړې نو مونږ سره پاتې کېدې شې تاته به کومه مسئله بيخي نه وي. خو زما دننه هاغه احساس زه بيا بيا ويرولم چې "مرګ ژوند شته، د کور نه يوائې يم هسې نه چې . . ." د هغې د مينې مې مننه وکړه. اوس د خپلو مېلمنو په خاطر تواضع کې په منډو ترړو وه. په کور کې يې د هر کار د پاره نوکر وه خو د هغې دا سود وه چې ډېر څه خپلو مېلمنو ته پخپلو لاسو پاخه کړي. د نوکرانو په مرسته يې يو يو څيز په مېز کېښودو. لږ وخت کې څلور پنځه مېزونه د رنګ رنګ نعمتونو نه ډك شو. " دا مې پخپل لاس تيار کړی دی" هغې د سره کړو چرګانو يو غټ تالی په مېز کېښودو. په تازه مېوو کې ډېرې نابلده او رنګ رنګ مېوې چې ما په وړمبي ځل وليدلې، د تورو تازه توتانو يوه يوه دانه دومره غټه وه لکه غټه خُرما. ډوډۍ مو په ډېر ښايسته ماحول کې وخوړه. اوس دلته په دې رنګينه شان تياره دنيا کې د موم بتيو رپېدونکو رڼاګانو لکه چې ډېر وخت پس دوه مئين د ډېر اوږد هجران نه پس د وصل په غېږه کې يو بل ته رانزدې کړې وي، او دا مئين يوبل ته په مينه مينه د هجر د تورو شپو قيصې کوي. لکه چې د ديدن په پهو د فراق زخمونه ټکوروي. نن د دې شپې کېفيت خو د شاعر د رومان دنيا په بله اړوله. او داسې دا يادګاري دعوت په ډېر ښايسته ماحول کې تر ناوخته جاري وه. د راپاڅېدو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتګ په وخت راته د عاقل نديم مېرمن دا زېری هم راکړو چې سبا به پروګرام ته زه هم راځم او ستا نوی کتاب به هم ګورم!!

د شپې چې مې د ستومانۍ د وجې زر اوده کېدو ته تلوار وه دومره به د فهميدې اپا "خرنړا" د خوبه رابېدارولم. د دې بې ارامۍ د وجې مې سر ناروا دړد شروع کړو. هغه چې د تنهايۍ نه ويرېده، بې غمه اوده وه خو شامت زما راغلی وه چې په ارام او خوب پسې مې سترګې وتې. کله کله به د کټ نه راولاړه شوم د لويې کړکۍ وړاندې به ودرېدم، پړده به مې ورو شان اخوا کړه، بيا به راغلم په صوفه به مې ډډه ووهله، د خوب نه به مې سترګې درنې وې خو د ملاستې کوشش به مې نه کولو ولې چې د کچه خوبه بيابيا راپاڅېدل زما په طبيعت ډېر بد اثر کوي. بيا مې په سر ډېر وخت دړد وي. اخر دا شپه هم سبا شوه او د ګړۍ ستنو راته د سبا غږ وکړو، د تکې توري شپې د خېټې نه د سحر رڼاګانې په راوتو وې. زه په مزه د کوټې نه اووتلم، د جنګلې سره ودرېدم، ښکته د رڼاګانو منظر ډېر خوند راکړو. د هوټل په لوی چمن کې ښايسته د مېلمنو د ناستې انتظام موجود وه، مېزونه او کرسۍ د هوټل په طرز دلته لګېدلې وې او ناستو خلکو پرې د ناشتې خوندونه اخستل. ښايسته ښايسته پېغلې د هوټل په جامه کې لکه د چنار د ونو ښکارېدې، په منډو منډو يې چاته د کافۍ ترماس وړلو او چا ته نور هرڅه. کړنګ ګړونګ د لوښو ډېر د لرې نه راتلو، په دې تور

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر د دې خلکو ویښه او ناشته کول راته ډېره عجیبه ښکارېده. زمونږ د ناراستو په حساب خو دا لاتوره شپه وه او دلته ژوند داسې ویښ او بېدار روان وه، تابه وئیل چې د ورځې سفر یې هم نیمې ته رسولی دی. نظر مې د دې هوټل د هر منزل ځلور واړه طرف ته لګېدلې د اوسپنې مضبوطې جنګلې بیا بیا ځان له راړولو. د جنګلې په سُورو کې ول په ول تر اخري سره رسېدلې شین بوټي خورو ورو زېلو د زړونو او خیالونو دنیا په خپل ښایست ښکلې کړې وه. د دې زېلو مینځ کې به لرې مخامخ د رڼاګانو مخونو هم ځیره وهله. دلته ژوند لکه د ښایست سره غاړه غټې په دې شینکي او رڼا کې راغونډ شوی وه. حسن لکه چې د دې منظرونو نه راتوئېدو. ما خپل ځان او احساس د دې ماحول یوه برخه ګڼله. غلی شان لکه د غلو بیا کوټې ته راننوتم ــ په قلار مې خپله بورقعه واچوله او د پنجو په سر د کوټې نه ووتم. کله چې لږه شېبه پس دې شین چمن زار ته نزدې شوم نو منظر نور هم ښایسته وه. د دې چمن په یو ګوټ ولاړه دروازه دغه شنې زېلۍ داسې ول په ول پرتې وې لکه د یوې ښایسته پېغلې په مخ د زلفو لړۍ ځانګې، دلته یوه پېغله هم د مسکو شونډو سره ولاړه وه، په څهره یې د ژوند او امید رنګونه په غورځنګ وو، په سترګو کې یې د خپل مستقبل خوبونه مسکي مسکي کېدل، د سترګو په اشاره یې راته نزدې په یوه چوکۍ د ناستې پیام راکړو. د ناستې سره مې په لوی مېز خپلې دواړه څنګلې ودرولې او د لاسو په کاسه کې مې خپل مخ راټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو. ګېر چاپېره د خوند او رنګ جهان ته ځیر شوم، یوه لمحه مې سترګې د ځان سره پټې شوې او بیا د یوې بلې پېغلې په معذرتي ټکو مې اوچت هغې ته وکتل. زما نه یې په مسکا تپوس کولو ـ څه راوړم؟ او ما ورته د کافي ووې. دلته د خوراکونو امبارونه یوې خوا ته لګولي شوي وو، هر کس د خپلې طبعې خوراك ځان له راخستلو. خو دومره سحر وختي زما زړه ته څه هم نه کېدل، البته د سر د درد د قلارونې د پاره مې د تودې کافۍ یوه پیاله څښل غوره وګڼل. د تودې کافۍ پیاله مې مخې ته پرته وه، تودې تودې لوخړې ترې ختلې او ما ګېرچاپېره د دې منظرونو تماشه کوله. اوس رڼا په خورېدو وه، د هوټل اضافي رڼاګانې ووژلې شوې، ځنې خلك واپس کېدل او ځنې راتلل، دا ټول خلك په دې هوټل کې دېره وو. په هوټل کې په بېل بېل وخت بېلې بېلې عملې کار کوه. د ډېرو خلکو د روزګار او معاش لمن ورسره تړلې ده. د هوټل د استقبالیې په کاونټر هم عمله بدله شوې وه. نن د سحر دا وخت زمونږ سره وه څه خاص پروګرام پکې نه وه، غرمې ته به فرټیهز راتلو. او د غرمې د ډوډۍ یو بل دعوت ته به په شریکه تلو. دغه ټول وخت ما او اپا په خبرو اترو تېر کړو. هغه د ملك او دنیا په سیاست یو خور وور نظر لري او دغه نظر یې د ټولو خبرو نه ښکاره وه. خو د سګرټو بې تحاشه څښل یې مجبوري جوړه شوې وه. د ټولو قوانینو یې پوره پوره خیال ساتلو د سګرټ د څښلو د پاره به یې زما لاس کلك ونیو او د ځان سره به یې د هوټل نه بهر اوویستم. په دمه دمه په ولاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړه به یې سګرټ وڅښلو او بیا به بېرته راغلو. په هوسټن کې هوا نن لږه یخه وه او دومره تېزه وه چې د هوټل مخې ته د یوې لحظې په ولاړه خو ماته دا ویره راپیدا شوه چې د دې هوا لکه چې زما په تن لوی لوی پښتني جامې او برقعه نه ده خوښه. . .... د هوا شوخو لاسونو به زما د سر نه د برقعې څپوټکی د ځان سره په هوا کولو. خو ما د دې هوا دې ادا ته ځان کله پرېښودلو. دلته نوره ولاړه که څه هم د مزې وه خو په زړه کې مې یوه ویره هم وه ـــ د اسامه بن لادن د وژنې په اړه د دې ځای په مسلمانانو کې به څه نه څه ردعمل خامخا پټ وه او بیا زما حالت، زما په تن لویه پرته توره برقعه دې اور ته پوکی ورکولی شي. په دې سوچ مې ځان یوې ډډې ته کړو خو د هوسټن د دې ځای شبنمي شینکی مې په نظر ډېر ښه لګېدو. زړه مې غوښتل چې د پښو پېزار د پښو نه لرې کړم او په دې شنو شنو ورشوګانو لېونۍ لېونۍ منډې کړم. خو نه راته د خپل وجود حالت د دې خبرې اجازت راکولو او نه دې نوي راپېښ صورتحال.... د زړه ټول ارمانونه مې په ډېره بې وسۍ هم د زړه په صندوقچي کې سمبال کړل.

د فرټهیز په فراخه ښایسته ګاډي کې یو ځل بیاپه ډېر ارام کېناستو. ګاډی د هوسټن ښار په سړکونو او لارو په سفر شو. څه شېبه پس یو بل ښایسته ځای ته، چې نسبتاً ډېره خاموشي یې لرله، د یو ښایسته سپین کاټېج مخې ته ودرېدو. د ګاډي د ودرېدو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اواز یوه ښایسته مشره ښځه چې واړه واړه وېښتـه یې ډېر پـه ترتیب ساتلي وو، راښکاره شوه. خپل نازولی ساتلی سپی یې په څنګ کې ولاړ وه. فهمیده ریاض دې مشرې ته په ډېر لېونتوب ورغاړې وتـه او بیا دې مشرې چې په روانه اردو کې خبرې شروع کړې نو زه حېرانـه شوم چې امریکنۍ مېرمن داسې روانه اردو وایي. او بیـا یـوه لحظـه پس د هغې مینه ناکې مېرمن د نرو نرچکو خو د مینې پـه طاقت د مضـبوطو څـانګونو پـه حصـار کـې مـا د خپلـې مـور خوشـبویي محسـوس کړه. "میری بچی!!" زمـا پـه سترګو کې د هغـې پـه دې خپلوۍ او مینه اوښکې راغلې. څه هم که د وخت تار پـه تـار کلونـه د هغې په مخ او څهره د خپلو کرښو په شکل کې ښکارېدل خو د هغـې چپتیـا او چابکتیـا د کتـو وه. اوس مـونږ د هغـې تـك سـپین لکـه د بکـرې کـاټېج تـه راننوتلي وو، پـه ډېـره سلیقه پکـې هرڅـه پراتـه وو. ساده ژوند او ډېـر محبت او مینـې پکـې منډې وهلې. مخـامخ برخـه یې د کور د مېلمسـتون وه او د هغـې سره خوا کـې د ډوډۍ خوړلـو، لږ دننه د کور برخه په کوټو او لاونج مشتمله وه. په لاونج کې یـو لـوی ځای د پخلي د پـاره وه چې سکښې دنګې لوړې سرې لـنکن پېغلـې پکـې اخلـی پخلـی کولـو.زه ډېـره خوشـحاله شـوم چـې دا مېـرمن د پاکسـتان وسـېدونکې وه. تعلـق یـې د پارسـي مـذهب سـره وه، د انګرېـزۍ ژبـې لویـه لیکوالـه وه، نـاول نګـاره او دانشـوره بېپسـي سدهوا (Bapsi Sidhwa) وه. د پاکسـتان وړمبۍ ښځینه ناول نګـاره چې ناولونه یې په امریکـه او مغربـي دنیـا کـې ډېـره مشـهورتیا لـري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان کې د لاهور وسېدونکې وه خو د څه وخت نه د خپلې کورنۍ سره په هوستن کې وسېږي. د دې مېرمن ورور مئیو بنداري به هم په ورځپانه ډان کې لیکل کول. یوه ارټ ګېلري یې هم لرله چې ډېره فعالتیا یې لرله، د دوي ټوله کورنۍ د پاکستان په عزتمندو کورنو کې شمارلې شي. خو څه وخت مخکې د دې کورنۍ غړو ته په پاکستان کې د فرقه واریت په حواله د امن و امان څه مسئلې راپېښې شوې چې څه وژنې ترینه هم وکړلې شوې، دغه رنګ دا د امن خوښونکي د دې فساداتو او د فرقه واریت د اور نه د وتو په خاطر امریکه کې پناه ګزین شول چې اوس هم د خپل وطن په یاد ژوندي دي. د دې مېرمن د کور ټولو غړو مونږ په ډېره مینه ونازولو. او بیا زما د لیکلي ناول "ملکه" په هڅه خو دومره خوشحاله شوه، بې واره یې ښکل کړم، دغه وخت ما خپل جذبات بیخي نه شو سمبالولی. زه د یوې ډېرې لویې لیکوالې مخې ته ناسته وم، د ټولو مېلمنو نه هم زیاته توجه یې ماته راکوله. ماته یې د ښه لیك، تخلیق حوصله راکوله. وئیل یې چې د هر لیکونکي افکار او تخلیق هم دغه رنګ نوې نوې انساني خپلوۍ راپېدا کوي، انسانان یوبل ته نزدې کوي، کربښې او دېوالونه ورانوي او د مینې یو نوی جهان جوړوي. لفظونه، قلم او فکر لوی طاقت دی ته هم په دې طاقت دومره لرې راغلې یې. زه تر ډېره وخته د هغې په ښایسته خبرو مشغوله وم. شهناز هم راغلې وه، د چا سره چې مې عاقل ندیم کره وړمبی ملاقات شوی وه. وخت ډېر د مزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرېدو هغې مونږ پخپله مينه سېرابه کولو. خو يو حقيقت د خبتې د مړولو هم وه، او نن بيا زه د کور په پخلي مېلمنه وم. دغه وخت د سدهوا نوکرې د خوراك ټول هرڅه په مېز اېښودي وو. سدهوا په مينه مېلمنو ته د ډوډۍ غږ وکړو. په سلادو کې د شنې پودينې خوند به د چا نه وي خوښ؟ خو دلته په سلادو کې اودي رنګ پودينه د خپلې تازګۍ او خوشبويۍ سره جومبك جومبك پرته وه. په دې پخلو کې د باتينګړو يوه ډونګه هم پرته وه، چې د پخلي انداز يې لږ بدل وه. خو د خپل خوند له کبله په ټولو ښه ولګېدو. په خوندورو خبرو اترو کې د مزېدارې ډوډۍ دا محفل د مېرمن سدهوا له خوا د ډېرې مينې او محبت د لازواله وختونو د يادونو سره سرته ورسېدو. د واپس تللو منظر هم ډېر عجيبه وه. زړه وه چې په ورستو ورستو د ګوګل نه پاتې کېدو. ټولو د مېرمن سدهوا مينه او محبت په درنو ټکو وستائيلو او بيا زما د پاره خو دا خبره د زېري نه کمه نه وه چې نن ماښام به د ماډرن پوئټري آف پاکستان د مخ کتنې دستورې ته مېرمن سدهوا هم راځي!!

مازيګر د هوسټن په يو ښايسته کميونټي سنټر کې د امريکې د سفارت خانې اسلام اباد په مرسته د چاپ شوي کتاب چې د پاکستان د لويو لويو شاعرانو اثار پکې خوندي شوي دي، ماډرن پوئټري آف پاکستان د مخ کتنې دستوره راجوړه کړې شوې وه. د ايشيا سوسايټي امريکې د سيورې لاندې دې دستورې ته ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



په امریکه کې مېشته پاکستانیان او د هند وسېدونکي رابلل شوي وو. ډېر پکې مقامي امریکنیان هم موجود وو. د ذرائع ابلاغ سره تعلق لرونکي ګڼ شمېر خلك هم موجود وو. د کتاب ډېرې نسخې یوې خوا ته د راتلونکو د پاره اېښودې شوې وې. فهمیده ریاض خپل راوړلی د ګتې لوی کاټن چې د خپلو کتابونو نه یې ډك راوړلی وه، هغې هم خپل کتابونه ډسپلې کړي وو. ما هم د خپل ناول ملکه څو نسخې ځان سره راخستې وې. په ډېر اهتمام د دې مېلې واکمنو هغه هم د نورو کتابونو په څنګ کې اېښودې وې. مېلمنو د راتلو سره به اول په کتابونو خپله تنده ماته کړه. دلته د ماډرن پوئټري آف پاکستان ګڼې نسخې په بېعه خرڅې شوې. د فهمیده ریاض په کتابونو کې هم مېلمنو خصوصي دلچسپي لرله. کتابونه ئې په ډېرو ډېرو ډالرو خرڅېدل. کله کله به زه هم د هال نه راووتم د خپل کتاب د جاج اخستو په نیت به د کتابونو خواله راغلم خو یوه نسخه هم د ځایه نه وه بې ځایه شوې... دلته یو پښتون هم راپېښه نه وه کړې، البته دغه وخت مېرمن عاقل ندیم او شهناز په منډه منډه راروانې وې چې څنګه یې زه ولیدم زما کتاب یې راواخستو او دواړو د حوصله افزایۍ په نیت یوه یوه نسخه قیمتاً واخسته. زما خوشحالي هم د کتو وه. د دې نه پس مې یوه نسخه مېرمن سدهوا ته ډالۍ کړه. هغه زر د خپل ځایه راولاړه شوه، په تندي یې ښکل کړم، د کتاب سرپاڼه یې په ډېر غور وکتله، بیا یې راته ووې چې دا به ستا د لاس کړي دستخط سره زما سره سمبال

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروت وي. خو اوس زه د دې کتاب دوېمه نسخه قیمتاً اخلم... او زر یې د پرس نه د لسو ډالرو یو نوټ زما په لاسو کې کېښودو. دغه رنګ یو ډېر مینه ناك مشر امین باسط چې شاعر ادیب خو نه وه خو زما د حوصله افزایۍ د پاره یې دوه نسخې په بیعه واخستې او دا یې راته هم ووئیل چې په کېلیفورنیا کې زما یو دوست دی چې پښتون دی دا یوه نسخه به زه هغه له تحفه لیږم. نن زه هم ډېره خوشحاله وم ولې چې ډېرو مېلمنو د ماډرن پوئټري آف پاکستان د نامې په کتاب زما دستخطونه په مینه اخستل. د خلکو ټولګي به راتلل او زما سره به یې عکسونه اخستل، د مېډیا سره مو یو شمېر مرکې وکړې. د نیویارك په نسبت په هوسټن کې زمونږ د ډاډګېرنې یوه لویه وجه دلته د ډېرو پاکستانیانو موجودګي هم وه. او بیا چې کله هاغه نظمونه یو ځل بیا وار په وار د هوسټن په ښایسته ماښام کې د شعر ذوق لرونکو ته مونږ وړاندې کړل نو د انګرېزۍ ژباړو نه پس ټولو حاضرینو زمونږ فکر په ډېرو چړچقو کې وستائیلو. اوس زما د سیمې په حواله د امن و امان په حواله د پښتنو ښځو د ژوند او ستونځو په حواله زما نه ډېرې پښتنې روانې وې. .. ما د خپلې سیمې لمبه لمبه تصویر یو وار بیا د دې ځای د فکر و نظر خاوندانو ته وړاندې کړو. په داسې حالاتو کې په ژوند کولو او د ادب د پاره په ستړیا کولو یو ځل بیا حاضرینو په ولاړه ولاړه احتراماً زما هلې ځلې وستائیلې. زما همت او حوصلې یې مضبوطې کړې. داسې ماسخوتن تر ناوخته پورې دا یادګاري دستوره هم د ډېرو ښو یادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د ماضي د ژوند یوه برخه جوړه شوه. په ذهني توګه اوس مونږ ازاد شوي وو ولې چې ټولې هلې ځلې په وخت سرته رسېدلې وې.

د فهمیدې اپا واده کړی خورزه د هغې خاوند او بچي هغې ته د ملاقات د پاره د ډیلس نه راروان وو. د دې ځایه به اپا د هغوي سره تله. خو زما د خیال په پرده اوس زما د بچي تصویر سره زما د خپلو خپلوانو د تصویرونو ګرځېدو... ماسره د خپلې روغۍ او ناروغۍ ډېر فکر وه. کور ته واپس کېدل مې ضروري ګڼل. خدای خبر چې ترور به مې په څه حالت کې وي... وي به هم که نه..؟ دا ټولې وسوسې رانه چاپېره وې. د واپسۍ په لاره اول به زما جهاز شیکاګو ته تلو د هاغه ځایه به بیا دوبۍ ته راتلم... د دومره لوی سفر ستړیا رانه اوس خپل لاسونه چاپېره کول. د فهمیدې اپا ډیلس ته د روانېدو وخت نزدې وه، زه هغې په دواړه مخه ښکل کړم، په الوداعي نظر مو یوبل ته کتل، اوس د هغوي د ګاډي دروازې وتړلې شوې د یوې کړکۍ د شیشې پورې غاړه د فهمیده ریاض غمژنو سترګو ماته کتل، د هغې د خدای په امانۍ د پاره د خوزېدونکي لاس منګول اوس د ګاډي د حرکت سره زما د سترګو پناه شوه.... ډېره لحظه زه هلته ولاړه وم. ډېر وخت مې د هغې د مړو سګرټو ایرو او ټوټو ته کتل. بیا په درنو پښو هوټل ته راننوتم. نن د هوټل کمره کې زه یواځې وم، د شپې د ملاستې نه مخکې د ډېرو یادونو سره مې د سفر سامان راغونډولو.. لکه چې ډېر یادونه مې هم پنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول... ټول کارونه اوس سرته رسېدلي وو. بس نن شپه ماته ښه ارام کول ضروري وو. ولې چې د يوې ورځې او يوې شپې مزل مې مخې ته لکه د غر ولاړ وه. خوب ډېر زر راغی، د خوب دنيا کې بيا د ژوند د ښايستونو بازارونه لګېدلي وو. د خپل بچي د پاره مې رنګ رنګ ځيزونه اخستل. جامې، د لوبو ځيزونه، په هغې کې ګاډي، جهازونه، زما بچی ډېر خوشحاله وه.... د ګوتې نه يې کلکه نيولې وم... ځای په ځای يې ګرځولم. هغه ډېر خوشحاله وه. او زه هم د هغه په خوشحالۍ خوشحاله خدای خبر چې نور به مې کوم منظرونه ترسترګو کېدل چې په موبايل د لګولي شوي الارم ټنګار مې سترګې وغړولې. د خوبونو په دنيا د ځان سره مسکۍ شوم، د تللو تيارۍ مې وکړې، وقاص نن اټلانټا ته واپس روان وه، او فرټيهز به زما د سهولت په غرض زما سره د هوايي ډګر ترځه ځايه تللو. د سرسري ناشتې کولو نه پس زه د فرټيهز په انتظار د هوټل په لاونج کې ناسته وم، خپل رغړنده بېګ مې ترځنګ اودرولی وه، فرټيهز هم په خپل ټاکلي وخت راورسېدو. د هوټل ټول حساب يې د عملې سره په څو لمحو کې بې باکه کړو اوس يې زما بېګ ته لاس کړو، ما يو الوداعي نر د هوسټن په دې ښايسته هوټل واچولو. او په منډه بهر ووتم. خپل وطن او کور ته د بېرته تلو احساس دومره ښايسته وه چې لکه يو قيدي چې د جېل نه بهر وځي. يو ځل ګاډی بيا د هوسټن ښار په سړکونو په حرکت کې شو. دلته اېرپورټ په ډېره لرې فاصله دی. د سفر ټول کاغذونه مې ښکاره په لاس نيولي وو. بيا د يوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوې مرحلې نه په زړه چاودون تېرېدل وو. لږ ساعت کې وقاص زمونږ نه رخصت اخستو د یو بل سره مو خدای په اماني وکړه، وقاص راته ووئیل چې زه ډېر زر پاکستان ته در روان یم، کېدی شي مردان ته راشم!! وقاص هم ډېر ګړندی ګړندی روان وه. فرټیهز ما سره په ځنو مرحلو کې موجود وه، زما بېګ یې جمع کړو او ماته یې بورډنګ کارډ راکړو. اوس زه د جهاز په انتظار د هوسټن په ښایسته ایرپورټ کې د واپسۍ د پاره بیخي تیاره ناسته وم. دا لاونج هم ډېر منظم وه. د مسافرو د سهولت د پاره پکې هره اساني موجود ده. فریټهیز زما سره ډېر وخت ناست وه. خو اخر مې ورته ووې چې ستا به خپل کارونه وي، وړاندې ماته هیڅ څه مسئله نشته، تاسو لاړ شئ..!! هغه هم زما په لرلي اعتماد ډېر خوشحاله شو، د خدای په اماني یې راسره وکړه او زما نه رخصت شو. په ایرپورټ د خلکو تګ راتګ، د مسافرو په څهرو د سترپا او امیدونو ګډوډ تاثرات څه هم که وخت دلته په ناسته په داسې مشاهده ښه تېرېږي خو زما خپل وطن او کور ته د واپس کېدو تلوسه داسې د لېونتوب وه چې زه یې د دنیا نه... د دې لویې دنیا... د خور وور انساني سمندر او غېږ غېږ ښکلاګانو نه بې نیازه کړې وم. .... ما پخپل تصور کې د خپل وطن فضا لیدله. څه هم که د بارودو د لوګیو نه ډکه ده خو د خپل وطن او خپلې خاورې مینه هله راژوندۍ شي چې انسان د وطن نه لرې پاتې شي. زما د خیال په آئینه زما د مئینو څهرې زما لیدو ته هم ډېرې بې تابه وې. کله کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



به د فکر دا تسلسل ټول په ټوله د یوې نوې معصومې څهرې نه چاپېره شو. د هغه په مسکو سترګو ماته زما ظاهري جهان د یوې نوې رڼا سره روڼ ښکارېدو. د هغه ژړا مې د تخیل مارغانو ته د نوي ژوند نعرې وهلې. د هغه په کټ کټ د خندا سپرلیو به زما نه ګېرچاپېره ګلونه وغوړول.... د هغه وړو وړو قدمونو د پاپلي پل احساس به لکه چې زه د عرش منارو ته وخېژولم... دا احساسات ډېر د خوند وو. زما په سینه کې د مور یو ناقلاره زړه د خپل بچي په مینه درزېدو. زر مې پخپل زړه لاس کېښودو لکه چې زما په دواړو سینو کې د سپینو پیو لختي د اوس نه په چپو وو. د یو ښایسته وجود د لمس احساس به زه د ځان سره مسکۍ کړم. د جهاز د روانېدو اعلان وشو، دا جهاز یو وړوکی جهاز وه چې ډېره محدوده عمله یې لرله. په تور پتلون او تور قمیص کې یوې ښایسته پېغلې ټولو مسافرو ته هرکلی کولو. او یوې بلې د مسافرو راهنمایي کوله. جهاز پخپل وخت د الوت د پاره څانګونه خواره کړل او د شکاګو په لوري حرکت وکړو. ماسره خوا کې یوه غټه تورپوستې امریکنۍ ناسته وه چې په ټوله لار پخپل لېپ ټاپ یې سر داسې راځوړند کړی وه چې د دنیا نه بې خبره وه د شکاګوهوایي ډګر هم د پخپلو ښکلاګانو تر مخه هر نظر ځانله لکه د مقناطیس راښکلو. د مسافرو د ناستې پاستې ډېر ښایسته ځایونه لري. د جدید طرز یوه شانداره نمونه چې انساني نظر ورته اریان پاتې شي. خو وخت دلته هم د انتظار په سولۍ تېرېدلو. کله به مې د چا مخ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتلو او کله د چاـــ!! ټول مخونه نااشنا وو، د شپې اتنیمې بجې دوبۍ ته روانګي وه، د امریکې نه وتل هم په پل صراط تېرېدل دي، هم هاغه ستړیا هاغه په قطارونو کې ودرېدل او بیا د مېږي په قدم مخکې په قطارونو کې تلل. خو اوس زه د یوې پټې یا ښکاره کېمرې د سترګې نه نه ویرېدم ځکه چې ماته اوس بېرته تګ وه په دې وجه د ډېرو خوفونو نه ازاده وم. بس د دوبۍ پورې په ناسته سفر به مې په ملا کې دړد کړو. دلته د ډېرو میاندو سره واړه واړه بچې زما د سترګو مخې مخې ته کېدل. دا میاندې بچې په غېږه کله اخلي؟ د لاس په ورکوټي ګاډي کې يې روان کړي وو. په یو لاس کې خپل سفري رغړنده بېګ وي او په بل لاس کې ګاډی. ډېر مې زړه په هغه ماشومانو خفه شو چې د مور د غېږې په ځای په داسې ګاډیانو کې موسېدلي پراته دي. یوه ماشومه چې مور يې په قطار کې زما نه مخکې ولاړه وه، او دغه ماشومه يې په لاس ګاډي کې مخکې وړله، ماشومې ته ما په یو نېب ځیر ځیر کتل، هغې په خله کې د لاس کټه ګوته نیولې وه، او په یو مخ يې رولـه. د دې ماشومې سترګې چې زما د سترګو سره ولګېدې، په سترګو سترګو کې مې ورسره خبرې کولې، اوس هغې خپل دواړه لاسونه په مینه راوچت کړل، "ما واخله" او زما زړه وغوښتل چې یاخو په زمکه د دې ماشومې د ګاډي سره خوا کې کېنم او یا يې پخپله غېږه کې راوچته کړم. ما زر د خپلې کېمرې سترګه د ماشومې مخ ته برابر کړه. دا وخت د هغې مور په ما پوهه شوه. نېغ نېغ يې زما په تن لویې توري

(c) ketabton.com: The Digital Library



بورقعې ته وکتل، هغې زما په لاسو کې کېمره ليدله، په ډېره سنجيدګۍ يې راته ووئيل "تصوير مه اخله" او ماته داسې ښکاره شوه لکه زما د يوې لحظې نه د راپيدا شوي ارمان ما تېره چاړه راښکلې وي. ما زر خپله کېمره سمباله کړه، دلته دا يو قدم نوره مخکې شوه، زه هم د خفګان نه ډېره سنجيده شوې وم. زما توجه د لږ وخت د پاره د دې ښايسته ماشومې نه ګډه وډه شوه خو بيا مې ورته وکتل اوس هغه هم لږ سنجيده شوې وه، زر په خندا شوه لکه د سپړدي ګلاب وغوړېده، اوس ما خپله توجه قصداً د دې ماشومې نه ګرځوله. په دې دوران کې د هغې مور د ايمګرېشن کاونټر ته رسېدلې وه، زه يوه لحظه د هغې نه په فاصله ودرېدم خو ورستو راپسې د ولاړو خلکو قطارونو زه هممخکې تګ ته هڅولم. اوس د ماشومې مور د دې مرحلې نه تېره شوې وه او د يوې ګُټ پېرې نه پناه شوه. زه د کاونټر مخې ته د خپلو سفري کاغذونو سره ولاړه وم. يو يو کاغذ دغه امريکنيانو لټ په لټ کولو. او اخر ماته هم د مخکې تلو اشاره وکړې شوه، بيا په يو لوی لاونج کې زما ناسته وه، د دوبۍ د جهاز انتظار وه. او اخر هاغه شېبه هم راغله چې په مسافرو د جهاز د روانګۍ زېری هم وشو.

دا يو لوی جهاز وه د عملې غړي يې هم ګڼ وو. د جهاز د ايرهوستې په مرسته زه خپلې چوکۍ ته ورسېدم. په جهاز کې د مسافرو ګڼې ګونې، د ماشومانو د ژړاګانو غوغا اوازونو يو خاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېفیت جوړ کړی وه، د بېګونو سمبالولو درز دروز راته په سر دړد کړو، خو سیټونه یې هم داسې تنګ وو چې د دومره اوږدې ناستې سره به څه کوو ــ ما سوچ کولو ماته د وقاص خبره رایاده شوه چې "ته د خپلې بیمارۍ له سوبه په جهاز کې د خپلې طبعې چوکۍ غوښتلې شې، د داسې بیمار د پاره په جهاز کې څه سیټونه محفوظ ساتلی شي." چې د خلکو رش لږ په کمي شو نو زه د جهاز عملې ته راغلم او د یوې ایرهوستې نه مې په خواست د یوې داسې چوکۍ غوښتنه وکړه چې زما د پاره د ارام وي، خو چې څنګه مې هغې ته د خپلې رنځورۍ او حالت ذکر وکړو نو زما په دې خبره یو الغاو تلغاو جوړ شو. خبر د هوایي ډګر لوی سکیورټي افسر ته په وارلس ورسولې شوه، په ما خو سمه ایمرجنسي ولګېده. په یوه لحظه کې دغه سکیورټي افسر زما مخې ته ولاړ وه. "ته د څو میاشتو حملداره یې؟" زما نه یې ډېر په هیبت تپوسونه کول، ما ورته ووې د شپږو میاشتو!! وې ته راپاڅه او راځه. زر دو کسانو د لاسو ونیوم، لکه د مریض یې ورو ورو بوتلم، زه په دې نوي راپېښ شوي صورتحال سختې پرېشانۍ واخستم. دا په څه شر واوړېدم. هغه پخپل وارلس د دې واقعې رپورټ چا ته ورکولو. اوس د جهاز لویې دروازې سره د لارې په سر کې یو ویل چیئر زما د پاره راغوښتې شوې وه، خلك په منډو تررو وو، د جهاز الوت کې لږ وخت پاتې وه، زه یې په ارام سره په کرسۍ کېنولم او دوه کسان لکه د پهره دارانو مې په سر ولاړ وو. د هاغه سکیورټي افسر پرېشاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـم د کتـو وه. "تاسـره د دې خبـرې څـه ثبـوت دی چـې تـه د شـپږو میاشـتو نـاجوړه يـې؟" هغـه زمـا نـه تپـوس کولـوـ مـا ورتـه ډېر پـه اسـتقامت ووئيـل چـې ماسـره د خپلـې ډاکټـرې د معـائنې سـند (مېډيکل سرټيفيکېټ) پروت دی. هغـه ووئيـل "چرتـه دی؟" مـا ورتـه ووې زمـا پـه هاغـه لـوی بېګ کـې چـې زمـا نـه جمع کـړی شـوی دی. اوس هغه په وارلس سټ څه کسان راوغوښتل خو د هغه پرېشـانـي او حالت ډېر خراب وو. يـوه شـېبه پـس دوه زلمـي د ايرپورټ لباس کـې زما مخې ته ولاړ وو. خو هاغـه مشـر ډېر پـه ادب او شايسـتګۍ زمـا نه تپوسونه کول. ما ورته د خپل بېګ رنګ رغونه په ګوتـه کـړه. او زما حېرانتيا هغه وخت د کتـو وه کله چې لږ ساعت پس هاغـه دوو زلمو په منډه منډه زما بېګ راروان کړی وه. مـا د امريکنيـانو د دې وارخطايۍ نه ډېر خوند اخستو. په ځان مې هيڅ د پرېشـانـۍ اثـار نـه راپېدا کول. هغوي بېګ د پرانستو د پاره زما مخـې تـه کېښـودو. زړه کې مې له خدايه سوالونه کول چې که دغه وخت دا سند په لاس رانه شي نو زما حالت بـه د شك شي. اوس زمـا لاسونه هـم رپـېدل او اخر د نـورو کاغـذونو پـه لـوی فـايـل کـې دغـه سند او د ډاکټـرې يـو ورکوټی فايل موجود وه. زما حالت په سمي شو، هغـه زر زر رپـورټ کتو او بيا يې د اوکۍ سره ماته جهاز تـه د تلو اجازت راکـړو. اوس زه په ويل چيئر کې ډېر په مزه ترخپلې چوکۍ ورسولې شوم. ماتـه د يو قطار مخکني سيټونه ټول څلور په څلور د خصوصي توجه سره راکړې شول. مـا شـکر ادا کـړو چـې پـه يـو تنـګ سـيټ د دې دومـره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوږدې ناستې نه خلاصه شوم. په ارام مې پښې وغزولې، نرمې تکیه ګانې مې سر ته بالښت کړې، په ځان مې کمبل راخوره کړه او بې غمه مې ډډه واړوله. د جهاز شورېدو به لکه د ځانګو ځنګولم، خوب به یوړم او بیا به د ایرهوستېسې په غږ د خوبه رابېداره شوم. کله به د جوسو د ګلاس په لاس ولاړه وه او کله به یې ځانله خوراك راکولو. څه خوراك خو به د ټولو سره شریك وه خو څه به زما د پاره په خصوصي توګه راوړلی شو. نزدې ناستو مسافرو به راته ډېر په عاجزۍ کتل. د لرې ناستې نه پس به مې بیا پښې اوږدې کړې. وخت ډېر په ارام سره تېرېدو، د جهاز د عملې یو دنګ لوړ ښایسته زلمی چې د کراچۍ وسېدونکی وه، هغه ته زما د خصوصي خیال ساتنې هدایات شوي وو. کله کله به هسې راغلو زما نه به یې زما د طبیعت پوښتنه وکړه. دا سفر ډېر د مزې وه. چې جهاز د دوبۍ په بې شانه ښکلي هوایي ډګر خپل پړاو سرته کړو. اوس هاغه دنګ لوړ هلك زما نه رخصت اخستو. "مخکې هم د ځان خیال ساتۍ" د هغه په دې خبره راته ټوله پېښه بیا رایاده شوه.

دلته هوا لږه ګرمه وه.... خو د سمندري هوا خپله یوه مزه وي نو په چا بده نه لګېده. سترګې مې اوس د هر منظر نه مړې وې. بس د خپل کور او خپل وطن فکر اخستې وم او یا د پاتې سفرــ دلته هم د چا تله وو د چاراتله یوه لویه دنیا وه چې پخپله لمن کې یې ډېرې دنیاګانې ځای کړې وې. خو ما ځانله د ناستې ځای کتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړه کې ډېره په تسلی وم. اوس خو د هاغه لرې دنیا نه په خېر واپس راغلی وم. لکه چې خپل کور کې وم. په دې ډاډ مې د پاتې سفر د پاره ستړی وجود دمه کولو. دلته هم د تور سکني ماښام حسن د دوبۍ رڼاګانو ښکلی کړی وه. د شپې پاوباندې لس بجې د دوبۍ نه اسلام اباد ته تلل وو. د ټولو نه ښه خبره دا وه چې زما په ټول سفر کې یو ځل هم جهاز د خپل ټاکلي وخت نه ایسار شوی نه وه. پاتې وخت مې د دوبۍ د ایرپورټ په ښایسته لاونج کې تېرو چې په دې کې یوه ښایسته جینۍ د خپلو دوو بچو سره راغله او زما په څنګ کې کېناسته، د هغې ماشومانو خپلو کې پښتو کې خبرې کولې، زه ډېره خوشحاله شوم چې په نیویارك کې د نسیمې نه پس په دې ټول سفر کې دا پښتنه چې زما سره یې پېژندګلو هم شوې وه، اخر یې په پسته صوابي واله لهجه کې زما نه تپوس وکړو. "تاسو هم اسلام اباد له ځئ؟" ما ورته ووې هو! د اسلام اباد نه بیا خپل وطن او خپل کور کلي مردان ته ـــ! هغې پېښور ته د تلو ذکر وکړو، خپل نوم یې فرزانه راوښودلو، د تېرو پنځو کلونو نه په شکاګو کې وسېده، د واده نه پس سمدستي امریکې ته تلې وه.... او نن د دومره وخت نه پس په ورمبي ځل خپل وطن ته روانه وه. د کور کلي وطن او مئینو د لیدو تلوسې هغه هم ډېره ناقلاره کړې وه، د دوه نیمو کالو لور یې وه پلوشه او د غېږې بچی یې ننګیالی نومېدو، داسې ښکارېده چې د یوې سوچه پښتنې او نظریاتي کورنۍ سره یې تعلق وه، بیا یې پخپله هم ووې چې زما خاوند یو قام پرست پښتون دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلې پښتو او خپلې خاورې سره ډېره مينه لري، دا وجه ده چې د خپلو بچو سره په کور کې په پردۍ ژبه خبرې کول د هغه د طرفه په ما منع دي. زما بچي خپله سوچه پښتو وايي او په سکول کې مې لُور په انګرېزۍ کې ډېره کمزورې ده، د سکول نه يې هم دا شکايت راغلی دی خو د وخت سره به يې دا مسئله خپله حل شي، زه خوشحاله په دې يم چې د خپلې ژبې سره مې ساتلي دي. زه د دې پښتنې په دې جذبه او مينه ډېره خوشحاله شوم. هغې به هم خپله ګړۍ بيابيا کتله، بيا يې رانه په جهاز کې د تېرې پېښې تپوسونه وکړل، په خندا خندا مې ورته خپله قيصه وکړه، اوس د هغې لور پلوشه زما په غېږ کې ناسته وه. د مور سره يې څنګ چې زه پښتو کې په خبرو واورېدم نو د خپلې ژبې نسبت زما غېږې ته په ډېره خپلوۍ راوستله. فرزانې ماته ووې چې تا نه لويه غلطي وشوه، دغه وخت چې جهاز ستا د وړلو نه انکاري شوی وه، تاته به دلته د استوګنې موقع په لاس راغلې وه. د بچي زېږون به دې دلته شوی وه.... ماورته ووې چې زه په خپل بچي د خپل وطن هوا لګول غواړم. زما خواهش دی چې په خپله خاوره د ژوند د دې مرحلې نه تېره شم....!! هغې زما د خبرې سره اتفاق وکړو، پلوشې زمونږ خبرې اورېدې چې په دې کې ننګيال زر خپلې چاچۍ راوچتې کړې چې ما واخله ـــ فرزانې وخندل، وې وئيل چې "دې دواړو د مور او پلار نه پس په وړمبي ځل تاسو وليدی چې پښتو کې خبرې کوی نو ځکه يې په تاسو ډېره مينه راغله.!! پلوشې خو په لږ وخت کې ټوله د سکول

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسته ماته راپرانسته، خپل کتابونه یې راته وښودل. دلته هم په انتظار دا وخت ډېر ښه تېرېدو. اوس مونږ سره نزدې یوه ښایسته درنه خوږه د پوخ عمر مېرمن بله هم راغلې وه. دې په اردو ژبه کې خبرې کولې، خپل زوي د عمرې د پاره رابللې وه او واپس پاکستان ته روانه وه. د جهاز د روانېدو اعلان وشو، مسافر ټول راروان شو، فرزانه د خپلو بچو سره د هغوي په چال روانه وه.

زه او دغه بله مېرمن یو ځای روانې شو. دغه مشره ښځه هم ډېره مینه ناکه او ځیرکه مېرمن وه. په بورقعه کې پټ زما حالت یې اندازه کړی وه، زما یې ډېر خیال ساتلو، د صفا اوبو یو بوتل یې په لاس کې ، ساعت په ساعت یې ترېنه اوبه راکولې. د جهاز په پوړو هم زه د هغې په امداد ډېره په اسانه وختم. په جهاز کې زما د چوکۍ سره په خوا کې یو نارینه په دوېمه چوکۍ ناست وه. زما زړه یو ځل بیا په دې اتفاق تنګ غوندې شو. دغه مېرمن د لرې نه زما په پرېشانۍ پوهه شوه، خپلې چوکۍ ته یې هاغه کس ولېږلو چې په ډېره خاموشۍ او شرافت، خو څه په نازړه پاڅېدو، دغه مېرمن مې اوس په دې سفر کې ملګرې وه. دا عجیبه نظام دی نر اوښځه نه ګوري، خپل پردی نه پېژني خو یو ځای کېنوي. هغې په اوچت اواز د جهاز په کمپنۍ تنقید کولو. "یاد ساته چې کله درته په سفر کې داسې صورتحال مخې ته شي سمدستي د جهاز عملې ته وایه، چوکۍ مې بدله کړئ". داسې ښکارېده لکه چې داسې سفرونه د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېـرمن د ژونـد معمـول وه. هغـې راسـره د خـوږو خـوږو خبـرو سلسله شروع کړه. درې بچي يې په سعودي کې وو. هغوي يې په کال کې دوه درې ځله رابلي.. بيا يې يو دم په څهره د ډېر خفګان او پرېشانۍ اثار ښکاره شول. وئيل يې يوه نيازبينه لور مې په ډېرو لالچيانو خلکو کې واده ده چې اوس اوس مې ورسره په قانوني توګه د لور رشته خلاصه کړې ده، خاوند مې د لور د غمه د سرطان په رنځ ګور ته لاړو.. او زه د خپلې لور ځواني او بد نصيب په ژوند ژاړم. . اوس د هغې اواز د دې غم د لاسه د اوښکو د زوره ډك ډك کېدو. ماته زر خپله خور د دوو بچو سره رامخې ته شوه چې ټوله ځواني يې د تور نصيب په تور د پلار په درشل زړوي. خو شکر زمونږ په پښتنو کې د طلاق رواج ډېر نشته يوه تور سرې ټول عمر خپله ځواني د پلار او ورونو په کور زړوي. بيا مې د خدای شکر په دې ادا کړو چې خور مې په سکول کې باعزته روزګار لري، د امدن يوه ښه ذريعه لري، دوه ګلونه ببرك شاه او زرك شاه لري. زړه مې د داسې تور سرو په قسمت ډېر ودرېدو. زمونږ ټولنه چې د زغم او برداشت پکې ډېر کمی دی، په وړو وړو خبرو پکې لويې مسئلې رامينځ ته شي، ډېرې ځوانۍ خاورې شي، ډېر ارمانونه تالا شي، سر سري مې ورته د خپلې خور خبره وکړه چې لږه تسلي يې وشي، خو الميه يوه وه، غم يو وه، د هغې په سترګو کې د هغې د لور ځواني تار په تار پرته ښکارېده. اوس خو په دې طمعه وه چې د هغې د لُور د نصيب پورې تمبې يو څوك يو ځل بيا په خوشحالۍ وډبوي. ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت زما او د هغې ترمينځه خاموشي خوره وه، جهاز پخپل رفتار روان وه، کله کله به مو توجه په بل څه ښخه شوه خو واپس به بيا داسې د ډېرو تور سرو ايره شو خوبونو زمونږ په سترګو او څهرو خپلې ايرې بادولې. اخر د جهاز اسلام اباد ته د رسېدو وخت راورسېدو، په توره شپه کې په زمکه د بجلو بلو رڼاګانو زما توجه د وطن لوډشېډنګ ته راوګرځوله "شکر چې بجلي شته" زر مې سم کارډ په موبايل کې برابر کړو، د ناياب د موبايل شمېره مې برابره کړه، د ناياب خوبولى غږ مې واورېدو. ما سوچ کولو چې په ايرپورټ به زما په انتظار اوده شوى وي نو.... نو دا څه وو..... عجيبه غوندې صورتحال سره مخ شوم، هغه ووئيل زه خو کور يم، مونږ وئيل ته به سبا راځې...!!

اوس خو مې د پښو نه زمکه وتښتېده.... اُف! په دې توره شپه به کورته څنګه ځم...!! د چا سره به ځمه او په څه کې به ځم؟ زما په کپرۍ کې لکه چې چاودنې کېدلې. د ناياب په دې دومره بې غورۍ مې زړه ډېر خفه شو خو زر مې د هاغه ځاى او دې د وختونو حساب او فرق رامخې ته شو. دلته هاغه تاريخ به نن د نيمې ورځې نه پس بدلېدو او د ناياب خبره راته په دې دليل صحيح معلومه شوه. خو زما سر اوس هم چورلکونه خوړل. په موبايل مې د ناياب ډېر کالونه د مس کالونو په شکل کې پراته وو ولې چې په دومره ګڼه کې ما د موبايل زنګ کله اورېدې شو. اوس ناياب هم ډېر پرېشانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه، ته چرته په ارام کېنه زه درپسې ځان در رسوم. هغه ډېر پرېشانۍ کې وه.. ما ټېکسي کولې شوه خو زما د سيمې حالات داسې دي نو په داسې حال کې به په دې نيمه شپه ماسره تلو ته کله څوك تيارېدل؟ او دا خوف هم لکه د مچۍ مې په ذهن ناست وه "زه يواځې زنانه يم، د امريکې نه راغلې يم، د ډېرو خلکو به دا طمع وي چې ډېرې ډالرې به يې راوړې وي راشه چې......" دې سوچ رابانـدې غـوني زيـګ زيـګ کـړل. حقـه دقـه ولاړه وم اوس خو بس رڼايۍ ته مې انتظار وه، چې رڼا خوره شي نو کور ته به ځم. زه اوس غلـې يـوې خـوا تـه ولاړه وم. .... د سـحر تروږمـۍ مـې محسوسـول غوښتل... خو دومره رڼاګانې بلېدې چې د سحر رڼا پکې نه شوه ښکاره کېدې. اوس ما په يو مخ د خلکو تګ راتګ ته کتل... ډېرو مسافرو ته خپل مئين د هرکلي د پاره راغلي وو. زما دننه د دې محرومۍ په شدت سره سر راوچت کړی وه. کاش! نایاب هم زما د پاره په بې تابۍ ولاړ وی.. زه په دې سوچونو کې وم چې د شا نه مې په مټه چا وړه چاچۍ کېښوده. هني ګل...؟ او ما بې اختياره په دې غږ او لمس چې مخ وګرځولو نو د حېرانتيا نه مې سترګې وازې پاتې شوې، خديجې ته..؟ زما مخې ته زما د اينډرور لس کلنه لېورځۍ ولاړه وه... زه په دې عجيبه اتفاق ډېره حېرت وړې وم... په دې توره شپه دلته دا ماشومه څه کوي. چرته پېريان خو به نه وي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه شېبه رابانـدې بیـا وېښـتـه ودرېـدل. خـو اوس هغـې زر زمـا حېرانتیا ختمه کړه.. مونږ ارسلان بهایي ته راغلي یو هغه د کنېځا نـه راځـي، هغـې خپـل د تـره زوي یـادولو چـې دا وخـت د کنېځا نـه رارسېدونکی وه. تاسره نـور څـوك دي؟ مـا ترېنـه تپـوس وکـړو.... امجد کاکا.. هغې د خپـل کشر تـره ذکر وکـړو چې دا ماشومه ورتـه ډېره ګرانه ده. او ګرانه خو دا ماشومه ټول کور والـو تـه ده ځکـه چې پیدایشي توګه دا ماشومه د یوې داسې رنځورۍ د لاسه د مرګ او ژوند په نښته کې ګېره ده چې بدن یې خپله وینه نـه جوړوي، د ژونـد لـس کالـه یـې پـه پـردۍ وینـه سـفر کـړی دی... او دا ذمـه واري د امجدخان په غاړه ده چې دا به د وینې اچولو د پاره پېښـور تـه بـوځي او راولي. هم دا وجه ده چې د هغـې د نـاباوره ژونـد لـه سوبه په ټول کور هغه ګرانه ده. د هغې وړوکی نه وړوکی خواهش په نیمه شپه هم پوره کولی شي نـو پـه دې نیمـه شپه د امجد کاکـا سره راتلـل هم د هغې د یو ضد نتیجه وه. هرڅه چې وو دا زمـا د خپـل کـور خلـك وو، الله پاك چې د چا مدد کول غـواړي نـو غـائبانـه سوب یې جوړ کـړي. ما د خدای شکر ادا کړو چې په داسې حالت کې یې خپل د کور کس زمـا د مـدد د پـاره راپېـدا کـړو. پـه دې دوران کـې امجـدخان هـم د خدیجه په وېنا راغلی وه. زما څنګ ته په منډه رانزدې شو. هغه چې په دې وخت پـه داسـې ځـای کـې یـواځـې ولیـدم نـو حېرانـه خـو نـه شـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې چې زما د تګ راتګ نه خبر وه. هغه وئیل خبر به شي تاسو ته زه د ګاډي دروازه پرانزم.... لږ ساعت کې به ارسلان هم راځي، بیا به په ګډه ځو. نزدې د هغه التهو ګاډی ولاړ وه، زه یې په ورستو سیټ کېناستم. لږه شېبه پس امجدخان د خپل زلمي او مسافر وراره ارسلان سره رابښکاره شو.... اوس لږه رڼایي هم لګېدلې وه... کور کې ټول ډېر مطمئن وو. په دې دلچسپ اتفاق د ټولو زړونه مطمئن وو. ګاډي کې د دوو مسافروسفري بېګونو ډېره تنګي راپېدا کړه.. ما څوځو ځله امجد ته ووئیل چې زه اوس تلی شم ټېکسي به وکړم. خو هغه داسې کله منل، وئیل یې چې زړونه تنګ نه وي ځای نه تنګېږي. په لاره مې د ټولو خپلوانو ټیلیفونونه راتلل. زما په خبر رارسېدل د ټولو د پاره لویه خوشحالي وه. په موټروی دا دوه نیم ساعته لاره نن ډېره اوږده شوې وه... انتظار وه چې ګران شوی وه... خو بیا هاغه وخت هم راغلو چې ګاډی زما د کور کوڅې ته ننوتو، د کوڅې د سر نه مې د خپل کور د دروازې مخې ته نایاب په انتظار ولید،. ګاډی ودرېدلی وه. د وارث په څهره د خوشحالۍ او اطمینان یو نوی سحر ماته ښکارېدو. هغه زر د ګاډي هاغه دروازې ته رامنډې کړې چې زه ترې راښکته کېدم. او بیا په سترګو سترګو کې مو یوبل له په یوه لمحه کې د ډېرې اوږدې جدایۍ ډېرې قیصې وکړې..

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کور ټول غړي راته په دروازه کې د هرکلي د پاره ولاړ وو. ټول خوشحاله وو. زما د ښه او محفوظ سفر ډېرې دعاګانې یې غوښتې وې.. د سحر ناشته او چایې...اُف څومره د خوند وه.. د ستړیا احساس څه هم که د خپل وطن غېږې رانه اخوا کړی وه خو بیا هم د کور والو په خواهش چې ته ارام وکړه. لوی سفر دې کړی دی...!! د خپلې کوټې سکون او خپل کټ پوزي مینې ډېره جذباتي کړم.. خپل کټ لکه د مور د غېږې تار تار... ذرې ذرې راټوله کړم... او بیا په دغه ورځ چې تور ماښام ژوند په خپلو زلفو کې راټولولو.... زه لکه چې د یوې نوې ورځ اغاز د خوبه رابېداره کړم... د ستومانۍ هر لباس مې د تنه غورزېدلی وه. د ارام او راحت د خوشګوار احساس سره د خپلې کورنۍ د غړو مینځ کې ناسته وم، ټول رانه په مینه چاپېره وو. زما د سفر روداد ټولو په ډېر غور اورېدو.. ماته خپله مرګانه ترور بیا مخې ته ودرېده زړه مې غوښتل چې په وزرو ورله والوتې.... خو د کور یو کس هم ماته د هغې ذکر ونه کړو. خو پخپل زړه کې یوې د غم ناقلارۍ ماته ګواهي راکوله...لکه چې....!! د دې نه وړاندې چې کوم حقیقت مخې ته لکه د تورې بلا ولاړ وه. هغې ته بیخي نه وم تیاره ــ د ورور نه مې تپوس وکړوــ بي بي څنګه ده...؟ هغه یوه لحظه ساوی شو... ښه ده.. بیا یې ډېر په کلکه ووئیل... زما زړه کې هسې یو شك ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیولی وه... اوس کور کې د مېلمنو د تلو راتلو سلسله ونختته ... ماته د هرکلي د پاره راتلل. اوس زما ټوله توجه خپلې ناروغۍ ته ګرځېدلې وه. د ډاکټرې د معائنې ترمخه ماته د ګوتو د شمېر څو ورځې پاتې وې خو موسم او ګرمۍ سم زور کړی وه. د ټولو دا خیال وه چې د سفر نه پس یوه معائنه بیا پکار ده. خو د ګرمۍ له سوبه مې ډاکټرې ته د تلو هډو تاب نه لرلو. اوس خو لږه ویرې هم اخستې وم. د ماشوم د اپوټه والي حالت د شپږمې میاشتې راسې وه. د دې صورتحال سره د لوی اپرېشن امکان هم وه. ذهن مې ګډ وډ وه خو د ماشوم د راتلو خوشحالۍ د لېونتوب او مینې په اسمانونو ګرځولم. د ښځې په ژوند کې د "عمل" دا تجربه چې د ښځې د ذات او وجود تکمیل کوي، د هغې د هستۍ او ځنې ډېر نیمګړتیاوې لرې کوي، د خپلې هستۍ د تکمیل احساس زه هم ناقلاره کړې وم... په کور کې د نوي ماشوم د راتلو ټولې تیارۍ مشرانو پخپل سمي برابر کړې وې، ډېر روایتي دودونه، دستورونه ترسره کېدل، وړې وړې، پستې پستې جامې جوړولې شوې. کله کله به مې دا ورکوټی قمیصګی د خپلې سینې سره جخت ونیوه. د هغه د ګرېوان نه به د اومو پیو یوه کاواکه خوشبویي بې اختیاره راولاړه شوه. زړ به مې پرې دواړه شونډې کېښودې... سترګې به مې د ژوند په دې نااشنا احساس درنې غوندې شوې چې د یو ټوزپ سره به بیا یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومې زندګۍ د خپل وجود دننه د مینې او ژوند احساس راکړو... اوس به مې سترګې ښې پټې کړې... په غېږه کې به مې ښکلی ماشوم اوده پروت وه. هم هاغه قمیصګۍ به یې په غاړه وه. د پیو د هاغه خوشبویۍ سره... زر به د خیال امېل دانه وانه شو. لاخو هغه ماشوم زما د وجود دننه په پټه دنیا کې وړې چاچۍ پاپۍ وهلې، لاخو یوه لویه پرده زما او د هغه مینځ کې دېوال وه....

زما د راتلو څو ورځې شوې وې چې یوه غرمه زما خوابنې مور په ډېره طریقه او مینه زما سره جخته کېناسته، ورو ورویې یوه خبره راواخسته، زما زړه بې واره بې واره په درزېدو شو. کله کله به غلې شوه... ما د هغې مخ ته په یو مخ کتل. زه نه پوهېدم چې دا ماته څه وايي... لورې! بي بي دې...!! هغې خبره نیمګړې پاتې کړه او ما د هغې د نیمګړې خبرې معنې پخپله وپېژندې. یوه چغه مې کړه... او بیا د کور ټول لوی واړه زما خوا کې ناست وو. ستا طبیعت ښه نه دی.. ګوره! دعا ورته کوه. نایاب زه په غېږ کې نیولې وم. او په ما خو لکه چې رڼا ورځ توره تیاره شوه. دا کله؟ ورو شانې مې په ژړا د هغه نه تپوس وکړو... په ۲ مئي... اُف! په دغه ورځ خو ما د نیویارك د ښار سپلونه کول..!! بیا مې په زوره زوره ژړا ته ګوتې کړې.. د کور خلك ډېر پرېشانه وو. ډېر وخت مې د هغې غم وژړلو. اوس زما خیال وه چې زر د هغې د ګور خاورې ښکل کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا مې د تلو نېټه وګرځوله. د نایاب خیال وه چې بیا ستا به په دې حالت کې تلل ګران شي خو د غم خبره وه نو تګ ضروري هم وه. د ترور د غم د فاتحې د پاره اوس زه رارسېدلې وم. خو اکثر داسې غم زر زوړ شي چې مریض ډېر اوږد وخت په مرګانه حالت کې په کټ تېر کړی وي... د ټولو حوصلې ورته برابر وي. دغه هرڅه ما د خپلې ترور د اولادونو په څهرو لیدل. زما په چغو او ساندو د هغوي سترګې نمژنې شوې خو زر یې زه کېنولم د حوصلې غږ یې راته وکړو خو ما بیا بیا هاغه ځای ته کتل چرته چې مې د ترور کټ پروت وه، د هغې نښتي فریادونه مې اوس هم غوږونو ته راتلل، د هغې پټې ورغلې سترګې مې په سترګو کې وې. ډېر ساعت مې تېر کړو او بیا د خپل پلار لیدو ته پلار کره لاړم. ټول زما په خبر سره په راستنېدو ډېر خوشحاله وو. د ترور بي بي د مرګ ټول حال احوال راته خپلې ورندارې تېر کړو. دلته د یوې شپې د پاره زما ایسارتیا وه. وخت ډېر ښه تېر شو ورنداري مې د روغې ښتې او خوشحالۍ ډېرې پېرزوئنې زما په سر امبار امبار کړې راولېږلې. اوس د ډاکټرې نېټې ته شپږ ورځې پاتې وې..

نن غرمه ډېره سره وه. د کور په برنډه کې د غرمې د ارام د پاره په کټ کې اوده وم. د خپل ماشوم راتګ مې د خیال په شیشه بیا لکه د فلم لیدو. لاس مې ناڅاپي خپلې خېټې ته وروغزېدو....

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو نن مې هیڅ ټوپ ترپ او حرکت محسوس نه کړو. زر مې خپل اړخ بدل کړو، اوس مې مخ دېوال ته وه او بل لاس مې په خېټه خو هیڅ ترپ نه وه. .. زما دننه یوه ویره راولاړه شوه... دا ولې؟ مخکې خو به داسې نه وو. دې پرېشانۍ ډېره ګډه وډه کړم او دا فېصله مې وکړه چې نن مازیګر خپلې ډاکټرې ته ځم. مازیګر نایاب ډاکټرې ته بوتلم، ډاکټره زما په لیدو ډېره خوشحاله شوه. زر یې د الټراساونډ د پاره څملولم. او بیا یو دم هغه په هېبت شوه.... لکه چې څه ورته ټك ورکړی وي. ... دا ولې؟ زه د ډاکټرې د مخ ګډو وډو تاثراتو په هېبت کړم.... اوس ماته یقین وشو چې هاغه شك صرف زما شك نه وه. ډاکټره اوس د ګمان د حد نه د یقین لرې مېدان ته تلې وه... هغه اوس هم غلې وه، زه یې د خپلو لاسو په امسا راولاړه کړم.... زما خله بیخي وچه شوه د خبرې د پاره مې ژبه په خله کې ډېره واړوله راواړوله خو ژبه مې لکه د لرګي کلکه شوې وه. ... اوس ډاکټره فکرمنده پخپله کرسۍ ناسته وه... او زه د هغې خوا کې د مریض په چوکۍ ــ!! ماته یې ډېر په افسوس کتل.. دا دې څه کړي دي...؟ اخر هغې هم مړه حوصله راژوندۍ کړه او مانه یې تپوس وکړو. ... څه چل دی...؟ ما ترې غلی شان تپوس وکړو.. ماشوم ساه نه اخلي...!! او د ډاکټرې په دې وینا اوس زما مرۍ غنې غنې شوه... یوه لحظه دواړه غلې ناستې وو. بیا یې یو ځل د الټراساونډ د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابر... کړم اوس ما خپلې سترګې پټې کړې وې... د ماتو شیشو تېرې تېرې ذرې مې پخپلو سترګو کې لکه د ازغو چوکه کېدې.. ورو... ورو.. د سترګو نه مې اوښکې راتوې شوې... ډاکټرې زما د قمیص لمن زما په خېټه راخوره کړې وه.....!!

تاسره نور څوك راغلي دي؟ ډاکټرې تپوس وکړو.. زما خاوند...!! ما لنډ جواب ورکړو. ماسي ته ورشه د دې خاوند ته حال ورکړه.. هغې ولاړې دايي ته ورو شان ووې. نه زه پخپله ورځم.. ما د ژوند دانه وانه حوصله په ځان کې رایوځای کړه. د کلینك لویې دروازې ته بیخي مخامخ نایاب ولاړ وه. په موبایل یې خبرې کولې.. خبر خو دی؟.... هغه چې زما حالت ته وکتل نو لکه چې زما درنو درنو قدمونو هغه ته د خطرې څه انګازه تر غوږو کړې وه... بس خپل نصیب راورسېدو... زه هغه ته بې اختیاره ترغاړې وتم. زما د سترګوبندونه وشلېدل. د خپلو اوښکو په سېلاب کې د هغه په اوږه سر ایښودی په ولاړه ولاړه ډوبېدم.... د هغه د مخ تاثرات مې نه شو لیدلي خو د هغه په بدن کې نوي "رپندي" د هغه د وجود دننه د لړزېدلي طوفان حال راکوه. ګېر چاپېر ډېر خلك ولاړ وو. د هر نظر د لپو نه بلها سوالونه راتوئېدل. ته چپ شه حوصله وکړه... هغه زما دا حالت سمول غوښتل.. خو په ما دنیا نسکوره وه. د یو یو ارمان نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې ساه وتلې وه. په خالي مېدان تش لاس ولاړه وم.... د خپلې بقا جنګ مې په ډېر لوی تاوان بائیللی وه.

سبا سحر وختي به د ډاکټرې په وېنا زه بیا راتلم او دلته به د ماشوم د زېږون د عمل نه تېرېدم.... اوس نایاب په فون کور ته اطلاع کوله.... د وارث په دې خبره په کور کې د غم یوه غوغا جوړه شوه. هغه زر د موبایل د بندو بټن زور کړه ــ خپلې شونډې یې د شدید درد او کرب نه په غاښونو وچیچلې... سترګې یې بندې کړې... خو زما سلګو هغه بیا راسم کړو... "ته حوصله وکړه" ما خو هم د هغه کېفیت لیدلی وه.... او ته.. زر مې ترېنه تپوس وکړو... زه سم یم.. هغه خپل ځان بیا بیا سمولو... کور کې مړی نه وه ویر وه. ټول مئینان رانه راچاپېره شول.... سترګې وې چې سمندرونه یې توئیول... زما لاس پښې داسې بې دمه وو لکه چې زما دننه دې ورکوټې "وجود" سره زما د وجود او ساه سره یې زما د ساه نظام تړلی وه. لکه چې اوس زه هم پخپلو پښو نه شومودرېدې.... خو ماته ژوند کول وو، د خپل مئین د ژوند د ملګري د پاره، چې اوس یې زما د سر صدقې منلې وې. د خپل بچي د مړینې غم یې چرته په یو ګوټ کې غلی کړی وه. زما د تسلۍ د پاره یې یوه نوې حوصله راپېدا کړې وه. زما ټولې اوښکې یې په مینه څښلې. ګوره! ماته ستا ضرورت دی. ټوله شپه یې ما سره په ویښه تېره کړه او زما په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هاغه غم یې د مینې ملهم کېښودل، کوم چې ما د خپلې هستۍ او نېستۍ په جنګ کې موندلی وه. د کور ماحول لکه د یو بائللي جنګ د مېدان په شان سوړ سمخ وه. هرې څهرې د غم د تصویر رنګ اخستی وه. هرې سترګې ډېرې اوښکې توې کړې وې، هر یو ځانګ، هره وزر د هاغه خوشحالۍ په رانیو زخمي زخمي وه.... د دې سحر د نمر پلوشې هم لکه د یوې رنځورې څهرې زېړې زوالې وې. د کور مشران په ډېر غم کې د هاغه نوي مېلمه په راوستو پسې روان وو چې د یوې تیاره نه بلې ابدي تیاره ته روان وه. نن د ژبو رګونه لکه چې اوچ شوي وو. شونډو تمبې پورې وې چا کلکې تړلې وې، د سترګو نیمې پټې نیمې خلاصې کړکۍ هم تیاره تیاره وې... د امید بله ډیوه پکې نسکوره پرته وه، لکه چې د یوې ساه تېز پوکي وژلې شوې وه، هر انګڼ یې تیاره کړی وه. د ویرې اثار د هرې څهرې نه ښکاره وو، اوس د یو بل ژوند د سلامتیا د پاره هره لپه دعا دعا وه، ګاډی یو ځل بیا د ډاکټرې د کلینک مخې ته ولاړ وه، چرته نه چې څه وخت وړاندې دغه پټ مخ ماشوم مونږ ته د خپل شته والي زېری راکړی وه، په هاغه ورځ دلته دا ټول څومره خوشحالي وه...؟ امبارك شه، ته احتیاط کوه او نن د مرګ خاموشي وه... لکه چې د ژوند د ژوند ساه وتلې وي اوس ډاکټرې د ډېر افسوس سره زما د ښه کېدو تیاري شروع کړې وه. د مړ ماشوم په قدرتي توګه د پېدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو عمل ډېر د خطرې او پیچیده وه. ټوله ورځ ډېره په کړاو تېره شوه. نه دعا کار کوه او نه دوا څه اثر لرلو.... ډاکټره هم فکرمندۍ اخستې وه او اخر په دې صلاح شوه چې اوس د لوی اپرېشن د پاره د ښار لوی شخصي هسپتال ته تګ پکار دی، د خطرې دېوان مخې ته ولاړ وو. ګاډی لکه چې چا په هوا روان کړی وه. زما وجود اوس بیخي بې دمه وه. ولې چې د وجود وینه مې د تلاونو په شکل کې ضایع شوې وه.د ډاکټرې تجربه کارې دایي چې زما حالت ته وکتل نو چغه یې کړه... زر ځئ....!! او په دې هیبتي چغه زه د نیم بې هوشۍ په حالت کې د حالاتو په نبض ورسېدم، زما د سترګو مخې ته که هراخوا د شپې تیاره هم وه خو ماته داسې ښکارېده لکه چې دې تیارې زما وجود او زړه پخپل تور موټي کې کلك رااېسار کړی وه. لحظه لحظه مې پخپله مرګ یو زور محسوسولو. خو د دړد یوې ناقلاره څړیکې به زما حالت بدل کړو. د زمان هسپتال د لویې دروازې مخې ته غټ سټرېچر زما د پاره تیار ولاړ وه.... لږه لحظه کې د هسپتال کسانو په هوا وړلم او زما د کور زنانه او نارینه په هیبت په ماپسې په منډو وو. اوس په یو لوی خونړې اپرېشن تهیټر کې ما سترګې غړولې نو.... زما وجود د یو لوی اړې ګړې او سخت ازمېښت نه تېر شوی وه. لاس مې په خېټه پروت وه خو د ژوند هاغه لویه خوشحالي ترېنه لکه د هوایي مارغه الوتلې وه. خپل لږ هېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی غم مې بیا رایاد شو، لکه چې د دردونو د خوبه راپاڅېدلې یم. ماته زما د لرمون خلا مخې ته وه.خو بیا هم د یو نوي پیدا شوي ماشوم د ژړا اواز مې بیا بیا غوږونو ته راتلو.. اوووان.... اووان...!! ما زر د ټولو مخونو ته وکتل... چې څوك راته ووايي امبارك شه.... او بیا هم هاغه شان وشول، زما خور ورو شان زه په تندي ښکل کړم.... خپله روغه ښته دي امبارك شه....!! هغې هم د ډك ستوني سره دا خبره وکړه. د غم نه مې سترګې بیا پټې کړې.... اوس هاغه ډاکټره هم مسکۍ ولاړه وه... ښه ده چې ستا ځان و ژوند بچ شو....!! عموماً په داسې حالاتو کې د مریض د پاره دا د هر چا یوه تسلي وي... خو زما زړه او سترګې لکه د جام راډکې شوې وې... ماته داسې ښکاره شوه لکه چې د ژوند او وجود په دې سفر کې مې هرڅه له لاسه ورکړي وي.... د هسپتال لوی کټ ته مې بیا پام شو... زما سره خوا کې په ابدي خوب اوده زما د وجود هغه برخه پټ مخ یخ پخ، غلی قلار پروت وه. زما هاغه همسفر چې د لسو میاشتو په دې سفر کې پناه مخ زما د ژوند د لسو میاشتو د سفر زما ماشوم رهبر چې په دې ټول سفر کې یې ماله لحظه په لحظه د خپل وجود برابر احساس راکړی وه. د خپل قسمت په زور یې زه د دنیا لرې سر ته په کامیابۍ ورسولم... خو بیا یې د خپل غم په صحرا کې یك یواځې پرېښودم.... ما په رپیدونکو لاسو د هغه په مخ خور کړی څپوټکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخوا کړو. د هغه راتګ هغه هم زخمي کړی وه. په مخ او تندي يې د زخمونو احساس زما په زړه چړې ښخې کړې. زر مې پخپل زخمي زړه لاس کېښودو... سترګې مې بيا پټې کړې او دغه وخت د پټو سترګو په شا مې دوه نرۍ نرۍ شونډې وخوزېدې... لکه چې په وړه ژبه خبرې کوي... ماته ستا په څنګ کې هاغه سفر ډېر خوند راکړی وه... زه اوس په سفر مئين شوی يم په يو لوی سفر...!! او د دې ګنګوسې په اورېدو مې هاغه راټول کړی سپين د ململ څپوټکی د هغه په مخ بيا خور کړو.... اوس هغه د ټول عمري سفر د پاره بيخي تيار وه.... او دلته زما سفر د هستۍ نه تر نېستۍ سفر د اختتام پړاو ته رسېدلی وه.

و تمت کليمة بالخير

(c) ketabton.com: The Digital Library




وقاص خواجه، فهمیده ریاض، او حسینه ګل- په نیویارک کې د هوټل مخی ته





په نیو یارک کې د دستورې نه مخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ایشیاء سوسایټۍ نیو یارک په دفتر کې




د ایشیاء سوسایټۍ دفتر

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ایشیاء سوسایټۍ دفتر




په نیو یارک کې د دستورې پر مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library




د نیو یارک د دستورۍ یو بل عکس




په ستیج ناسته فهمیده ریاض او حسینه ګل وقاص خواجه د وینا پر مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library




په نیو یارک کې غونډې ته د وینا پر وخت، حسینه ګل




د غونډې نور ګډونوال

(c) ketabton.com: The Digital Library




**د ایشیاء سوسایټۍ یو رابطه کار، وقاص خواجه حسینه ګل او فهمیده ریاض**




**ددې دستورې یو بل عکس**

(c) ketabton.com: The Digital Library




**فهمیده ریاض  د وینا کولو پر مهال**




**د ایشیاء سوسایتۍ مشره رچل کوپر د خطاب پر مهال**

(c) ketabton.com: The Digital Library




د پوښتنو او ځوابونو پر مهال




د غونډې نور ګډونوال د پوښتنو پر مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library




د کتاب د پلورلو پر مهال




د فهمیده ریاض  د کتابونو خرڅېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library




زما د ناول ملكه بې ارزي




په نيو يارک کې د اردو ژبې له ليکوالو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library




افتخار نسیم وقاص خواجه فهمیده ریاض او حسینه گل د دستورۍ نه پس




هم ددۍ وخت یو بل عکس

(c) ketabton.com: The Digital Library




**خدای ببنلی افتخار نسیم او وقاص خواجه**




**فهمیده ریاض وقاص خواجه او حسینه گل، په نیو یارک**

(c) ketabton.com: The Digital Library




نيو يارک کې د سمندر د سيل پر مهال




د سمندر د غاړې يو بل عکس

(c) ketabton.com: The Digital Library




**د سمندر د غاړې يو بل عکس**




**د نيو يارک د سمندر د غاړې يو بل عکس**

(c) ketabton.com: The Digital Library




**کشتۍ کې د کیناستو نه وړاندې**




**یو بل عکس**

(c) ketabton.com: The Digital Library




**په کشتۍ کې د ناستې پر وخت يو عکس**




**د کښتۍ په اخري منزل کې د ناستې پر مهال**

(c) ketabton.com: The Digital Library




**یو بل ښکاره عکس د نیویارک سمندر**




**د نیو یارک د ښار ننداره د کشتی د اخري منزل نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library




د سمندري هواګانو په تېل نا تېل کې




یو بل عکس د سمندر د غاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library




راغلې سيلګر، او زه




د ښار يو بل منظر د سمندر نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیو یارک ښار د کشتۍ سیل او سمندر غاړه



د سمندر چکر د بلې غاړې سفر

(c) ketabton.com: The Digital Library




د بلې غاړې سيل




زه او پيني اوجيده

(c) ketabton.com: The Digital Library




**د اخرى منزل يو بل عكس**



**د سمندر غاړه نيو يارک**

(c) ketabton.com: The Digital Library



افتخار نسيم،ثمينه قريشي،حسينه ګل،فهميده رياض،پيني اوجيده،وقاص
خواجه او کوربنه ډاکټر عذرا رضا



ثمينه قريشي، حسينه ګل، او فهميده رياض

(c) ketabton.com: The Digital Library




**عذرا رضا وقاص خواجه**



**په هوستن کې د وقاص خواجه سره د یوې مرکې پر مهال**

(c) ketabton.com: The Digital Library




# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (غلام نبي فراهي) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا ددې اثر له لیکوالې او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې ددې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لیکوالې چاپ شوي اثار

شپون، شپول، شپېلۍ (شعر)

خو ته خبرې کوه (شعر)

دا هم هاغسې موسم دی (شعر)

افضل افضل شوق (تنقید)

له مانه مه بیلېږه (شعر)

نېمګړی کتاب (لنډې کیسې)

ملکه (ناول)

خپل اواز له تا نه اورم (شعر)

ته له ما څنګه یې جدا؟ (شعر)

## د چاپ لاندې اثار

وختونه (ناول)

د اوښکو مارغان (لنډې کیسې)

په لاره خم تړوله څنګېږم (یونلیک)

## ناچاپه اثار

کله کله (شعر)

اوس بیا څمه (د کابل یونلیک)

د خپرونو لړ: ۳۲



سیده حسینه ګل

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**